

د وردګو د کلتوري یون د غازي بابا د کتاب چاپولو لړۍ

۱

دوردګو کلتوري یون
Wardags Cultural Association
۱۳۸۷




# وردګ

## (قوم، سیمه او کلتور)

لیکوال: څېړنیار محمد حامد حلیمي

Ketabton.com

کال: ۱۳۸۷ هجري لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د وردګو د تاریخ لیکنې د ځنځیر لومړۍ کړۍ

## د کتاب پیژندنه:


د کتاب نوم: وردګ (قوم، سیمه او کلتور)

د لیکوال نوم: څېړنیار محمد حامد حلیمي

کمپوز او ډیزاین: حلیمي

د چاپ کال: ۱۳۸۷ هجري لمریز – ۲۰۰۸ زیږدیز

د چاپ ځای: د بهیر چاپخونه، کابل – افغانستان

د چاپ زیار: ګل آغا احمدي وردګ

تیراژ: ۱۰۰۰ ټوکه



د اړیکو شمېره: 0093 (0) 799 221 522

بریښنالیک: haleemihamed_786@yahoo.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اهدأ

**دا اثر ټولو هغو افغانانو ته په ډیره مینه ډالۍ کوم چې د هیواد آبادي او د خلکو خدمت یې د ژوند له سترو موخو څخه دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړ ليک


تقريظ – څېړنپوه ميرسيد احمد ګوربز ........................................ الف

تقريظ – استاد زبير شفيقي ..............................................ج

تقريظ – څېړنوال نصرالله ناصر ........................................ ه

تقريظ – څېړنوال الحاج سيد محی الدين هاشمي ............................ی

سريزه – ګل آغا احمدی وردګ ........................................ل

مننه او څو خبرې ..................................................س

وردګ د انساني ټولنې په اوږدو کې ....................................۱

د وردګ کلمه د تاريخ په پاڼو کې ......................................۸

د وردګو ستر او ميړنی ټبر..............................................۱۳

د وردګو لرغوني او اوسني استوګنځايونه.....................................۲۰

د وردګو سيمه او ولايت..................................................۲۶

د وردګو ولايت اداري شاليد ته يوه کتنه.....................................۲۷

د وردګو ولايت ځينې ولسوالۍ، درې او کلي....................................۲۹

د وردګو د ولايت واليان..................................................۳۵

د وردګو د ولايت د ځينو سيمو د نوم ايښودلو فلسفه............................۳۷

د وردګو ولايت تاريخي سيمې................................................۴۱

د وردګو د ولايت مشهور زيارتونه...........................................۴۴

په وردګو کې کرنه او مالداري...............................................۴۶

د وردګو اقليم او سيندونه...................................................۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د وردګو د ولايت لارې................................................۴۸**
**د وردګو ولايت د ښووني او روزني حالت..................................۴۸**
**د وردګو په ولايت کې روغتيايي آسانتياوې...................................۵۴**
**د وردګو د ولايت فرهنګي حالت.........................................۵۵**
**د وردګو ځيني مشهور دودونه ..........................................۶۱**
**لومړۍ ضميمه – په وردګو کې د پرمختګ لارې چارې ...........................۸۲**
**اخځليکونه ..............................................................۱۰۰**
**وردګو ته ډالۍ.........................................................۱۰۶**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لوی څېړنتن په سپېڅلی نامه

د څېړنیار محمد حامد حلیمي د وردګ(قوم، سیمه او کلتور) په نامه کتاب چې د تقریظ له پاره یې ماته راکړی و، ولوست. کتاب په عمومي توګه درې برخې لري: د وردګو د قوم لرغونې برخه، دویمه د وردګو د ولایت او دریمه برخه یې د وردګو د قوم اتنوګرافۍ برخه ده.

څېړنیار محمد حامد حلیمي په درو واړو برخو باندې ژوره څېړنه کړې ده، په لرغونې برخه باندې یې څېړنه ډېره ګټوره ده، زه فکر کوم چې تر اوسه پورې به د وردګ په کلمه باندې چا داسې ګټوره څېړنه نه وي تر سره کړې، د زیاتې څېړنې په بهیر کې د وردګ د کلمې لرغونتوب د ویدونو زمانې ته رسوی او یو ځای د وردګ د کلمې په هکله لیکي:(د وردیکا او برسایا وردګ برېښې کلمې په ویدونو کې راغلې دي، د ویدونو زمانه د حضرت عیسی د زوکړې نه دوه زره یا دوه نیم زره کاله پخوا ده او دا غالباً په تاریخي اسنادو کې د ویردوک یا وردک تر ټولو لرغوني یادونه وي. د اوستا په پاڼو کې د اریانا ویجه د شپاړلس سیمو یادونه شوی ده چې په هغوی کې اوومه د ویردک یا وردک په نامه یادیږي).

دوهمه برخه یې د وردګو د ولایت برخه ده، چې د امیر شیر علیخان، امیر عبدالرحمن خان ، امیر امان الله خان او تر اوسنۍ زمانې پورې د وردګو په تشکیلاتو باندې یې رڼا اچولې ده. د وردګو ولایت جغرافیایي او د ولسوالیو موقعیت ته تم شوی او همدارنګه دوردګو د ځینې تاریخې سیمو په هکله او د دای میرداد، جغتو او ځینې نورو کلمو پر تاریخي شالید باندې غږیدلی دی. د تاریخ په اوږدو کې د وردګو د ولس مختلفو سیمو ته په لیږدیدنو او د وردګو د میشت ځایونو په برخه کې یې هم په زړه پورې او ښه معلومات وړاندې کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريمه برخه يې دا ده چې د وردګو پر دودونو، رسم او رواجونو او نورو برخو کې ګټور معلومات وړاندې کوي چې د لوستونکو او څېړونکو له پاره په ښه ورځې. زه د دې ترڅنګ چې د ښاغلی حليمي دا اثر ډېر ارزښتمن ارزوم، د چاپولو هيله يې لرم تر څو ګټه يې عامه شي.

په درنښت

څېړنپوه ميراحمد ګوربز

د افغانستان د علومو اکاډمۍ

د ژبو او ادبياتو د مرکز علمي غړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پردې اثر څو ټکي

د وردګو د قوم په تاریخي شالید د ځوان لیکوال محمد حامد حلیمی دغه اثر په رېښتیا چې په خپل نوعیت کې بې ساری او نوی اثر دی. ما چې د پښتنې قبیلو کوم آثار لوستي او یا مې له نظره تیر شوي دي، د ښاغلی حلیمی په دې ښکلې اثر کې پر هغو حواله ورکړې شوې ده، لیکوال د شاتو د مچۍ په څیر په ډیرو ګلونو راګرځیدلی او شیره یې ترې راټوله کړې ده، طبعاً دومره دروند کار ښه حوصله، ذوق او مینه غواړي.

د وردګو د تاریخي قوم او ولایت په باب دغه اثر له همدې لامله یو ځانګړی ارزښت لري لږ تر لږه ښاغلي حلیمی نورو لیکوالو ته مخه خلاصه کړه، لومړی ګام یې پورته کړ، داسې ګام چې تر اوسه پورې نه واخیستل شوی، دغه کتاب د تاریخي شالید په اړه تر ډیره حده بشپړ دی، البته له دې یادونې سره چې د دې قوم تاریخي شخصیتونه چې د ګران هیواد دتاریخ په کوم پړاو کې هغوی یو نه هیرېدونکی رول درلودلی وي که لیکوال ته ممکنه وی باید یاد شوی وای یوازې د ستر غازی محمد جان خان سرسري یادونه کافي نه ده، د غازی محمد جان خان له لنډ ژوند لیک نه تر کریم خان، د لنګر آخوند زاده نومیالي یادېږي که په لنډه ډول معرفي شي د دې اثر ارزښت به دوه چنده کړي باید یادونه وکړم چې دا کمزوري نه بلکې یوه تنده ده چې ما د دې اثر په لوستلو کې احساس کړې ده، کېدای شی دغه خدمت بل لیکوال یا په خپله حلیمی په بیل اثر کې وکړي. په هر صورت زما په نظر د وردګو د تاریخ په اړه دا لومړی اثر دی چې هېڅکله هم لومړی ګام بشپړ او له کمیو خالی نه وي.

له تاریخي شالید وروسته د وردګو ولایت د اوسني پېر په اړه ما ښاغلي حلیمی ته یو څو شفاهي مشورې ورکړې که یې د منلو او پلی کولو وخت او شیمه ورسره وي ښه تر ښه که نه بنده پر وس پړ دی. البته مشوره اړینه بولم چې که چیرې د وردګوولایت د ښوونې او روزنې او تعلیمي بهیر په اړه د الحاج مدیر شریف خان له مالوماتو ګټه واخلی د دې اثر په بډاینه او ثقه توب کې به ډیر ګټور وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پای کې ښاغلی لیکوال محمد حامد حلیمي ته د دې ستر خدمت مبارکی وایم او له ستر پالونکي څښتن څخه يې خپل ولس او هیواد ته د ښو خدمتونو جوګه غواړم.

په مینه او درنښت

محمد زبیر شفیقی د ۱۳۸۷ لمریز کال د تلې ۱۵ مه،

کابل پروان مینه د ویسا ورځپاڼې دفتر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وردګ (قوم، سیمه او کلتور)

دا د هغې رسالې نوم دی، چې ځوان او هڅاند لیکوال ښاغلي څېړنیار محمد حامد حلیمي کښلې ده. ښاغلی حلیمی چې اصلی مسلک یا څانګه یې درملپوهنه ده، سربیره پردې چې په خپله اړونده څانګه کې تر ډېره بریده بریالی دی، نوموړی له ادبیاتو، تاریخ، ژورنالیزم او په ټولیزه توګه له افغاني کلتور سره خاصه مینه لري او د دې برخې په رڼولو کې یې هم کله نا کله نیلی ځغلولی دی. د ادبیاتو او ژورنالیزم په برخه کې یې د هیواد په مطبوعاتو کې د څېړنیزو مقالو خپرېدل زمونږ د دې ادعا شاهدان دي.

د ښاغلي حلیمي دغه حاضره رساله چې څو برخې لري، د ده د ذوق ښکارندویه ده. نوموړي په خپله دې رساله کې موضوعګانې د څپرکو پر ځای په بیلابیلو سرلیکونو ویشلي چې په دې حساب یې سربیره پر سریزې (۱۸)سرلیکونه څېړلي او مناسب بحثونه یې پرې کړي دي.

ښاغلي لیکوال خپل دغه اثر له بیلابیلو اخځونو څخه چې شمېر یې څه لپاسه (۴۰) ته رسیږي، په ګټې اخیستنې سره بشپړ کړی او په څنګ کې یې سیمه ییزه څېړنه او خپل شخصي مشاهدات هم نه دي هېر کړي. همدارنګه یې پر خپلو لیدنو کتنو سربیره د وردګو له سپین ږیرو څخه هم پوښتنې ګرویږنې کړي او په دې ترڅ کې یې دغه حاضره رساله کښلې ده چې دلته د هغې دبیلابیلو برخو په اړه په لنډه توګه خپل نظر کاږم:

وردګ د انساني ټولنې په اوږدوکې د رسالې لومړی سرلیک دی، چې لیکوال د یو شمېر معتبرو مأخذونو په مرسته په ځغلنده توګه د آریایانو او په ترڅ کې یې د پښتنو د اصل او نسب په اړه څرګندونې کړي او په دې وسیله یې د اصلي موضوع څېړلو او رڼولو ته لار خلاصه کړې ده.

په دې پسې یې د وردګ کلمه څېړلې او په دې اړه یې د کتابونو پاڼې اړولې رااړولي او هم یې په یو شمېر روایاتو تکیه کړې او د دې کلمې پسمنظر یې د موجودو مأخذونو په مرسته روښانه کړی دی، نوموړي دا موضوع په سیستماتیکه توګه څېړلی او تر دې بریده

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې رسولې چې وردګ د يوه ولايت يا خپلواک دولتي واحد په توګه پيژندل شوی او په دې ترڅ کې يې د لغمان د وردګو کلمې هم له ياده نه دی ايستلې او پر خپل ځای يې د هغه يادونه هم کړې ده.

ليکوال د پورتني موضوع په دوام د وردګو د قام په اړه بيلابيلې نظريې او روايات رااخيستي او کره کړي او يه پايله کې يې دا په ډاګه کړې ده چې وردګ کرلانې پښتانه دي.

د دې رسالې څلورم سرليک د وردګو استوګنځايونو ته ځانګړې شوی، ليکوال د څيړنې په بهير کې دې پايلې ته رسيدلی چې وردګ نه يواځې د وردګو په ولايت بلکې د هيواد په نورو ولايتونو کې هم اوسيږي او همدارنګه يې د هغو وردګو په اړه نسبتاً کره معلومات وړاندې کړي چې له هيواده بهر په بيلابيلو هيوادونو کې استوګن دي.

په دې پسې د وردګو ولايت راپيژني، د هغه له اداري شاليد او تاريخي پسمنظر څخه مو خبروي او په دې ترڅ کې د وردګو ولايت د واليانو د نومونو فهرست هم وړاندې کوي، چې کېدای شي په راتلونکې کې د يوې ځانګړې رسالې په ترڅ کې معرفي او پر کړنو يې هم رڼا واچولی شي.

د رسالې بل سرليک د وردګو ولايت د ځينو سيمو د نوم اينښودلو فلسفې ته ځانګړی شوی، ليکوال د دې برخې په کښلو کې هم په يوه نظر بسنه نه ده کړې او له خپلې وسې سره سم يې هڅه کړې چې بيلابيل نظريات راټول او يوې پايلې ته ورسيږي.

د نوم اينښودلو له فلسفې وروسته مو د وردګو په سيندونو ګرځوي او هم مو د نوموړی ولايت له اقليم سره آشنا کوي او په دې ترڅ کې د وردګو ولايت بيلابيلې لارې هم راښيي څو وردګو ته د تګ پرمهال يې لارې نه شو!

کله چې په همدې په ګوته کړو لارو وردګو ته رسيږو، د ښوونې او روزنې له حالت سره مو آشنا کوی. ليکوال د موضوع د نه اوږدولو په منظور پر دوديزو او عنعنوي زده کړو چې معمولاً په جوماتونو کې کېدې، بحث نه کوي او په سيده توګه پر عصري او رسمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کړو خپل بحث پیل کوي او همدارنګه په هیواد کې د وروستیو لسیزو د ناخوالو او جګړو په ترڅ کې هم د ښوونې او روزنې بهیر څېړي، ستونزې او آسانتیاوې یې بیانوي او تر دې دمه یې رارسوي.

په دې پسې د وردګو ولایت د تاریخي سیمو پر لنډه پیژندنه سربیره، د هغو زیارتونو یو فهرست هم وړاندې کوي چې په نوموړي ولایت کې مشهور دي. د دې زیارتونو معرفي کیدای شي د یوه ځانګړي اثر په ترڅ کې وشي.

لیکوال پر روغتیایي اسانتیاوو له لنډه خبرو وروسته د وردګو ولایت فرهنګي حالت ته مخه کړې او په دې ترڅ کې یې پر دولتي او آزادو خپرونو ، په وردګو کې د موجودو کلتوري ټولنو یو لنډ فهرست هم وړاندې کړي چې په دې ترتیب یې په دې اړه د راتلونکو څېړنو لپاره لاره هواره کړې ده او همدارنګه یې په دې ولایت کې د مشاعرو دود هم له یاده نه دی ایستلی او د منې ګل مشاعرې په اړه یې رڼا اچولې ده.

د دې رسالې وروستۍ برخه د وردګو ځینو مشهورو دودونو ته ځانګړې شوې چې په ترڅ کې یې د اختر، د کورونو تزیین، ډیزاین ، د واده او کوژدې دودونه، د جامو څرنګوالی، د میلمه پالنې او مړي د ودونو باندې لنډې خبرې کړي دي. په دې ولایت کې ځینې نور دودونه هم شته چې ښایي لیکوال د موضوع د نه اوږدولو په منظور له هغو څخه تیر شوی وي او په دې رساله کې یې نه وي راوړي، نو ځکه یې په سرلیک کې هم د (مشهور) کلمه ورزیاته کړې ده.

دا برخه لا پراخه او هر اړخیزې څېړنې ته اړتیا لري، چې لیکوال د رسالې له حوصلې سره سم خپله څېړنه عیاره کړې ده.

د رسالې په پای کې لیکوال د هغو اخځونو یو فهرست وړاندې کړی چې د دې اثر په کښلو کې یې ترې ګټه اخیستې ده، د یادونې وړ ده که چېرې ښاغلي لیکوال د هغو سپین ږیرو او هغو نورو کسانو نومونه هم یادکړي وای چې ده ورځحه په ځینو برخو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلومات تر لاسه کړي، غوره به وای څکه چې د فولکلوری څېړنې یو اساسي اصل د راویانو معرفي ده، نو له دې سره به دا لیکنه لا مؤ ثقه شوې وای.

بله د یادونې وړخبره دا ده چې ځینې برخې ډېرې لنډې څېړل شوی چې کیدای شي لیکوال هغه په لازم فرصت د دې رسالې د دوهم چاپ پر مهال او یا په ځانګړې توګه بشپړې وڅېړي چې د مخه یې ضمني یادونې شوې دي. همدارنګه که په دې رساله کې د نورو کلتوري مسایلو تر څنګ په وردګو کې د لیکوالو او شاعرانو او په مجموع کې د ادبي حالت په باب څه ویل شوي وای دا اثر به لا غنی شوی وای.

د دې ټولو خبرو په پای کې خپل نظر داسې رالنډوم:

– لیکوال سره له دې چې اصلي مسلک یې درملپوهنه ده، خو د رسالې د لوستلو پر مهال سړی داسې فکر کوی چې نوموړی به د تاریخ یا ادبیاتو له څانګې فارغ التحصیل او څېړونکی وي، څکه چې د املا، انشا، لیک نښو او د یاګانو د مراعات په برخه کې تر ډېره بریده د یوه څانګوال پوه په څېر بریښي.

– په رساله کې هڅه شوې چې له معتبرو منابعو او سرچینو څخه استفاده وشي او همدارنګه د هرې موضوع د څېړنې په برخه کې په یوه مأخذ بسنه نه ده شوې او لیکوال یوې پایلې ته د رسېدو په هیله ځای ځای خپل نظر هم څرګند کړی دی.

– لیکوال له خپلې وسې سره سم میعاری لیکدود مراعات کړی او هغه یې له پامه نه دی غورځولی. د لیکنې سبک یې روان او له ابهامه خالي دی.

– د یادونې وړ ده چې که دغه ډول څېړنې او ټولونې د هیواد د بیلابیلو ولایتونو او سېمو په لاړه ترسره شي نو په ترڅ کې به یې د ګران هیواد د شتمن کلتور د پرتلیزې څېړنې لپاره لاره هواره او زمینه برابره شي، له دې څخه به دا په ډاګه شي چې زمونږ د هیواد د کلتوري شتمنۍ چې په ټولیزه توګه د یوه واحد کلتور زیږنده دي. خو په ضمني ډول کوم کوم توپیرونه او ځانګړتیاوې لری او کومې برخې یې له یوې سیمې تر بلې سیمې توپیر لري. د دې کار د کولو بله ګټه به دا وي چې له یوې خوا به له ورکېدو وژغورل شي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بلې خوا به هيوادوال او نړيوال ترې خبر شي. مونږ وينو چې ځينې کلتوري پديدې د وخت په تېريدو بدلون مومي او يا خپل ځای نورو ته پرېږدي، که دا برخې ناليکلې او ناڅېړلې پاتې شي، نو راتلونکي نسلونه به ترې ناخبره پاتې وي.

يوه خبره چې د يادولو وړ ده هغه دا ده چې مونږ بايد په خپلو دغو څېړنو او راټولونو کې ډېر دقيق واوسو او د برسيرنو او سرسری څېړنو پر ځای پر ژورو او دقيقو څېړنو اتکا وکړو او دا کار ديوه معيار له مخې ترسره کړو، څو راتلونکو لپاره د يوه غوره مأخذ او لارښوود حيثيت ولري.

په پای کې د ځوان ليکوال څېړنيار محمد حامد حليمي زيار ستايم او هيله لرم چې د دې رسالې د خپريدو زمينه برابره شی، څو يې استفاده عامه شي، ليکوال ته د دغسې او دې ته ورته نورو آثارو د کښلو په لاره کې د لوی ښښتن له دربار څخه د لا زياتو برياليتوبونو هيله من يم.

په درنښت

څېړنوال نصرالله ناصر

هوايي ډګر – اتفاق کلی

۱۳۸۷/۷/۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لوی څښتن تعالی په نامه

پښتون اولس د خپل قومي او اتنيکي جوړښت له مخې په ډېرو لويو او وړو قبيلو ويشل شوی، چې هره قبيله يې بيا په نورو لويو وړو خيلونو او ښاخونو بيليږي. وردګ هم د دې ستر او پراخ قبيلوي جوړښت د يوې لويې برخې په توګه، برسيره پردې چې د پښتنو يوه لويه او ځانګړې قبيله ده، په جغرافيايي لحاظ د هغې پراخې سيمې نوم هم دی چې اوس په کې د پښتنو د دغې سترې قبيلې زياته برخه ميشت او استوګنه ده.

ځينو فولکلوري او عنعنوي رواياتو چې زموږ ويلی او اولسي تاريخ منابعو ته هم ليږديدلي دي. په پښتني ټولنه کې يې د وردګو د قبيلې د پيژندنې او هويت اصلي څېره لږو ډېره تته کړې ده. د همدغو فولکلوری او عنعنوي روايتونو او حکايتونو له مخې، چې زموږ په ټولنه او وګړو کې د وردګ قبيلې په اړه موجودوو پخپله د دې قبيلې وګړی هم څوک ځانونه سيدان(سادات) بولي او څوک په يوې او يا بلې پښتني قبيلي پورې ځانونه اړوندوي او آن دا چې ځينو بيا دوی نورو غير پښتني قومونو ته هم منسوب کړي دي.

ځوان څېړونکی ښاغلی څېړنيار محمد حامد حليمي چې پخپله هم د دې پښتني قبيلې غړی او د دې جغرافيوي سيمې استوګن دی په دې اړه د يوې علمي او سيستماتيکې څېړنې د اړتيا له مخې د دې ستونزمنې چارې ته متې رانغښتي دي، په دې هکله يې ډېره ژوره او هراړخيزه مطالعه کړې او د خپلې اوږدې او پر له پسې مطالعې نچوړيې د وردګ(قبيله، سيمه او کلتور) تر سرليک لاندې د يو څيړنيز اثر په بڼه ترتيب او دا دی اوس يې د چاپ او خپريدو هوډ او تکل لري.

د دې څيړنيزې چارې علميتوب او کره توب د منابعو(علمي، تاريخي او جغرافيوي څيړنيزو آثارو) هغه اوږده ليک لړ ته په کتنه پوره څرګنديدای شي چې نوموړي ورڅخه په څيړنه کې استفاده کړې او د دې اثر په پای کې خوندي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حليمي صاحب په دې باب زيات منابع کتلي، بيلابيل ليکلي نظريات يې راټول کړي، هغوی ته يې ژوره او کره کتنه کړې او د باوري تاريخي اسنادو په رڼا کې يې د وردګو د قبيلې داسې رښتينې پيژندنه وړاندې کړې، چې په دې باب ډيرو غير واقعي ليکلو او شفاهي فولکلوري نظرياتو او روايتونو د بطلان کرښه راښکلي شي.

نوموړي د خپلې څېړنې په بهير کې څو زره کاله وړاندې په لرغوني آريايي ټولنه کې د دې سيمې د شته والي څرک لګولی او د نورو لرغونو پښتني قبيلو په لړ کې يې د وردګ قبيلې هويت تثبيت کړی دی. پياوړی څېړونکی حليمي صاحب په دې اثر کې موږ ته د وردګ د کلمې د تسميې وجه هم راجوتوي او د دې قبيلې استوګنځايونه هم راپيژني. د دې سيمې د لرغونو فرهنګي آثارو او د هغو له سيموې او ځايونو مو خبروي، د فرهنګي او ښوونيز روزنيز حالت، اقليم او کرنيزې وضعې، دود دستور او نورو بيلابيلو مسايلو په اړه ډير په زړه پورې معلومات زموږ په واک کې راکوي.

زه د وردګو د قبيلې او د سيمې د تاريخي او جغرافيوی حالت د پيژندنې په اړه د حليمي صاحب ترسره کړې څېړنه د يو ارزښتناک او په دې لړ کې د ترسره شويو کارونو د يوې بې جوړې او بې سارې اثر په توګه ارزوم. نوموړي په دې اړه د نورو د لا پراخو څېړنو سپارښتنه کوم چې په دې هکله خپلو هراړخيزو مطالعاتو ته دوام ورکړي او د دې څېړنې لمنه داسې وغځوی چې هره برخه يې د يو ځانګړی اثر بڼه خپله کړي. نورو ليکوالو او څېړونکو څخه هيله لرم چې د حليمی صاحب د څيړنې په څير د ورته آثارو په ليکلو سره د پښتني تاريخ نور ډير تياره ګوټونه روښانه او له دې لارې زموږ فرهنګي زيرمه بډايه کړی. د مطالعې مينه وال د دې ارزښتناک اثر لوستلو ته رابولم او ليکوال ته يې د علمي او فرهنګي خدمتونو په ډګر کې د لابرياليتوبونو په هيله او دعا خپلې خبرې پای ته رسوم.

په درنښت

څېړنوال سيد محی الدين هاشمي

کابل – احمدشاه بابا مينه

د ۱۳۸۷ کال د تلې شلمه نيټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

وردګ (قوم، سیمه او کلتور) د هغه ښکلي اثر نوم دی، چې زموږ ځوان فرهنګپال ښاغلي څېړنیار محمد حامد حلیمي د یوې داسې کلتوري تندې د خړوبولو په موخه لیکلې دی چې د وردګو د لوی او پوهنپال قوم هر اوسیدونکي او د افغانستان د تاریخي څېړنو د بهیر لارویانو احساسوله. په دې کې شک نشته چې د یوه قوم، هیواد او سیمې لویه بریا د هغه د وګړو په لاس کې ده چې څرنګه وکولای شي خپل ځان، خپل کلتور، خپل دودونه او خپله سیمه نورو ته په اغیزمن ډول ور و پیژني چې ښاغلي حلیمې په دې لاره کې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړې او تر خپله وسه یې د خپلو خلکو، سیمې، کلتور او دودونو په معرفي کولو کې ملي دنده ادا کړې ده. سره له دې چې ښاغلی محمد حامد حلیمي د روغتیا په څانګه کې زده کړې کړي دي او په خپله ځانګړې څانګه کې هم په بري سره پر مخ روان دی، خوله خپلو خلکو سره یې د مینې اظهار په داسې یوه ګټوره تاریخي ټولګه کې څرګند کړی دی چې ستاسو د مطالعې ویاړ لري.

د ښاغلي حلیمي تاریخي ټولګه په عمومي توګه په دریو برخو ویشل شوې ده چې د وردګو د قوم تاریخي لرلید، د ولایت په توګه د دې سیمې معرفي کول او په دې سربیره یې د سیمې پر ځینو دودونو هم رڼا اچولې ده او په دې لړ کې د نورو لیکوالو لپاره د یوې سالمې سیالۍ لاره پرانیسې ده.

زما په آند هره لیکنه د ګڼو مثبتو ټکو تر څنګ هرو مرو یو لړ نیمګړتیاوې لري چې د ښاغلي حلیمي لیکنه موږ له دې قاعدې څخه مستثنی نه شو ګڼلای، خو دغه ټولګه هغو ټولو څېړونکو او لیکوالانو ته د ګټورو لیکنو د لړۍ د پیل کیدو لاره پرانیزي چې د دې کتاب معلومات ورته کافي نه ښکاري. نو هیله ده چې د هیواد په کلتوري ډګر کې همداسې یوه لړۍ پیل او په دې هکله نورې ګټورې څېړنې رامنځته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښاغلي حليمي څېړنه زياتې ځانګړنې لري چې ځينو ته يې په دې سريزه کې په لنډه توګه اشاره کيږي:

لومړی: څېړنيار محمد حامد حليمي د خپلې ليکنې د هرې خبرې لپاره ګڼ تاريخي لاسوندونه ذکر کړي او د څېړنې د چارو هغه بنسټونه يې تر ډېره حده په نظر کې نيولي دي چې د يوې غوره ليکنې لپاره اړين دي.

دويم: د وردګو د تاريخي څېړنو په هکله دغه ليکنه ځکه د زيات اهميت وړ ده چې په دې لړ کې تر دې مهاله يوازينی ليکنه ده چې د تاريخي لرليد او د سيمې د معاصرې پيژندې تر منځ يې انډول ساتلی دی او په داسې ډول يې معرفي کړې ده چې د موضوع حق تر ډېره حده په ښه توګه ادا شوی دی.

دريم: ليکوال توانيدلی چې د خپلې ليکنې په لړ کې تر ممکن حده پورې هغه معيارونه په پام کې ونيسي چې د ژوند په مختلفو برخو باندې راڅرخي او د ضروري برخو يادونه يې له پامه نه ده ويستلې.

سره له دې چې زه د څېړنيار محمد حامد حليمي هڅه او هاند په دې هکله ستايم او نوموړي ته د دې سترې بريا له کبله مبارکي وايم، د خپلې ټولنې په کلتوري کړيو او ليکوالو باندې غږ کوم چې د دې مبارکې سيالۍ ډګر ته تر بل هر چا مخکې را وړاندې شي او د هغو بنسټونو په معرفي کولو کې خپله ملي دنده ادا او هغه څه برلا کړی چې ستاسو په نظر يې په دې ليکنه کې مناسبه يادونه نه ده شوې او يا هم چورلټ پاتې شوي دي.

د خپلو خبرو په وروستۍ برخه کې د دې خبرې يادونه هم اړينه بولم چې د وردګو کلتوري يون په پام کې لري چې د وردګو د تاريخي شخصيتونو، فولکلور، کلتوري آرونو، پوهنيزو چارو او نورو اړينو برخو کې هم د بيلو بيلو ټولګو او رسالو په وسيله څېړنه وکړي، څو خپل ګران افغانستان، خپلو خلکو، تاريخي او کلتوري کړيو ته د خدمت جوګه او په دې هکله ملي پور ادا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


یو ځلې بیا هم ګران حلیمي صاحب ته د دې ګټورې تاریخي ټولګې له کبله مبارکي وایم، د دې تاریخي څېړنې د چاپ سپارښتنه کوم او نوموړي ته په خپل ویاړمن ژوند کې د لا زیاتو بریاوو غوښتونکی یم.

مینه او مننه

ګل آغا احمدي وردګ

۲۱ تله ۱۳۸۷ هجری لمریز ۱۲ اکتوبر ۲۰۰۸ زیږدیز

کابل، افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او څو خبرې

خوښ یم چې خپل ګران هیواد افغانستان او میړنیو پرګنو ته یوه داسې رساله وړاندې کوم چې کیدای شي د هیواد د میشتو قومونو له ډلې څخه د یو ستر او میړني ټبر یعنې وردګو په هکله په کره دلایلو ولاړ یو لړ تاریخي معلومات وړاندې کړي.

هغه مهال چې د افغانستان د علومو په اکاډمۍ کې مې دنده تر سره کوله، نو تل به مې د خپلې مطالعې لپاره د اکاډمۍ له کتابتون څخه کتابونه اخیستل او هغه به مې لوستل. په ځانګړې توګه ما غوښتل څو د وردګو په هکله څه ناڅه معلومات راټول او د یوې مقالې په توګه په کومه مجله یا جریده کې خپاره کړم. خو له ډیر لټون څخه وروسته مې لږ څه معلومات وموندل او د لومړي ځل له پاره په دې حقیقت پوه شوم چې د وردګو په هکله د معلوماتو په راټولولو کې د مأخذونو په موندنه کې هغه شان چې زما زړه یې غواړي نه بریالی کیږم. له دې ټولو سره سره مې بیا هم د وردګو په هکله یوه مقاله ولیکله او هغه مې د جرګې مجلې ته د خپرولو په موخه وسپارله. څه موده وروسته یوه ورځ مې پداسې حال کې د هیواد پیاوړي لیکوال او څیړونکی استاد حبیب الله رفیع سره لیدنه وشوه چې معاش مې اخیست او له روغبړ څخه وروسته یې راته وویل چې د جرګې مجلې له پاره ستاسو ترتیب کړې مقاله د نوموړې مجلې د کتنپلاوي له لوري ماته د کتلو لپاره سپارل شوې ده او زه غواړم چې په دې هکله له تا سره و ګورم او زیاته یې کړه څو د نوموړي دفتر ته ورشم.

بله ورځ د استاد حبیب الله رفیع دفتر ته ورغلم په مینه مینه یې د خپلو اسنادو له مینځ څخه هغه مقاله راویستله چې ما لیکلې وه د هغې د بشپړولو له پاره یې راته وویل چې ما د وردګو په هکله یو مهال یوه څیړنه پیل کړې وه، خو بیا د بوختیا له امله راڅخه پاتې شوه، ته دا موضوع په هراړخیزه توګه وڅیړه او ځینې مأخذونه یې هم راته په ګوته کړل. د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ترڅنګ یې راته وویل چې که چیرې د مفرداتو د جوړولو په برخه کې کومې مرستې ته اړ شوې نو زه به درسره مرسته وکړم.
د استاد همدا لارښوونه وه، چې زه یې د وردګو په هکله د یوې څیړنیزه او معلوماتی ټولګې راټولولو ته وهڅولم. په حقیقت کې هغه څه چې ستاسو تر مخ دي، اصلي زړی یې همغه مقاله وه چې د وخت په تیریدو او د معلوماتو په ورزیاتولو مې تر اوسنۍ بڼې پورې راورسوله.
د وردګ کلمه د تاریخ په پاڼو کې اوږده او لرغونې سابقه لري او له میلاد څخه نږدې دونیم زره کاله تر مخه اټکل کیږي. دغه کلمه کله په قوم او کله هم په سیمه باندې پر یوه او بله بڼه کارول شوې ده. په سیدانو باندې د وردګو د ورګډولو خیالي افسانې او له میر سید احمد ځېور یا اوږد کوڅي څخه پورته د هغې د سلسلې مبهم توب هغه څه وو چې زه به یې تل ځورولم او آن له یو شمیر مشرانو او مخورو څخه مې هم د دې افسانې په هکله یو لړ خبرې اوریدلې چې په حقیقت بنا نه وې چې ګواکې وردګ د میر سید احمد ګیسودراز یا اوږدکوڅي اولاده ده او یا دې ته ورته نور فلکوري روایتونه زما تر غوږو هم رارسیدلي دي.
نوموړې ستونزې ته په پاملرنې سره مې دا عزم وکړ چې د تاریخي شواهدو او کره اسنادو په رڼا کې د لوموړي ځل لپاره خپلو ګرانو هیوادوالو ته داسې معلومات وړاندې کړم چې له یوې خوا د پورته یادې شوې فلکوري افسانې او له واقعیت څخه لرې قصې په څیر دودیزه روایتونو باندې د بطلان کرښه راوکاږي او له بل پلوه په لوستلو یې لوستونکو ته د وردګو د قوم، سیمې او کلتور په هکله یو عمومي انځور تر لاسه شي.
د څیړنې ځینې کارونه مې سرته رسولي وو چې د قدرمن استاد ګل آغا احمدي وردګ صاحب یو لیک مې تر لاسه کړ چې په هغې کې له لیکوالو څخه غوښتل شوي وو څو د جغتو مهالنۍ په جریده کې د خپرولو له پاره خپل مطالب او لیکنې ورولیږم. ما هم وغوښتل چې د وردګو په هکله د لیکنې یوه یوه برخه په نوبت سره د جغتو مهالنۍ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروليږم چې احمد صاحب هم دا خبره په ډېر ورين تندی ومنله او څو برخې يې د جغتو په مهالنۍ کې په پرله پسې توګه خپرې شوې. خو کله چې د وردګو د کلتوری يون له خوا د ۱۳۷۸ کال د غوره ليکوال او څېړونکي جايزه راکړل شوه نو دې کار ډېر وهڅولم څو تر لاس لاندې څېړنه چې ستاسو د لوستلو وياړ لري بشپړه کړم چې له نيکه مرغه په دې کار بريالی شوم.

د وردګو د تاريخ په هکله که چيرې د دې لړۍ هرې برخې ته تم شو نو کيدای شي په هره برخه يې ګڼ شمير کتابونه وليکل شي خو هغه څه چې ما د وردګو په هکله راټول کړي دي يوازې يو داسې پيل ګڼل دی چې نورو ليکوالو او څېړونکو ته د وردګو په اړه د څېړنې لاره هواروي او زما ټولګه په دې لاره کې د يوې کوچنۍ هڅې مثال لري. زه هيله من يم چې د هيواد نور ليکوال او څېړونکي له دې نيمګړې ليکنې څخه په الهام اخيستنې سره هر اړخيزې او بډايې څېړنې ترسره کړي او د وخت په تيريدو سره زما دغه هڅه په بشپړو او اغيزمنو څېړنو سره و پالي.

په پای کې د هيواد له نامتو ليکوالو، څېړونکو او استادانو او د افغانستان د علومو د اکاډيمۍ له غړو هر يو څېړنپوه استاد ميراحمد ګوربز، څېړنوال الحاج استاد سيد محی الدين هاشمي، څېړنوال استاد نصرالله ناصر او د ويسا د ورځپاڼې له چلوونکي قدرمن استاد زبير شفيقي څخه مننه وکړم چې د دې رسالې په بيا لوستلو سره يې زه ډېر احسان من کړم او هر يوه پر خپل وار خپلې غوره لارښوونې پر ما باندې پيرزو کړي. ټولو قدرمنو استادانو ته د لوی خدای (ج) له دربار څخه د سوکاله ژوند او اوږده عمر غوښتنه کوم.

د يادولو وړ بولم کومې لارښوونې او وړانديزونه چې استادانو په دې هکله ماته کړې دي نو ما هم تر ډېره حده په پام کې نيولې دي.بايد ووايم چې په ځينو مواردو کې مې دا خبره غوره ګڼلې چې که لوی خدای(ج) توفيق راکړ نو هره برخه به يې د ځانګړې رسالې په ترڅ کې په هر اړخيزه توګه وڅېړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه له فرهنګ پالونکي او د هیواد په مینه سمسور شخصیت ښاغلي استاد ګل آغا احمدی وردګ څخه چې تل يې زه هڅولی يم او د دغه نیمګړې رسالې په لوستلو سره يې د هغې زيار پر ځان واخیست او د لا ښه‌ایه کولو په لاره کې يې غوره لارښوونې او زیاتونې راڅخه ونه سپمولې، ډيره زیاته مننه کوم. نوموړی ته د لوی خدای (ج) له دربار څخه د روغ او له بریاوو څخه ډک ژوند غوښتنه کوم، په ګوتو او قلم يې دې تل برکت وي او قلم يې دې تل هیواد ته د چوپړ په لاره کې مخ پر وړاندې وچلیږي. قدرمن استاد احمدی د وردګو د راتلونکې له پاره هغه ماسترپلان ته ورته لیکنه  هم راباندې و لوروله چې د دغه ټولګې په پای کې د ضمیمې په توګه چاپ شوې او تاسو يې د دې ټولګې په وروستۍ برخه کې موندلای شی.

همدا راز له خپل قدرمن، محترم او ګران پلار الحاج مولانا (حلیمي) څخه هم یوه نړۍ مننه کوم چې د دې لیکنې بشپړولو ته يې تل هڅولی یم او په دې برخه کې يې راسره نه هیردونکي مرستې کړې او په خپله پلارنۍ او هم مورنۍ مینه يې (ځکه مور مې کله چې زه دری کلن وم وفات شوې ده) نازولی یم، خدای پاک دې هغه ته د دارینو کامیابي او فردوس جنت په نصیب کړي.

په پای کې د هیواد له پیاوړی علمي شخصیت پروفیسور دوکتور زر جان بها څخه هم زیاته مننه کوم چې د دې ټولګې د چاپ لګښت يې پرځان واخیست او په دې برخه کې يې راسره مرسته وکړه. پوهاند صاحب ته د لوی خدای(ج) له دربار څخه د دنیوي او اخروي اجر غوښتونکی یم.

د یوه سوکاله، آباد او پرمختللي افغانستان په هیله

په مینه

محمد حامد حلیمي

۱۳۸۷/۷/۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وردګ د انساني ټولنې

# په اوږدو کې

مخکې له دې چې د وردګو په اړه خپل بحث پيل کړم، د يادونې وړ بولم چې د پښتو او پښتنو په باب په کافي اندازه څېړنې او ليکنې ترسره شوې دي، نو ځکه د بحث د نه اوږدولو په موخه يوائې په يوه لنډه او ځغلنده کتنه بسنه کوم.

د دې له پاره چې په انساني لرغونو ټولنو کې د وردګو ځای او موقف څه ناڅه روښانه کړو، د هغوی په منځ کې وردګ د يوه ستر ټبر په توګه ومومو او له وردګو څخه تر مخه په ټولنيزو ډلو کې د وردګو ځای وپيژنو، نو د خپل بحث لړۍ له آريايانو څخه را پيل کوم.

آريايان د انساني ټولنې يوه ستره برخه ده، چې د پيړيو پيړيو ځلانده او وتلی تمدن په درلودلو سره يې ډېر ملتونه په خپله لمنه کې را نغاړلي او بشری ټولنې ته يې وړاندې کړي دي.

د آريايانو اصلي ټاټوبی آريانا ويجه چې د پامير لوړې ځمکې او د آمو سر چينې وې چې(د اصيلو يا نجيبو خلکو ځمکه ده)، ښودل شوی دی. د وخت په تيريدو او د دوی د شمير د زياتيدو او نورو بيلابيلو لاملونو له کبله آريايان نورو سيمو ته خواره واره شول او هلته يې خپل ژوند پيل کړ،(۱). ځينو يې د هندوکش په شمالي او جنوبي لمنو کې استوګنه غوره کړه، ځينې يې د هريوا (هرات) خواته ولاړل او دريمه ډله يې د باختر او هندوکش له شاوخوا څخه د کابل، خيبر او نورو لارو څخه تير او د اباسيند او ګنګا تر منځ يو ځلانده مدنيت رامنځته کړ. له آريايانو څخه يو مشهور دينی کتاب چې (ويدا) نوميږي او د حضرت عيسي (ع) له ميلاد څخه ۱۴۰۰ کاله د مخه ليکل شوی او تر اوسه پورې پاتې دی چې د دې قوم په تاريخ کې د ډېر ارزښت او اهميت وړ شميرل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د آريايي قبيلو په ډله کې يوه هم د پکهت (پښتنو) قبيله ده، چې په ريګويدا (د ويدا د کتاب يوه برخه ده) کې يې نوم ياد شوی دی او دا خبره څرګندوی چې دې اولس له ميلاد څخه څوارلس سوه کاله د مخه هم شتون درلود.

په ويدا کې پکتها د پښتنو د پاچا او د پکهت ياني د پښتنو د قوم په نومونو څو ځايه او په پر له پسې توګه راغلي دي.

هغه وخت چې د پکهت قبيله د خپلې لومړنۍ ليږديدنې په وخت کې د هندوکش سهيلي برخوته راکښته شوه، نو ورو ورو د آريانا په جنوب ختيځو سيمو کې ميشت شوه چې د دوی سيمه د پکتيا، پښتيخا، پختيښا، پښتنخا، پښتونخا او پښتونخوا په نومونو ياده شوه، چې د يونان مشهور او نامتو تاريخپوه هيرودت(۴۲۵ – ۴۸۴ م ) او د يونان نامتو جغرافيا ليکونکی بطليموس کلوديوس (د دوهمې ميلادي پيړۍ په لومړۍ نيمايي کې يې ژوند کاوه)، هم نوموړي حقيقت ته په خپلو آثارو کې اشاره کړې ده.

د پښتو په کلاسيکو ادبياتو کې هم پورتنۍ کلمې راغلي، چې د بيلګې په توګه د ښکارندوی غوري( ۵۶۹-۶۰۲ هجری ق)، د سليمان ماکو په تذکرة الاوليا، د پټې خزانې په سريزه(په چاپي نسخه کې پښتونخوا او په اصلي نسخه کې پښتنخا راغلې ده(۲) چې دغه حقيقت په ځينې نورو آثارو کې هم کله په يوه او کله پر بله بڼه هغه په ګوته کولی شو.

پښتانه چې د تاريخ په اوږدو کې يې د خپل لرغونتوب ډير پړاوونه وهلي او ډول ډول قبيلوي جوړښتونه يې درلودل، په عنعنوي توګه په لاندينيو پنځو سترو ټولنيزو ګروپونو ويشل شوي چې عبارت دي له:

1. غرغښتي پښتانه
2. سړبني پښتانه
3. کرلاڼي پښتانه
4. بيټني پښتانه

(c) ketabton.com: The Digital Library


5. متوزي پښتانه چې غلجي او لودي پښتانه ترې مقصد دي،(۳).

پورتني ياد شوي ګروپونه هر يو په خپل وار په لس ګونو نورو ډلو ويشل شوي دي.

لکه څرنګه چې زموږ بحث پر وردګو باندې راڅرخي او د پښتنو دغه قبيله په پښتني قبيلو کې په کرلاڼي کورنۍ پورې اړه لري، نو ځکه خپل بحث ته د کرلاڼي کورنۍ په اړه ادامه ورکوو.

په پښتنو قبيلو او ټبرونو کې يو هم د کرلاڼي ټبر دی، چې په بيلابيلو څانګو او ګروپونو ويشل شوی دی. د کرلاڼيو د پلرونو او نيکونو په اړه ګڼ او مختلف روايات شته دي. د بيلګې په توګه دلازاک چې د کرلاڼي پښتنو يوه عمده څانګه ده ، عقيده څرګندوي چې د کرلاڼ پلار سيد قاف نوميد، چې په اتم پښت کې حضرت امام حسين (رض) ته ور رسيږي.

د خټکو قبيله د کرلاڼي پلار هونی بولي او شيتک عقيده لري چې کرلاڼی د کوم شهزاده زوی وو. همدا راز د خوګيانيو ښاخ عقيده څرګندوي چې دی د عبدالله اورمړ زوی دی.د افضل خان خټک په (تاريخ مرصع) کې د تاريخ خان جهاني په روايت دا پيښه داسې بيانوی چې د ذکريا او عبدالله په نومونو دوه کسان وو، چې يوه يې کړايي او بل يې يو هلک پيدا کړ. څرنګه چې عبدالله نومي کړايي او ذکريا نومي هلک پيدا کړی وو او عبدالله اولاد نه درلود نو هغه ته يې وويل چې دا هلک ماته راکړه او زه به تاته کړايي درکړم او هغه هم ومنله،(۴).

د کرلاڼي د اولادې په اړه ځينې خلک وايي کله چې کرلاڼ نومی ماشوم نړۍ ته سترګې پرانيستې نو په هغه ځای کې لښکر يوه شپه تم شوی او بيا له هغه ځايه تللی و. دغه ماشوم د اوسپنی تر يوې کړايي لاندې و او بيا د عبدالله نومي له خوا و موندل شو چې د اورمړو د قبيلې څخه و، نو د کړايي د نوم له کبله د کرلاڼي نوم پرې کيښودل شو.

خو اروابناد اکاډيمسين پوهاند رشاد بيا دغه تشبيه د مضحکو تشبيهاتو له ډلې څخه ګڼلې او د «حيات افغاني» پښتو ژباره کې چې د نوموړی حاشيه او تعليقات ورسره مله دي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدغه بحث د پاڼې په لمن لیک کې د دغې تشبیه په اړه لیکي«دا هم له مضحکو تسمیو څخه ده»،(۵).

محقق عبداللطیف یاد طالبي د «پښتنې قبیلې» په اثر کې خپل نظر داسې څرګندوي: له دې کبله چې د کرلاڼي د قبیلې وګړي تر ډیره بریده له کرکیلي او کرنې سره سروکار لري، نو د کرلاڼي نوم هم له همدې کبله په دغه ټبر باندې ایښودل شوی دی،(۶). ماته هم د کرلاڼي د نامه د څرنګوالی په باب د ښاغلي یادطالبي روایت د نورو په پرتله په دې اړه د منلو وړ او ډیره په ځای او غوره نظریه ښکاري.

همدارنګه په ځو ماخذونو کې په متواتر ډول دا خبره راغلې ده چې دغه هلک(کرلاڼ) د ژمی په مېنه (هستوګنځي) په لویدیځ افغانستان کې پیدا شوی و او عبدالله اورمړ له دې کبله هغه په زویتوب ومانه چې نارینه اولاد یې نه درلود، او د نومورړي روزنه او پالنه یې په غاړه واخیسته. کله چې بلوغ ته ورسید، نو خپله لور یې ورته نکاح کړه چې له هغې څخه یې دوه زامن و زیږیدل، چې په یوه باندې د کودي او په بل باندې یې د ککي نوم کیښود. وروسته بیا د دې هر یوه له لمنې څخه ډیر نور ښاخونه او قومونه رامنځ ته شول.

ښاغلي پوهنوال محمد عمر روند میاخیل په خپل اثر «د پښتنو قبیلو شجرې او مېنې» کې د شیرین خان ناصر د «پښتنو قبیلو د مېنې شجرې او نومیالي» له قول څخه لیکلي چې: کرلاړی یو پخوانی آریایي قوم او مضبوط پښتانه دي،(۷).

په ټولیزه توګه هغه پښتانه قومونه او ښاخونه چې د کرلاڼ له لمنې څخه پیدا شوي دي د کرلاڼي یا کرړاني پښتنو په نوم یادیږي.

خو د دغه ټولو روایتونو تر څنګ اروابناد علامه پوهاند حبیبی د «افغانستان لنډ تاریخ» کې کرلاڼي سوچه پښتانه بللي او وایي چې دغه پښتانه له غرغښت، بیټني او سړبن سره خپلوي لري.

د کرلاڼي په کورنۍ کې دلازاک، منګل، خوګیاڼي، اپریدي، خټک، وزیر، بنوځي، دوړ، ځدراڼ، اتمان خیل، ځاځي، توري، وزیر، ګوربز، تڼي او نور قومونه شامل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاريخي شواهد څرګندوي چې کرلانيو د پښتنو په تاريخ کې ډېره مهمه برخه اخيستې ده که څه هم چې په هندوستان کې د لوديانو د سلطنت په زمانه کې د کرلانيو قبيله دومره مشهوره نه وه، خو د سوري کورنۍ د واکمنۍ پرمهال دغې قبيلې ډېر شهرت وموند او له دې قبيلې څخه دوه نوميالي هر يو تاج خان او سليمان خان په دې موده کې د خورا زيات شهرت خاوندان شول چې د جمال خان کرلاني زامن وو. په لومړي ځل د پښتنو په تاريخ کې د تاج خان او سليمان خان نومونه د شيرشاه د جرنيلانو په توګه ياد او د قنوج په جګړه کې ښه و ځليدل چې شيرشاه نومورې جګړه د مغلي پاچا همايون په وړاندې ګټلې وه. (٨).

لکه څرنګه چې مخکې يادونه وشوه چې کرړان يا کرلاڼ دوه زامن درلودل د کرلاڼ د لومړنۍ ميرمنې لومړی زوی کودی او دوهم زوی يې ککی نوميده.کودی دوه ميرمنې درلودې له لومړۍ ميرمنې څخه يې دوه زامن وو، چې مشر يې دلازک نوميده او له خپل وروور اورکزي څخه دوه کاله مشر و او د دلازاکو قبيله ورځينې پيدا شوې ده په لومړي سر کې دغه قبيله په ډېرې چټکۍ سره زياته شوه خلک يې ډېر زړور وو، ډېر ځايونه يې د خپل موجوديت او ځواکمنتيا په لومړيو پړاوونوکې تر خپلې واکمنۍ لاندې راوستل خو وورسته يې بيا سختې ماتې سره مخامخ شول چې اوس مهال په پيښور، چهچه، ضلع هزاره، دکن او نورو سيمو کې ميشت دي. بايد يادونه وشي چې ځينې مؤرخين د يادو شوو قومونو جرړې په اوسني افغانستان کې وچې بولي.

د اورکزي د ټبر ځينې څانګې د کوهاټ د ضلعې په غرنيو سيمو کې او ځينې نور يې د سپين غره ختيځ او د تيراه په جنوبي واديو کې ميشت دي چې د دې ټبر دولت زی او متوزي څانګې په شمير کې له نورو څخه زياتې دي.

د کودي د دوهمې ميرمنې زامن په ځينو مأخذونو( تواريخ خورشيد جهان، حيات افغاني او نورو) کې په دې ډول راغلی دي:

√ موسی زي

(c) ketabton.com: The Digital Library



√ منګل

√ توري

√ هني

√ وردګ(۹)(۱۰).

خو ځینو مأخذونو( پښتانه د تاریخ په رڼا کې او پښتنې قبیلې) بیا دا ویش داسې راوړی دی:

√ موسی زي

√ منګل

√ هني

√ وردګ(۱۱)(۱۲).

په دې ښاخونو کې ځینو تاریخپوهانو هني د کرلاني قبایلو یوه مشهوره څانګه بللې ده، خو ځینې نور لکه د خورشید جهان مؤلف په دې باور دي چې د دغه زوی چې نوم یې هني دی، کوم اولاد په نړۍ کې نه دی پاتې شوی.

«پښتنې قبیلې» د «بنو تاریخ» له قوله لیکي چې: د هني قبیله په بنو کې له منګلو سره یو ځای اوسیده چې تر اوسه پورې په دغه ملک کې د هني منګلو په نامه شهرت لري. د شیتک اولاده چې بنوڅي دي، نژدې ۶۰۰ کاله وړاندې یې هني او منګل له دغې سیمې څخه وشړل. ځینې یې هندوستان ته لاړل او ځینې یې د منګلو د قبیلې په لویدیځ غره کې میشت شول.

د توري د څانګې په اړه نظریات مختلف دي او توري ته توریزي هم ویل کیږي. د دې قبیلې یادونه بابر د ۱۵۰۵ م کال په واقعاتو کې کړې ده. ځینې دوی ته د نسل له مخې مغل هم وایي خو ځینو بیا هندوان بللي دي چې دا دواړه نظریې سمې نه ښکاري او ډیرو مؤرخینو دا خلک د کرلانیو پښتنو په نوم باندې نومولي او له همدې قول سره موافق دي.(۱۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا قبیله د هوت شمال او د سپین غره جنوب ته د کرمې د سیند په دواړو غاړو پرته ده.

د نورو ښاخونو په اړه د نظر ډېر توپیر نه لیدل کیږي، نو ځکه مې یې له راوړلو څخه دلته ډډه وکړه.

لکه مخکې یې چې یادونه وشوه د کودي بن کرلاڼ د دوهمې میرمنې د زامنو له ډلې څخه یو هم وردګ دی چې په تاریخي لحاظ له همدې ځای څخه د دې قوم په اړه زموږ څیړنه پیل کیږي. په وردګو باندې د د خپلې څیړنې په پیل کې باید دغه حقیقت په ډاګه کړم چې وردګ به لومړی په دریو برخو کې تر بحث لاندې ونیول شي:

- د وردګ د کلمې په اړه او د تاریخ په اوږدو کې په دې قوم، ځای او سیمې باندې د هغه اطلاق.
- وردګ د یو ستر قوم په توګه
- د وردګو سیمه او وردګ د ولایت په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د وردګ کلمه د تاریخ

# په پاڼو کې

د وردګو په اړه چې د معلوماتو هرې برخې ته تم شو، نو لیدل کیږي چې له بده مرغه د نورو قبیلو په څیر په دې برخه کې زیات معلومات نه تر سترګو کیږي او ډیره پاملرنه نه ده ورته شوې. د وردګو په باب د کره تاریخي اسنادو د پلټلو او څیړلو مسئلې ته د پام وړ توجه نه ده شوې. په ځینو مواردو کې د لیکوالو له خوا څو محدودې کرښې ورته ځانګړې شوې او په ځینو مواردو کې سره له دې چې کره معلومات موندل کیدای شي یا خو تر اوسه د پوهانو او څیړونکو تر ګوتو شوي نه دي او که لاس ته ورغلي هم دي یوائې د سینو یا ټټرونو په محدوده کې پاتې شوي چې په متواتر ډول له یوه پښت څخه بل ته لیږدول کیږي او د یوې ځانګړې مجموعې یا ټولګې په توګه یې د چاپ ویاړ نه دی موندلی.

له دې څخه نو بویه چې وردګ لیکوال او څیړونکي باید په خپله ملا کلکه وتړي او د ژوند په ټولو برخو کې د خپل هویت رېښتني تاریخ خپل هیواد او ټولنې ته وړاندې کړي.

په ځینو ماخذونو کې د وردګو په اړه یوائې دوه درې کرښې راغلی دي چې یوه بیلګه یې دلته د نمونې په توګه راوړم:

در وجه تسمیه وردګ همین قدر میتوان ګفت که وردګ نام قبیله یی از قبایل پشتون است و نام قبیله بر محل آنان. یعنی بر این ولایت اطلاق شده است به عباره دیګر وردګ به حیث ولایت عبارت است از تسمیه ظرف به اسم مظروب،(۱۴).

د وردګ کلمه د تاریخ په اوږدو کې په بیلابیلو بڼو راغلې او نامتو مؤرخینو، جغرافیه پوهانو او څیړونکو په خپلو آثارو کې د هغې یادونه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پياوړي ليکوال پوهنوال استاد رسول باوري په خپله يوه ليکنه کې چې د سلام فرهنګي ټولنې په ويب پاڼه کې خپره شوې ده، په دې اړه داسې ليکي:

«لرغونپوهانو او مؤرخينو د لرغوني او تاريخي وردګ په اړه هغسې چې وړ ده، زياتې ځانګړې تاريخي ليکنې او څېړنې نه دي کړي، خو د افغانستان په ټوليز تاريخ کې د وردګو ولايت او په هغه ولايت کې د ميشت اولس هغه ونډه بر ملا ده، چې د ټول هيواد په سترو وياړنو او بريمنو سوبو کې شميرل کيږي. د وردګو اوسنی ولايت او د هغه اړوندې سيمې زموږ د هيواد په لرغونو دورو او تاريخي پيرونو کې ټاکونکي او نه هيريدونکي څپرکي لري، چې په دې لنډه ليکنه کې د ټولو هغو را يادول شونی کار نه دی، خو له آريايي پير وروسته په بيلا بيلو دورو کې د وردګو او د هغه ولايت اړونده سيمې په يوه يا بل ډول را يادې شوي او د هيواد په ټوليز تاريخ کې يې ونډه ځرګنده شوې ده»،(۱۵).

د وردګ د کلمې د تاريخ په اړه ښاغلي اروانباد احمد علی کهزاد په «تاريخ افغانستان» کې ليکلي چې:

ويشتاسپ وروسته له دې څخه چې سل آسونه، زر غويان او لس زره ميږی يې قربانی کړي، نو يې وغوښتل ترڅو دومره ځواک ورکړل شي چې د نورو کارونو ترڅنګ د (وردهکا) قومونه د حيواناتو له عبادت څخه خلاص کړي،(۱۶).

د ورديکا او برسا يا وردګ بريخې په ويدونو کې هم راغلي دي. د ويدونو زمانه د حضرت عيسی د زوکړې څخه دوه زره يا دوه نيم زره کاله پخوا ده او دا به غالباً په تاريخي اسنادو کې د ويردوک يا وردګ تر ټولو لرغونی يادونه وي. د اوستا په پاڼو کې د آريانا ويجه د شپاړس سيمو يادونه شوې ده، چې په هغوی کې اوومه د ويردک يا وردګ په نامه ياديږي،(۱۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پورتنیو څرګندونو څخه ښکاري چې په اویستا کې د وردهکا کلمه په بشپړه توګه او کټ مټ همغه د (وردک) له کلمې سره سمون خوري او اوسني وردک همغه د وردهکا قومونه دي، چې په اویستا کې یې یادونه راغلی ده.

د یونان نامتو تاریخپوه بطلیموس او نورو تاریخپوهانو د سکندر د استحکاماتو د یادولو په ترڅ کې له اورتسپانا یا کابورا چې اوسنی کابل دی، یادونه کړې ده او د هغه اوسیدونکي یې د کابل تی Kabolitea په نامه یاد کړي او د کابل څو نژدې او ترڅنګ (مجاورې) سیمې لکه ارغنده یا ارګردا Argurada، لوګر یا لوکرنا Locarana او وردګ یا بګردا Bagarada په نومونو یادې کړې دي.

کلاوس بطلیموس په دوهمه میلادي پیړۍ کې د پارو پامیزاد parapamisade هندوکش په شاوخوا کې د اورتیکانه ortikana په نامه یو ځای راوړی چې د اوسني وردګ له کلمی سره لفظي ډیر نژدیوالی لري او هم زیاتوي چې د کابل او د سرچېنې نه څیرمه سیمه کې د بګردا Bagarada ښار دی، چې د وردک war dak له نامه او موقعیت څخه لیرې نه دی. BARDAGA ، BaGRADA امکان لري چې د یونانیانو Bagarda وي چې د زند اوستا له vaekeneta سره یو دي.

په اوومه عیسوی پیړۍ کې چېني زایر هیون څانګ په خپله سفر نامه کې لیکلي دي چې په هغې کې یې داسې راوړی دي:

کله چې نوموړی زایر په ۶۴۴ میلادي کال له هند څخه د چین د سفر په لار کې کابل ته رارسیږي، له کاپیسا څخه ۱۵ ورځې د جنوب خواته سفر کوي او verana یا اوسنی بنو ته رسیږي . بیا شمال لویدیځ خواته ځي او له هغه ځایه ۵۰۰ لی (۱۰۰ میله) د شمال خواته ځي او د ورګي ستانه vargi sthane سیمې ته رسیږي چې کېدای شي دغه نوم په اصل کې verdergi sthane وي. چې محشي یې هم د وردګو سیمه بولي چې د غزني شمال خواته څلویښت میله لیرې واقع ده. د پورتنۍ لیکني په یوه برخه کې د بطلیموس له قوله د اورتیکانه نوم راغلی او هغه د وردګ سره نژدې ښودل شوی دی. خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هيواد پياوړی ليکوال ښاغلی سرڅیړونکی رازقی نړيوال له دغه قول سره موافق نه دی او د خپل اثر(د هيواد لرغوني ښارونه او د تاريخ پاڼې) د دوهم ټوک په ۲۴۰ مخ کې ليکې چې اورتيکانه يا اورتا کانه د اريانه (هرات) د يوې لرغونې استحکامې کلا نوم دی چې اوس د قلعه اختيارالدين په نامه شهرت لري او په تاريخي اسنادو کې يې له دې په بل کوم ځای کې داسې محل نه دی معرفي شوی او په دې باره کې د صبا د مجلې په يوه ګڼه کې مفصل معلومات وړاندې شوې دي،(۱۸).

همدا راز د معتبرو منابعو او اخځليکونو په حواله د يما پاچا د کهاله د پاچاهانو (د بخدي يا آريانا) د شهنشاهي ايالتونو (۱۹) له ډلې څخه په اويستا کې شپاړس ايالتونه راغلي دي، چې يو يې هم ويکره ته، وای کرته، ويکترا Vaekereta ده، چې غالب ګمان دا دی چې د بطليموس باګردا به عبارت له ويکرتا څخه وي او اوسنی نوم يې وردګ دی، چې د کابل سيند سره يې د اتصال کړی بشپړه کړې ده،(۲۰).

د هيواد لوی مورخ علي احمد کهزاد په خپل اثر (آريانا) کې د انګريزی پوه کننګهم د اثر (جغرافيايی قديم هند) د لومړی جلد د ۳۸ مخ پر استناد راوړی چې ډيره شونې ده چې ويکرتا هغه نوم وي چې د کابل حوزې ته د دغه آريايي ټبر ننوتو ته اشاره کوی،(۲۱). يعنی د وردګ ټبر ته.

په ويدي او تر هغه وروسته اوستايي متنونو کې د ويکرتهه او کوبها تر ټولو نامتو سيمو څخه يوه ښېرازه سيمه يورګيتا يا اوسنی وردګ او د هغه اړوندې سيمې ګڼل شوې دي(استاد رسول باوري دا قول د پښتنو د نوی او پخوانی تاريخ چې عبدالرزاق پالوال ليکلی او په کال ۱۹۹۴ کې خپور شوی د ۳۸۸ مخ په حواله راوړی دی)،(۲۲). د هخامنشيانو په وخت کې دا سيمه د ستاکيديا په نوم يادېده چې د څلورو نورو سيمو سره يې کلنې ماليات ۱۷۵ تالانه ته رسيدل(استاد باوري دا قول د افغانستان لنډ تاريخ چې علامه عبدالحی حبيبي ليکلی او په ۱۳۴۶ کال کې په دولتي مطبعه کابل کې خپور شوی، د دوهم ټوک د ۲۸ مخ په حواله راوړي دي)(۲۳). د آلماني څېړونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوخاربریتس په وینا یوناني مورخینو هم د ستاکیدیا په نوم د یونان باختري یو ایالت یاد کړی دی، چې د وردګو سیمه یې تر ټولو نامتو سیمه بلل کېده(دا قول استاد باوري د پوهاند مجاور احمد زیار د پښتانه ورونه ملیتونه اثر چې په کال ۱۳۶۶ د کابل په دولتي مطبعه کې چاپ او خپور شوی دی د ۵۴ مخ په استناد راوړی دی)،(۲۴).

په کوشاني پیر کې د وردګو اړوندې سیمې د نړیوالو لارو په مسیر کې د سترو کاروانونو د تم ځایونو له پاره د امن او ډاډمن چاپیریال ځای وو چې د اوسیدلو مناسب ځای یې درلود، چې د سترو سوداګریزه کاروانونو تر ټولو نامتو ځای د کوټه اشرو په نوم تم ځای و. چې د افغانستان د تاریخ په اسلامي پیر کې یې پوره نوم درلود او د وریښمو د لارې سهیلي کرښه یې د هند له پوتالی پوترا څخه د بلخ له ستر مرکز سره نښلوله.

په اسلامي پیر کې هم د وردګو د ټبر او سیمې په اړه بیلابیلو مؤرخینو، جغرافیه پوهانو او سیلانیانو له خوا زیاتې یادونې شوې دي. د بیلګې په توګه یو شمیر لیکوالو د جګړه ایزو پیښو په اړه د دې سیمې یادونه کړې ده، لکه په ۴۴۳ هجری کال کې د وردګو په خماري دره کې د سلطان محمود د ځواکونو په لاس د الف ارسلان ماتې خوړل یادولی شو. یو شمیر نورو بیا د دې سیمې د نامتو مبارزینو په اړه د دې سیمې یادونه کړی ده. لکه غازی محمد جان خان وردګ چې د هیواد په تاریخ کې ستر ویاړ ور په برخه دی او داسې نور،(۲۵).

ښاغلی غبار په (جغرافیایي تاریخي افغانستان) نومې کتاب کې وردګ د ګندهارا د لرغونی ولایت یوه برخه بللې او ویلی یې دي چې: ګندهارا په پیښور، اټک، یوسفزی، هشتنګر، سوات، باجوړ، بونیر، دیره ننګنهارا، لمپاکا(لغمانات)، کنړونه، اسمار، کابل، لوګر، وردګ او کاپیسا باندې ویشل شوی دی،(۲۶).

وردګ د هغه ولایت نوم دی چې په ۱۳۴۳ کال کې د خلکو د اداري او ټولنیزو ستونزو هواري له کبله له امله د هیواد په اداری چوکاټ کې د نورو اداری واحدونو سره یو ځای رامینځ ته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وردګ په لغمان ولايت پورې اړوند د يوه کلي نوم دی، چې د ټيګريو شمال لويديځ لور ته د ۵,۳کېلو مترو په واټن کې د ختيځ طول البلد په ۷۰ درجو ۱۰ دقيقو او ۴۰ ثانيو او د شمالي عرض البلد په ۳۴ درجو ۴۰ دقيقو او ۱۵ ثانيو کې موقعيت لري،(۲۷).

نو ځکه ويلی شو چې د وردګ کليمه د دې سيمې او قوم لپاره د هغې د اطلاق ډېره اوږده پخوانۍ سابقه لري چې د حضرت مسيح له ميلاد څخه ۲۵۰۰ کاله مخکې اټکل کيږي.

تر دې دمه مو ټول هغه څه تر نظر تير کړل چې په انساني ټولنه کې يې د وردګو ځای را په ګوته کړ او هم مو ولوستل چې وردګ څه نوی نوم او کومه کليمه نه ده بلکې ډېره اوږده پخوانۍ سابقه لري. د خپلې څيړنې په دې برخه کې به تاسو په دې هکله معلومات ولولی چې د تاريخي کره اسنادو په رڼا کې وردګ د يوه ستر، ځواکمن، ميړني او غيرتي ولس په توګه را پيژني.

# د وردګو ســـــــتر

# او ميړنی ټبر

لکه چې مخکې مو يادونه وکړه، وردګ د پښتنو د يوه ستر ټبر نوم دی چې د نسب له پلوه د کرړاني يا کرلاڼي د زوی (کودي) باندی ورګډيږی.(۲۸)

که څه هم چې د څيړنې په لومړی سر کې مو يادونه کړې ده چې پښتانه په پنځو سترو ډلو ويشل کيږي خو بې ځايه به نه وي چې د پښتنو د تاريخ د مؤلف قول هم دلته راوړو. د (پښتنو تاريخ) ليکوال اروابناد قاضي عطا الله خان د پښتنو قبيلې په دوو غټو برخو ويشلې دي:

لومړی د مغربي افغانستان پښتانه او دوهم د مشرقي افغانستان پښتانه.

وروسته بيا د مغربي افغانستان د پښتنو سترې قبيلې داسې راپيژني:

(c) ketabton.com: The Digital Library


1- ابدالي
2- غلجي
3- ترين
4- بړيسې
5- کاکړ
6- ناصر
7- وردګ
8- پاونده،(۲۹).

یعنې دا چې مرحوم قاضی عطاالله خان هم وردګ د پښتنو د یوه ستر وګړنيز ټبر، یوې سترې پښې او یا یوې سترې څانګې په توګه یاد کړي دي.

وردګ د کرلاڼي د زوی کودي د دوهمې میرمنې له اولادونو څخه یو زوی ګڼل شوی دی او په اصل کې کرلاڼي پښتانه دي.

له دې کبله چې د وردګو د قوم په هکله یو روایت دا دی چې وردګ یې د میر سید احمد ګیسو دراز یا څښور سید ته منسوب کړي دي او نوموړی قول په څو بیلابیلو آثارو کې ذکر شوی دی.

لومړی به د دې روایت په هکله څو شیبې تم شو او وروسته به د هغې د ناسم والی په هکله وغږیږو:

تواریخ خورشید جهان داسې راوړي دي: یو سید چې میر سید محمد ګیسو دراز نومیده او د سید الرجال محمد بن اسمعیل اعرج چې د امام صادق خلف و، د سلیمان غره ته راغی. له دې کبله چې صاحب د حالات او مقالات و، نو د شیراڼي، کاکړو او کرړاني خلکو ده ته مراجعه وکړه او د ده ولایت ته یې کلکه عقیده لرله. کله چې د مغلو د لښکرو په وړاندې نوموړي ته د دغه دریو قومونو د التجا په سبب، نوموړي دعا وکړه، نو هغه د مغلو د لښکرو بلا دفع او رفع شوه او دغه قومونه له هغې څخه په امان کې پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library


شول. له دې پیښې څخه وروسته د دغه درې واړو قومونو سرداران نومړي سید ته راغلل او خپلې لوڼې یې ده ته د نکاح له پاره وړاندې کړې او هغه هم وړاندې شوې میرمنې ځانته په نکاح کړې. د نومړو ښځو څخه په ترتیب سره د شیراني د سردار له لور څخه ستوریاني، د کاکړو د سردار له لور څخه مشواني او د کرلانیو د سردار له لور څخه وردګ او هنې دنیا ته راغلل. وروسته بیا نومړی سید بیرته د هندوستان په لور وخوځید او میرمنې یې د خپلو پلارونو په کورونو کې پاتې شوې چې اولادونه یې همدلته لوی شول او د دوی نسل همدلته وده وموندله او زیات شول،(۳۰).

د هیواد پیاوړی لیکوال او څېړونکی ښاغلي استاد حبیب الله رفیع دغه روایت یو فولکلوري روایت بولی او هغه له تاریخي واقعیت څخه لرې ګڼی.

تاریخ مرصع په دې هکله لیکي( زده کړه چې په زمانه د شیراني د حیات یو درویش صاحب د ولایت وه، چه نوم یې سید محمد وه او سلسله یې د نسب دا رنګ پیوسته ده: سید محمد د سید غور، سید غور د سید عمر، سید عمر د سید قاین، سید قاین د سید رجال، سید رجال د سید اسماعیل، سید اسماعیل د سید امام محمد باقر، سید امام محمد باقر د سید امام جعفر صادق، امام جعفر صادق د امام زین العابدین، امام زین العابدین د امام حسین، امام حسین د امیر المومنین حضرت علی کرم الله وجهه)،(۳۱).

د مخزن افغاني په هغو دوه قلمي نسخو کې چې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د خطي نسخو په برخه کې په ۳۱۴ او ۱۹۶ شمیره باندې خوندي دي، وردګ یې په سیدانو باندې ور ګډ کړي دي،(۳۲) (۳۳).

هغه دلایل چې د پورتني روایت ضعف څرګندوي او په(حیات افغاني، د پښتنو قبیلو شجرې او مېنې او نورو ماخذونو هم راوړې دي په لاندې ډول وړاندې کیږي:

علامه پوهاند عبدالشکور رشاد د حیات افغاني چې ژباړونکی یې محقق فرهاد ظریفي او محقق عبداللطیف یاد طالبی دي او د نومړی په سریزه، تحشیه او تعلیقاتو د دانش

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپرندویه ټولنې له خوا يې دويم چاپ په ۱۳۸۶ کال کې تر سره شوی دی، د ۴۳۷ پاڼې په لمن ليک کې د پورتني روايت د تيروتنې په اړه ليکي:
په تاريخ مرصع (۵۲۲ مخ) کې راغلي دي: هرګاه چې لښکر د امير تيمور نژدې و کوه سليمان ته راغی حضرت خواجه يحيی کبير بختياري (۸۳۴ هجري قمري مړ) له خپلو توابعو او لواحقو سره په خوا د غره کې و، مريدانو عرض وکړ چې يا شيخ امير تيمور نژدې راغی مبادا چې کښيوزو، حضرت خواجه څه خاورې واخيستی درې ځله يې قل هوالله ولوسته او په لور يې د لښکر ورځولې په فرمان د حق تعالی په منځ د لښکر او د دوی حجاب پيدا شو، واړه مغل ګويا ړانده شول آواز يې د سړيو واورېده اما هيڅ يې نه ليدل. لښکر په تعجب شه او دا حقيقت يې په عرض د امير تيمور ورساوه ويې وې (وويل) شايد په دا غره کښې اوليا الله شته. زر له دې ځايه وجارووزی لږ څه پستنه وجاروتل سترګې د مغلو بينا شوې. امير تيمور وفرمايل چه له چا تحقيق وکړی چه دا ځای مسکن د کوم بزرګ دی. دغه مطلب افضل خان ختک(۱۰۷۵ هجري قمري زوکړه) له مخزن افغاني څخه ترجمه کړی دی، خو له ډېټي حيات خان څخه د دعا کوونکی نوم بدل شوی دی،(۳۴). يعنې دا چې ډېټي حيات خان د خواجه يحيی کبير بختياری په ځای د سيد ګيس ګيسو دراز محمد نوم راوړی دی. چې د اروانښاد علامه رشاد دا قول د دغې موضوع رد په روښانه توګه راپه ګوته کوي.
همدا راز مرحوم علامه رشاد ليکي: د ډېټي حيات خان دا خبره سمه نه ده. په روزنامچه غزوات هندوستان کې چې تيمور د لښکر کشيو لپاره وقف شوې ده ليکلي دي «روز نوزدهم ماه عساکر تيمور به قلعه نغر رسيدند از آنجا بر کلانيان(کسرړانيان) تاختند برخی از تيغ ګذرانيده شدند فرزندان ايشان را برده و اسير ګرفت. هشتم ماه بر لب آب سند سايه افګند» نغر د اوسنی خوست په شاوخوا کې واقع و، په دغه روزنامچه کې د آريوب، شلوزان، بنو د نيولو او د هغو ځايونو د خلکو د وژلواو چور چپاو پيښې هم راغلې دي. د رشاد بابا له دې قول څخه له ورايه دا څرګنديږي چې د تيمور د لښکرو له شر څخه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یواځې دا چې کرلاڼیان خوندی پاتې شوي نه دي، بلکې ډېر شمیر یې ورځخه وژلي او اسیران کړي دي. نو ځکه د ډېټی حیات خان پورتني قول چې د سید محمد ګیسو دراز د دعا له امله د کرلاڼیو په ګډون ځینې نور قومونه هم ژغورل شوي دي، ناسم روایت دی.

د ضعف ځینې نور دلایل یې چې د حیات افغاني، د پښتنو مینې او شجرې او ځینې نورو ماخذونو په یو شان راوړي دي په لاندې ډول وړاندې کیږي:

لومړی: په مخزن افغانی کې چې لیکل شوي چې ګواکي د شیراني د ژوند په وخت کې سید محمد ګیسو دراز د سلیمان غره ته راغلی و، دغه روایت ضعیف ښکاري ځکه چې وروسته په خپله د مخزن افغاني مؤلف لیکلي دي چې شیرانی د سړبن ابن قیس عبدالرشید لمسی و او قیس عبدالرشید یې د جناب خاتم المرسلین محمد (ص) هم عصره ښودلی او سید محمد ګیسو دراز له ۸۰۰ هجري لمریز کال نه وروسته هندوستان ته ولاړ، نو څرنګه دا امکان لري چې د سړبن لمسی شیرانی چې د قیس عبدالرشید له څلورم پښت نه و، تر اتمې هجري پیړۍ پورې دې ژوندی وي.

په تاریخ فرشته کې لولو چې په ۸۱۰ هجري کال د سلطان فیروز شاه بهمني د واکمنۍ په وخت کې سید محمد ګیسو دراز د ډهلي څخه دکن ته لاړ او په حسن آباد کې یې ګلبرګه ته نږدې خانقاه جوړه او دیره و چې تر اوسه هم هلته د ده مقبره د خاصو او عامو زیارتګاه ده.

احمد شاه بهمني چې په ۸۲۵ هجري کال کې د دکن په تخت کیناست او د سید محمد ګیسو دراز د مرګ کال هم ۸۲۵ هجري قمري دی(رشاد) نو هغه د سید محمد ګیسو دراز خاص مرید او معتقد و، چې ډیر کلي او قصبې یې د هغه د خانقا لپاره وقف کړل او تر اوسه هم د سید محمد ګیسو دراز اولاده په دکن کې شته، خو نه په هغه زیات شمیر چې د افغانستان خلک یې د ده اولاده بولي.

دویم: د سید محمد ګیسو دراز د نسب شجره چې د مخزن افغاني مؤلف راوړې ده او په هغې کې د ده یوولسم پښت د حضرت امام حسین سره ګډوي. د دغه مؤلفینو په نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۸۰۰ کلونو په پرتله یوولس پښته لږ دي. ځکه چې د حضرت محمد (ص) نه وروسته د منځني حساب له مخې په یوه پیړۍ کې باید لږ تر لږه درې پښته تیر شوي وي.

دریم: د مخزن افغاني نه پرته د دغه روایت له لپاره بل کوم ثبوت تر لاسه نشو او دا هم اټکل کیدای شي که دغه قومونه واقعاً د سید محمد ګیسو دراز له اولادې څخه وای، نو کله چې په ۹۰۱ هجری کال کې بابر پاچا افغانستان ته راغی، نو په دغه وخت کې څنګه کیدای شول چې د وردګو او ګنداپوریانو شمیر دې دومره حد ته رسیدلی وي. په داسې حال کې چې د سید محمد ګیسو دراز او بابر پاچا تر منځ یوائې سل کاله وخت تیر شوی دی، نو دا څنګه منلی شو چې په یوه سلیزه کې دې له یوه تن څخه دومره اولاده منځ ته راشي څومره چې په دغه وخت کې ګنداپوریان، وردګ، مشواني او هني وو.

له دې نه پرته د بنو د تاریخ له څیړنو څخه چې د دغه کتاب په دریمه برخه کې راغلي دي څرګندیږي چې د شیخ محمد روحاني د ژوند په وخت کې د بنوڅیو ښاخ نژدی ۷۵۰ هجری کې د بنو سیمه له منګلو نه ونیوله او دا د هني هغه ښاخ دی، چې خپل ځانونه د سید محمد ګیسو دراز له اولادې څخه شمېري. په داسې حال کې چې سید محمد ګیسو دراز په بنو کې د دغې قبیلې له میشته کیدونه سل کاله وروسته منځ ته راغلي دي، نو دا هیڅ کله امکان نه لري چې اولادونه د خپل نیکه له پیدایښت نه وړاندې په فتوحاتو پیل کړی وي.

یو بل داسې عجیب روایت هم شته چې د هغه له مخې وردګ د خپل نسب په اړه وایي چې زموږ اوسنۍ مقبوضه سیمه د سلطان محمود غزنوي له خوا د آبادۍ لپاره موږ ته راکړل شوې وه. حال دا چې د سلطان محمود غزنوي دوره د سید محمد ګیسو دراز له پیدایښت نه نژدې څلور سوه کاله قدامت لري. سلطان محمود غزنوي د اوویشت کالو په عمر په ۹۹۸ کال میلادي کې(۳۵) (چې له ۳۷۷ هجری لمریز یا ۴۱۹ هجری سپوږمیز کال سره برابر دی) پاچاهۍ ته ورسید. که د دوی دغه روایت سم وي، نو باید

(c) ketabton.com: The Digital Library


دې ټکی ته پاملرنه وشي چې څنګه کیدای شي چې د سید محمد ګیسو دراز له پیدایښت څخه څلور سوه کاله وړاندې د ده اولاده ملک آباد کړي.
یاد شوو دلایلو ته تر پاملرنې وروسته د ځینو ثقه پښتنو دغه قول بې ځایه نه ښکاري چې وایي (په افغانستان کې چې کومو خلکو ته د خپل نسب په اړه معلومات نه وي. نو هغوی ځانونه د سید محمد ګیسو دراز اولاده بولي) او هغه فقره چې په مخزن افغاني کې لیکل شوې ده چې د سلطان بهلول لودي او نورو د واکمنۍ په دوره کې د دې قومونو د نسب ذکر راغلی دی، نو دا خبره هم سمه نه ده، ځکه چې سلطان بهلول لودي او سید محمد ګیسو دراز هم عصره یا یو بل ته په نږدې وختونو کې تیر شوي دي. په ۸۵۵ هجری کال سلطان بهلول لودي د ډیلی په تخت کښیناست او سید محمد ګیسو دراز تر ۸۲۵ هجري کال پورې په دکن کې ژوند کاوه، نو په دغو دیرشو کلونو کې د سید محمد ګیسو دراز اولاده دومره ډیریدای نشي څومره چې د دغو څلورو ښاخونو خلک په هغه وخت کې وو او نه په دومره لږه موده کې د دې امکان موجود و، چې د ده اولاده په دې ډول سره یو ځای شي او دومره زیاته شي.
د وردګ د نامه د تسمیې د وجې په اړه هم ځینې نومونې او تسمیې راغلی دي چې یوه یې هم تواریخ خورشید جهان راوړی او هغه داسې ده چې کله چې د وردګ بابا په پلار باندې د زوی د پیدا کیدو زیری وشو، نو د هغه مخې ته بته ګرځیده څرنګه چې بتې ته په دری ژبه کې وردک وایي نو نوم یې ورباندې وردک کیښود،(۳۶).
د دې تر څنګ د وردګ د نامه په هکله ما د سپین ږیرو څخه دا هم اوریدلي چې کله وردګ بابا نړۍ ته سترګی پرانیستې، نو پلار یې په وظیفه(عبادت) یا ویرد باندې ناست وو او ذکر یې کاوه چې ناڅاپه د زوی د پیدا کیدو زیری ورباندې وشو، نو نوموړی یې هم نوم(ویرد– ډک) یعنی له ویرد یا ذکر څخه ډک ورباندې کیښود.
خو په هر صورت د لغتونو او نومونو د ریښو پیژندنه په اروپایی ژبو کې Etymology بولي، د دغو ریښو پیژندنه کله کله پر علمي اصولو بنا نه وي او د لفظي ورته والي له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې له حقيقت څخه لرې توجيه کيږي. دغسې عاميانه توجيهات او بې اساسه ريښې پيدا کول په انګريزی ژبه folk etymology بلله کيږي. په دغه عاميانه تيمولوژی يا فولک تيمولوژی کې ځينې توجيهات خندوونکي وي چې کولی شو د دغو توجيهاتو له ډلې څخه د کرلانی د نوم ارتباط له کرايی سره او يا هم د وردګ د نوم ارتباط له بتې سره او داسې نور موارد په ګوته کړو.

نو د خپل بحث د پايلې په توګه ويلی شو چې په سيدانو باندې د وردګو ورګډول د تاريخي اسنادو پر بنسټ له حقيقته لرې او له يو فولکلوريک روايت څخه پرته بل څه نه دي. بلکې وردګ د کرلاني پښتنو يوه ستره پښنه ده چې اوس مهال په لس ګونو ښاخونه او پښې لري.

# د وردګو لرغوني او اوسني استوګنځايونه

د وردګو د قبيلې د اوسيدلو اصلي ټاټوبی د سليمان د غره لړۍ بلل شوې ده، چې له هغې څخه د کرلاني ټوله قبيله خوره وره شوې ده او په اوسنۍ سيمه کې ميشت شوي دي.

د وزيرو قوم وايي چې وردګ او وزير ورونه دي او د وردګ بابا اصلي ټاټوبی وزيرستان دی. د وزيرستان او بغر د غره تر منځ د وردګ بابا په نامه يو زيارت هم شته.

په کومه پراخه سيمه کې چې دغه قوم استوګنه لري هغه هم د وردګ په نوم يادېږی، چې د ډيرو غرونو له کبله يې د دغه لوی قوم استوګن ځای نسبتاً کوچنی کړی او وګړي يې بې جايداده کړي دي.

د غربي مستشرقينو له ډلې څخه چې د پښتنو د قومونو او سيمو په هکله يې پراخې څېړنې کړي او لومړی غربي مؤلف دی چې د پښتنو د اصل او نسب په هکله يې دوديز روايات

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کلکه رد کړي دي یو هم منستوارت الفنستن دی. د نوموړی مشهور کتاب «د کابل سلطنت بیان» دی چې په ۱۸۱۴ کال کې لیکل شوی دی،(۳۷).

نوموړی د وردګو په هکله په خپل اثر د کابل سلطنت په دویم ټوک کې چې د ښاغلي پوهنوال ډاکتر محمد حسن کاکړ له خوا ژباړل شوی او د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو څیړنو د بین المللي مرکز له خوا په۱۳۶۱ هجري لمریز کال کې خپور شوی دی، د وردګو د سیمې او د هغوی د خصوصیاتو په هکله داسې راوړي دي:

«د وردګو په باب به یوازې څو خبرې بس وي ما ړومبی لیکلي وو چې د وردګو لویدیځ ته د پاراپامیزاد غرونه او په دریو نورو خواو کې یې غلزي پراته دي. د دوی سیمه د پارامیزاد او نورو غرونو تر منځ چې هغه غرونه لوګر له خروار نه بیلوی، د یوه اوږده ګوګ په توګه پرته ده. د پارا پامیزاد ځینې ژورې ناوې هم په وردګو پورې اړه لري. هغه سیند چې په غلطه په غزني نومول شوی د دوی د ځمکو په جنوب کې بهیږي او د هغو د ټولې ساحې په منځ کې جاري دی. ټول وردګان کروند ګر دي. دوی آرام او با وقار او پوره ایل خلک دي. حکومت ته مالیات ورکوي او د اردو لپاره یوه غټه ونډه برابروي. له خپلو ګاونډیو سره په جنګ کې نه دي او د دوی دعوی یا د دوی خپل ملایان یا په لوګر کې د حکومت قاضی فیصله کوي»،(۳۸).

وردګ برسیره پر دې چې د وردګو په اوسنۍ سیمه کې میشت دي، د هیواد نورو ولایتونو ته یې هم د بیلابیلو لاملونو له کبله مهاجرتونه ترسره کړي دي، چې کولی شو دغه کسان په څو ډلو وویشو:

لومړۍ هغه ډله وردګ دي چې په پخوا وختونو کې د ناقلینو په توګه د افغانستان نورو سیمو ته لیږل شوي دي او په ځانګړی توګه د بلخ ، شبرغان، کندز، بغلان، هلمند، سمنګانو، غور، کنړ، هرات، غزني او نورو سیمو کې میشت شوي دي.

دوهمه ډله هغه وردګ دي چې د بې کورۍ، بې جایدادۍ، ناچارۍ او نورو عواملو له امله د هیواد پلازمینې کابل ته راغلي او یا هم د هیواد په نورو سیمو کې یې استوګنه غوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي ده. دریمه ډله هغه کسان دي، چې د ثور له کودتا څخه وروسته یې د جنګ جګړو او یا هم کورنیو لاملونو له کبله پردیو ملکونو ته کډوال شوي دي. چې د ایران په پلازمینه تهران، د قزوین ښار او د دغه هیواد نور ښارونه د یادولو وړ دي. همدا راز د پاکستان په پیښور، کویټه او نورو ښارونو او د کډوالو په پنډ غالو کې زموږ د هیوادوالو پاتې کورنۍ زموږ د ادعا پخلی کوي.

د هیواد په دننه کې د بلخ ولایت په سالار تپه او تیمورک کې، د کندز ولایت د امام صاحب په ولسوالۍ کې په زرګونو وردګ اوسیږي.

د اله سای اوسیدونکي چې اوسمهال د کاپیسا په ولایت پورې اړه لري، وردګ دي، خو د وخت په تیریدو سره یې ژبه پشه یې شوې ده. د بامیانو د غندک د درې اوسیدونکي هم وردګ دي، چې اوس مهال په فارسی ژبه خبرې کوي. د میمنې ولایت په پښتون کوټ کې هم یو شمیر وردګ کورنۍ میشتې دي. د کونړ ولایت په بریکوټ کې د ارناوې او چترال ترمنځ د وردګو لوی ولس میشت دی. همدا راز د خوست په اسماعیل خیلو کې د حیدر خیلو په نامه د وردګو یو ټبر استوګنه لري،(۳۹).

د لغمان په ولایت کې هم لکه څرنګه چې مخکې مو ګوته و نیوه، یو کلی د وردګو په نامه شته دی.

همدا راز د غور ولایت په مرکز کې هم د وردګو یو ستر کلی شته دی، چې تر اوسه پورې یې خپله ژبه او ګړدود په کلکه ساتلې او خپله مورنۍ ژبه یې له لاسه نه ده ورکړې.

په همدې توګه اوس مهال د غزني په ښار او شاوخوا سیمو کې د وردګو زرګونه کورنۍ ژوند کوي چې زیاتره یې د وردګو له جغتو په ولسوالۍ سره تړاو لري او د غزني ښار په مرکزي، خشکو، د مهاجرینو په ښارګوټي او مختلفو سیمو کې یې کورونه آباد کړي دي.

د دې خلکو ځینې په حکومتي، کورنیو او نړیوالو موسسو کې کار کوي خو په غزني کې د هستوګنو وردګو زیاتره برخه په سوداګریزو، تخنیکي او کورجوړولو په چارو بوخته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کابل ښار د احمد شاه بابا په مینه کې اوسمهال کې د وردګو نژدې ۷۰ کورونه هستوګنه لري، چې ډېر ښه خپلمنځي یوالی لري او همغه د وردګو د کلي کور دودونه او عنعنات یې په کلکه ساتلي دي. په اوسمهال کې ستر قومی مشر الحاج ملا مامورجان حلیمي دی، چې د وردګو ولایت د سید آباد ولسوالۍ د حسن بیک د کلي اوسیدونکی دی.

همدارنګه د کابل ښار د سلام په غونډۍ، کارته سخی، خوشحال خان مینه، قرغه، دارالامان، میرویس میدان یا کوټه سنګی، کمپنۍ، نیازبیګ او نورو سیمو کې هم ګڼ شمیر وردګ اوسیږي. همدارنګه هغه وردګ چې اوس مهال یې کورونه په کابل کې دي او په پلازمینه کې اوسیږي شمیر یې تر ۱۵۰۰۰ کورنیو اوښتی او د افرادو شمیر یې له څلوېښت څخه تر پنځوس زرو پورې اټکل کیدای شي، چې د زیاترو کورنیو مشران په دولتي دوایرو، کورنیو او نړیوالو موسسو کې دندې تر سره کوي او اولادونه یې د کابل په تعلیمي موسسو کې په زده کړو بوخت دي، چې د کابل د ښار په یاد شوو سیمو کې استوګنه لري.

په همدې توګه د اوسني پنجشیر د رخې په ولسوالۍ کې د جمال وردګ په نامه یوه دره موقعیت لري چې په غالب ګمان یې اوسیدونکی وردګ دي او په دې اړه نورو معلوماتو او څیړنو ته اړتیا لیدل کیږي.

د پاکستان په لاهور کې د وردګ ستیشن پمپ په نامه باندې یو لوی د تیلو پمپ شته دی او داسې انګیرل کیږي چې هلته هم د وردګو یو شمیر خلک استوګن وي، خو هغوی خپله ژبه هیره کړې او اوسمهال په سیمه ییزو ژبو خبرې کوي. همدارنګه دغه خلک په پیښور کې د لاهور هارډویر په نامه یوه نمایندګي لري. په همدې توګه په باجوړ کې هم وردګ استوګنه لري. هلته د مایار وردګ په نامه د موټرونو د یوې داسې اتحادیې لوحه هم شته ده چې د موټرو شمیره یې ۴۰۰ او د کسبګرو شمیره یې زرګونو ته رسیږي،(۴۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو شمیر وردګ د کونړ، هرات، هلمند(د سنګین ولسوالي)، زابل، او بغلان په ولایتونو کې هم استوګنه لري. هغه وردګ چې په کونړ کې اوسیږي، د استوګنې ځایونه یې لوی ګرویګال، ګانشال او جندول دي. د ګانشالیانو مشران وايي چې د دوی اصلي ټاټوبی د وردګو سیمه ده او په خټه مایار دي. نژدې ۱۷۰ کاله تر مخه یو شمیر وردګ د دیر سیمې ته راغلل چې ځینې یې د دیر په سیمه کې پاتې شول او یو شمیر یې د جندول ګانشال ته راغلل. د ګانشال څخه د وردګو ځینې کورونه ۱۴۰ کاله پخوا د اسمار د خاني په دوره کې دانګام ته راغلل. له راتګ نه وروسته دوی د خان او سالارزو د ولسي ځمکو بزګران شول او بزګري یې کوله. د وخت په تیریدو سره دوی په ګوریګا کې شاړې ځمکې آبادې کړې او ځینې ځمکې یې په نغدو پیسو واخیستې چې اوس هلته یو شمیر یې وردګ د خپلو ځمکو او ځینې یې هم د سالارزو د ځمکو بزګري کوي. یو شمیر وردګ ادعا کوي چې د دوی پلرونه د امیر عبدالرحمن خان د پاچاهۍ په لومړي کال د وردګو له سیمې څخه دلته راغلل او د دوی پلرونه په خټه مایار دي. د راتګ نه وروسته د اسمار خان دوی ته په ګوریګا کې ځمکې ورکړې او دوی د ګانشالیانو سره یو ځای استوګن شول. دوی د خپلو ځمکو د بزګرۍ چارې پخپله ترسره کوي. په دوی کې مالداري بیخي لږ ده او د سالارزو او ماموندو سره بیخي خلط شوي دي.

ښاغلی ډاکتر یاد طالبي د پښتنو ټولنیز- اقتصادي جوړښت د ۲۲۷- ۲۲۸ مخونو په قول لیکي چې د دوی ژبې د لهجې په ګډون د ژوند ټول اړخونه د سالارزو او ماموندو تر اغیزې لاندې راغلي دي،(۴۱).

همدا راز د وردګو قبیلې هغه شمیر چې په هرات کې استوګنه لری، ځانته یوه محله لری چې د وردګانو محله یې بولي او د انجیل د ولسوالۍ په اداري واحد پورې اړه لری. یو شمیر وردګ د هلمند ولایت د نادعلی، مرجه او ناوه بارکزایی په ولسوالیو کې هم میشت دي. د وردګو ځینې کورنۍ د تخار ولایت د خواجه غار په ولسوالۍ کې هم اوسیږي،(۴۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وردګو د قبیلې یو زیات شمیر کورنۍ د راولپنډۍ د ضلعې په چچ او نټو کې هم اوسیږي.

په عمومي ډول په وردګو کې د معیار یا مایار، نوري او میرخیل قومونه تر نورو څخه مشهور دي.

وردګ د هیواد په دننه کې برسیره د پښتونستان په دیر او د پاکستان په پنجاب او بلوچستان ایالتونو کې هم په لوی شمیر هستوګن دي. دوی خپل هویت پیژني او دا هم ورته معلومه ده چې د وردګو په کومه پښنه پورې تړاو لري. په دیر او بلوچستان کې خو استوګن وردګ د هماغو ځایونو د لهجو سره سمه پښتو وايي، خو په پنجاب کې یې بیا د سیمه ییزو اغیزو له کبله پښتو ژبه هیره کړې ده او په سیمه ییزه ژبه خبرې کوي. وردګ د پاکستان په سیاسي او ټولنیز ډګر کې لوی لوی شخصیتونه وړاندې کړي دي چې د بیلګې په توګه جنرال وحید وردګ یادولی شو چې د پاکستان په اردو کې پرمختللی جنرال دی او د جهاد پر مهال یې له افغان مهاجرینو سره ځانګړې مینه درلوده او خپلې مرستې یې له افغانانو نه دي سپمولې. همدارنګه د جنرال رحمت خان وردګ نوم هم د یادولو وړ دی چې د پاکستان د تحریک استقلال د ګوند مرستیال و او وروسته یې بیا خپل ګوند بیل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د وردګو سيمه او ولايت

د وردګو ولايت د کابل لويديځ لور ته د ديرشو کيلو مترو په واټن کې موقعيت لري. د شمال لور ته يې د پروان او باميان ولايتونه، ختيځ لور ته يې کابل او لوګر ولايتونه، جنوب لور ته يې د غزني ولايت او لويديځ لور ته يې د باميانو ولايت پروت دی،(۴۳).

د وردګو ولايت مرکز له سمندر څخه ۲۲۲۵ متره لوړوالی لري او مساحت يې د افغانستان د ولايتونو جغرافيه(۴۴) ۹۰۲۵ مربع کيلومتره او اتلس قريه های افغانستان(۴۵) کې بيا ۹۶۹۹ مربع کيلومتره ښودل شوی دی. د دغه ولايت د وګړو شمير هم د بيلابيلو ماخذو له خوا په توپير ښودل شوی دی. خو د ۱۳۸۴ کال احصاييوي کالنامې د دغه ولايت نفوس ۴۹۶۷۰۰ کسان ښودلی دی، چې ۲۵۳۵۰۰ تنه يې نارينه او ۲۴۳۲۰۰ تنه يې ښځينه ښودل شوی دی چې دهرې ولسوالۍ د استوګنو کسانو شمير يې په تر تيب سره په لاندې ډول دی:

ميدان ښار د ولايت مرکز ۳۴۲۰۰ تنه

د جلريز ولسوالی ۴۵۱۰۰ تنه

د بهسودو د ولسوالۍ لومړۍ برخه ۳۱۵۰۰ تنه

د بهسودو مرکز ۱۰۱۵۰۰ تنه

د دايميرداد ولسوالۍ ۲۶۴۰۰ تنه

د جغتو ولسوالۍ ۳۸۹۰۰ تنه

د چک وردګ ولسوالۍ ۷۱۸۰۰ تنه

د سيداباد ولسوالۍ ۹۸۸۰۰ تنه

د نرخ ولسوالۍ ۴۸۵۰۰ تنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د وردګو ولایت د هغو ولایتونو له ډلې څخه دی، چې په یوه مربع کیلومتر کې یې له ۵۰ څخه تر ۱۵۰ تنو پورې ژوند کوي. په منځنۍ توګه د وردګو ولایت په هر مربع کیلومتر کې د اوسیدونکو ګڼوالی ۵,۴۷ تنو ته رسیږي.

# د وردګو ولایت اداري شالید ته یوه لنډه کتنه

زموږ د ګران هیواد افغانستان اداري جوړښت د تاریخ په بیلابیلو پیرونو کې د مختلفو لاملونو له امله بدلون موندلی او د هیواد اداري جوړښت خپلې بنې بدلې کړې دي.
د افغانستان د معاصر تاریخ څخه یې که پیل کړو نو وینو چې زموږ هیواد اته ولایتونه او پنځه لس اعلی حکومتونه درلودل. د امیر شیرعلی خان د واکمنۍ پرمهال د هیواد اداری تشکیلات رالنډ او د پنځو ولایتونو هر یو: د کابل ولایت، قندهار ولایت، د افغاني ترکستان ولایت، د هرات ولایت او د فراه ولایت وو.
د امیر عبدالرحمن د واکمنۍ پرمهال هیواد په شپږو ولایتونو وویشل شو او د پورته یادو شوو ولایتونو تر څنګ د بدخشان ولایت ور زیات شو.
د امیر امان الله خان د واکمنۍ پر مهال د هیواد د اداری تشکیلاتو په لمن کې پنځه ولایتونه او څلور اعلی حکومتونو ځای خپل کړ. چې عبارت دي له: کابل، قندهار، هرات، ترکستان، قطغن او بدخشان.
اعلی حکومتونه یې عبارت و له: د مشرقي اعلی حکومت، د جنوبي سمت اعلی حکومت، د میمنې اعلی حکومت، د فراه اعلی حکومت.
چې دا واحدونه په خپل وار په نورو ورو واحدونو ویشل شوي وو.
له ۱۳۰۰ تر ۱۳۴۳ هجری لمریز کال پورې د هیواد په اداري ویش کې دومره بدلون رامنځته نشو. خو د لومړي ځل له پاره د اساسي قانون او دیموکراسۍ د پلي کولو له پاره د هیواد په تشکیلاتو کې بنسټیز بدلونونه رامنځ ته شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د وردګو ولايت چې اوسنۍ ميدان يې يوه برخه وه د امير شير علی خان د واکمنۍ څخه راپه دی خوا د کابل په ولايت پورې تړاو درلود خو په ۱۳۴۳ کال کې د خلکود ستونزو له کبله چې له محاکمو سره يې لرلې او د ورځني ارتباط او اجراييوي کارونو له پاره په خپل وخت ولايت او حکومت ته رسيدلي نه شول، نو وردګ د افغانستان په اداري چوکاټ کې د يوه ځانګړي ولايت په توګه داخل کړل شول،(۴۷). په ۱۳۴۳ هجري لمريز کال کې لومړی هيواد په ۲۹ اداري واحدونو يا ولايتونو باندې وويشل شو او وروسته بيا دغه ولايتونه په لويو ولسواليو، ولسواليو(لومړۍ درجه، دوهمه درجه، دريمه درجه او څلورمه درجه) او علاقه داريو باندې وويشل شول. په ۱۳۴۴ هجری لمريز کال کې د کټواز ولايت په غزنی او د ارګون ولايت په پکتيا پورې وتړل شول او په دې توګه افغانستان په اوه ويشتو ولايتونو باندې وويشل شو او نور واحدونه يې په خپل حال پاتې شول.

په ۱۳۵۳ کال هجری لمريز کال کې د کاپيسا او کنړونو ولايت په لويو ولسواليو باندې تعديل او د پروان او ننګرهار په ولايتونو پورې وتړل شول. خو په ۱۳۵۶ هجری لمريز کال کې يو ځل بيا د کنړونو لويه ولسوالي د ننګرهار له ولايت څخه بيله او د ځانګړي ولايت په توګه وپيژندل شو.

د هيواد په ملکي ويش کې د وزيرانو شورا له خوا په ۱۴/۱۰/۱۳۵۹ نيټه کې درې نور ولايتونه هر يو لوګر، کاپيسا او وردګ د ولايت په سطحه منظور کړل،(۴۸).

د وردګو ولايت مرکز په لومړی سر کې کوټه عشرو و، خو د سردار محمد داود خان په وخت کې يې مرکز له کوټه عشرو څخه ميدان ښارته وليږدول شو، چې تر اوسه پورې د دغه ولايت د مرکز په توګه پاتې شوی دی. د دغه ولايت نوم يوازې وردګ و، خو د ډاکتر نجيب الله د واکمنۍ له نسکوريدو څخه وروسته د دغه ولايت نوم په ميدان وردګ باندې اړول شوی دی چې په دري ژبه د نومړي ولايت نوم دی. خو په پښتو کې ورته د وردګو او ميدان ولايت ويل کيږي. بايد وويل شي چې دغه نوم د سيمې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو له خوا ورکړل شوی دی او په دې اړه هيڅ راز دولتي پريکړه وجود نه لري او زيات خلک يې د وردګ د ولايت په نوم پيژني او په تاريخي آثارو کې هم تر دې مهاله يوازې د وردګ په نوم يادېږي چې ميدان يې مرکز دی. همدارنګه د وردګو لوی اکثريت اوسيدونکي هم دغه نوم ته په پخوانۍ بڼه ګوري او د وردګ ولايت يې بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وردګو ولايت ځينې ولسوالۍ درې او کلي

## د سيدآباد ولسوالۍ

د سيد آباد ولسوالي چې د کابل – قندهار په لويه لاره پرته ده، د ښکلو او شنو سيمو درلودونکې ده، چې مشهورې درې يې د تنګۍ دره، د شنيز دره او د اونخي د درې په نامه يادېږي.

د دغه ولسوالۍ مشهور غرونونه دا دي: د ګوربت غر، د آبدرې غر، د زمبورک غر، د ورسک غر، د بندکول غر، د چوجان غر، د سياه چوب غر، د زربوم غر، د چنار غر، د لوړو بابا غر او نور.

د دغې ولسوالۍ مشهور کلي دا دي:

امير کلا، سپين ورسک، حسن خيل، جوی زرين، دو آب، ګلی خيل، ډاک بغرۍ، هاشم خيل، توپ، زرين خيل، خرياڼ، چوجان، سياه چوب، شاطر، لوړ، سره کلا، پاينده خيل، امان خيل، تاجک بيک، حيدر خيل، لرم، ملی خيل، ښادی خيل، طره خيل، يوسف خيل، سالار، سلطان خيل، دوندوکی، باغک، پټان خيل، او طوری، چهار آسياب، آب دره، لوړه، جنګ جای، مهرو، شش قلعه، سنډور، شيخی، حمزه خيل، حکيم خيل، حسن بيک، پيرونګ، موسی خيل، بادام، ګدايي، هوسی خيل، محبت خيل، يامی خيل، چارمغز، يارک خيل، الم خيل، رحيم خيل، جوګی خيل، ياويز او نور.

## د چک ولسوالۍ

د چک ولسوالۍ هم د وردګو ولايت ډېره مشهوره ولسوالی ده، چې د سيدآباد، نرخ، دايميرداد او جغتو ولسواليو سره ګډې پولې لري او د چک د برېښنا بند او د برېښنا فابريکه هم په همدې ولسوالۍ کې موقعيت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چک ولسوالي هم په سمسورتیا کې ډیر نوم لری او ځینې سیمې یې ډیرې مشهورې او میوې یې د ډیر صفت وړ دي. د چک ولسوالۍ مشهورې درې عبارت دي له:

د خوات دره، د مسجد دره، د عربان دره، د سیاو دره، د نیک پای قول دره، د بغلان دره او د بیک سمند دره.

د چک ولسوالۍ د ځینې غرونو نومونه دا دي: د بیک سمند غر، د الاسنګ غر، د مودو غر، د ګاوکش غر، د بوت غر، د بوم غر، د کنج غتو غر، د آوکزار غر، د خواجه انګور غر، سپین غر، د اوشلان غر او نور.

د چک ولسوالۍ ځینې مشهور کلي دا دي:

امبوخاک، شاهی قلندر، ګوډان (ګلدان)، بومبی، لوړ، زمان خیل، بیک سمند، بندچک، رشیدان، سناخیل، د بابا قلعه، نورخیل، لاله خیل، مودو، نورخیل، دوران خیل، آدم خیل، مندوخیل، قولک، آخندبابا، سپیدار، سیوکه، کوتره، بیانان، مومند، پیشکار، څلګری، برغوځو، بوم، ګنیګر، شبش خان، بهادر خان، بیداری، شریف خیل، بولاغ، خواجه انګور، مانجرخیل، شالې، چینه، طرمحمد، الیشنګ، قاضیان، حکیم خیل، زویه، نهه برجه، نیک پای قول، چوړۍ، سرپوښ، غلام قلعه، محمود قلعه، دیوالک، ګل سینکه، سنګ بابا، شینیه، اله سنګ، چهار مرده،مجت، کوډۍ، برغوسون، مامد، قادرخیل، میتر، عربان، شبش خان، آوکزار.

## د دایمیرداد ولسوالۍ:

د دایمیرداد ولسوالي په وروستیو کلونو کې د ولسوالۍ کچې ته پورته کړل شوه. دا ولسوالي هم د وردګو د مشهورو ولسوالیو په ډله کې راځي او یو شمیر مشهورې درې یې دا دي:

تنګه دره، انکو دره، د چینو دره، د نازک خیلو دره، د چنګه دره، د پاره دره،

د دایمیرداد ولسوالۍ د مشهوره غرونو نومونه دا دي: د کلاغ غر، د سپین کلا غر، د بخشک غر، د چهاردیوال غر، د رازق خیلو غر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دایمیرداد د ولسوالۍ د ځینې کلیو نومونه عبارت دي له:

خواجګان، سدو خیل، نازک خیل، ګلی، رشیدان، کلاخ، دوراني، میران، چنګه، انکو، شیرتوغی، بخشک، چهاردیوار، دبنتکه، موکه، کنج، پولادی، خشکول، پاک بلاغ، سوخته، لیجان خیل، تخت، پای کوتل او چتو دي.

**د جغتو ولسوالۍ**

جغتو د وردګو د ولایت یوه ولسوالي ده او داسې یوه سیمه ده، چې د وردګو د ولایت لویدیځ لور ته پرته ده چې شمال ته یې د چک د ولسوالۍ د ګردن مسجد سیمه، جنوب ته یې د غزني خواجه عمري ولسوالۍ، ختیځ ته یې د سیدآباد د ولسوالۍ د شنیز سیمه چې د ګوربت تاریخي غرونه یې سره بیلوي، جنوب ختیځ ته یې د سیدآباد د ولسوالۍ د اونخي دره چې د ګوربت د غرونو په امتداد کې یې لاره ور ایستلې ده او لویدیځ ته یې د غزني د ناور او رشیدانو سیمې موقعیت لري. دا سیمه له ځینو درو څخه جوړه شوې چې عبارت دي له ګلدرې یا ګوربت درې چې د ګنده کول په نوم هم یادیږي ( د لیګي خیل، سرطیب خیل، ظریف خیل، چینه، همزول خیل، صالح خیل او عبدالرحیم خیل کلي د خپل شمولیت په دایره کې راولي) ، د تورو غرونو یا ساوسنګ دره ، د ایریابونو دره ، د بیدمښک، پیتاوکې او کله منار دره، د کونج جغتو دره ، د دورانیو او باریکاو دره، د خواجګانو، آوتلې، آدینې، سلیمان ښاره او رشیدانو دره او د خوجاوو، مردلې او چنیو دره. لدې سره سره جغتو یو لړ نورې لویې او وړې درې او غرونه هم لري چې د ګوربت، ګوړکو، هلاکو، برغولي او غار مرغ غرونه یې خورا مهم دي. په همدې توګه د جغتو د ولسوالۍ او د غزني د ناور د سیمې تر منځ لوی لوی غرونه موقعیت لري چې نوموړې ولسوالۍ ته له ځانه سره ګنې ښکلاوې لري او د کلکو دیوالونو په څیر په ځمکه باندې میخ دي چې سلسله له غابني یا ګردن مسجد څخه پیل او د رشیدانو دره یې له ګوړکو سره پرې کوي. د جغتو په مرکزي یا منځنۍ برخه کې هم یو لړ لوی او واړه کلي موقعیت لري چې لوی کلي (کلاندې)، اخترخیل، سعادت خیل، کمال خیل، خواجګان،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصري خيل، محمدکلي، دوراني، خدراڼ، شابيتکه، چينو، دولنه، بيدموښک، کله منار، پيتاوکه، کاريز، سيدې، سنځله، فولاديبک، ديوالک، کوډۍ، اله نه، نوی ښار، بلندخيل، چوپان، ببړخيل، جيشي، تکی، فولاديبک، لالکی، سرخ کول، کوچنی زرين، لوی زرين، بونګی، لوی ايرياو، کمکی ايرياو، دهنه، نوی ښار، کوډۍ، آدينه، غوزبه، سياکول، سليمان ښار، وزير ښار، غاښی، موله، نک، ګلدره، د رشيدانو يوه برخه او داسې نور د ساري په توګه يادولی شو.

په جغتو کې د اوبو هغه لوی بند هم موقعيت لري چې د مصري خيلو او کمال خيلو په کښتنۍ او تنګه برخه کې جوړ شوی دی ختيځ لور ته يې د جغتو د خوجاوو دښتې او لويديځ لور ته يې د برغولي د تاريخي غرونو سلسله پرته ده. د نوموړي بند کاسې ته هغه اوبه راځي چې د رشيدانو او سرياب له درو څخه سرچينه اخلي، په سليمان ښار، وزير ښار، آدينه او آوتله باندې رالويږي او د خواجګانو څخه لږ راښکته د بند په کاسه ورګډيږي. د دې بند بله سرچينه له باريکا، غار مرغ او دورانيو څخه را تيريږي او د څو کليو او يوې دښتې په طی کولو سره د بند په کاسه ورګډيږي. په همدې توګه نوموړي بند ته د ګوربت د تاريخي غره هغه اوبه هم راځي چې لومړۍ به ګلدره راتوييږي او بيا د ببړخيلو، لالکي، کلاندې، سيدې، اخترخيلو، او کمال خيلو کلي شاته پريږدي او د بند کاسې ته ځان رسوي کله کله چې کال ډير آباد وي نو د ګوربت اوبو ته د کونجغتو، ساوسنګ، ايريابونو او دهنې اوبه هم ورګډيږي د جغتو په ولسوالۍ، اخترخيلو او کمال خيلو کې د ګلدرې له اوبو سره تر يو ځای کيدو وروسته د سلطان د بند کاسې ته ورځي. دغه بند د سلطان محمود غزنوي په نوم ياديږي او تاريخي لرليد يې تر همده پورې رسيږي چې وروسته په افغانستان باندې دغازي امان الله خان او اعليحضرت محمدظاهرشاه د واکمنيو پر مهال ترميم شوی دی. د نوموړي بند له اوبو څخه د غزني د ښار او زياتو ولسواليو ځمکې خړوبيږي خو د وردګو اړوند يوازې د کله منار، پيتاوکې، او بيدمښک د خلکو ځمکو ته دغه بند اوبه ورکوي او د جغتو نورې ځمکې لا تر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مهاله نه شي خړوبولای او نه هم کومه داسې لویه ویاله ځینې هسکه شوې او یا په پلان کې ده چې د جغتو پراخې دښتې پرې خړوبې شي.**

## د نرخ ولسوالي:

د نرخ ولسوالۍ هم د وردګو ولایت له ولسوالیوڅخه یوه ولسوالي ده، چې د میدان ښار جنوب ختیځ لور ته پرته ده. اوسیدونکي یې په لویه کې ټول پښتانه دي او په بزګرۍ او ښوالي بوخت دي. د هېواد سترخدمتګار د کرهنې پخوانی وزیر ډاکټر عبدالوکیل پلرنۍ ټاټوبی همدغه ولسوالي او د عمرخېلونومې سیمه ده، چې اوس یې زیارت هم د خواجه بلند ولي په لویه هدیره کې دی.

دغه ولسوالي د ځینو مهمو درې عبارت دي له: ده حیات چې د (مړو) په نامه هم یادېږي، کریمداد، دادل، صدمرده، چین زایي، توکرک، اخچې لویه دره، د اخچې وړه دره او نورې شاملې دي. همدا شان د شاغاسي مشهوره کلا هم د نرخ ولسوالۍ په پیل کې پرته ده.

د نرخ ولسوالۍ د ځینو مهمو کلیو نومونه دا دي: برګه کلا، سهراب باباکلي، ده بوچی، حاجي مصلي بابا، د خورقه، موسي خېل، مارک، خیالي، آب خانه، شمشېر، ملک خېل، لویه کلا، د حاجي احمدخان ځای، حیات خان کلی، پاینده کلا، عبدالرحمن خېل، بای خان خېل، چین زایي کلی، پاچاخېل، دلیل خېل، سرفرازخېل، پیرداد، جوي اسیا، خوجه بلند، اول خېل، شادي کلا، د اندړوکلا، خلیل یان، محمد رضا، سپینه کلا، ساک، نوآباد، جوکول، شاه قدم، شاه مزار، جلال خېل، امردین خېل، سید نورخېل، محمدشاه خېل، تاتر، صدبرګ، بوچه کلا، د غونډۍ کلا او نور...

**د دغه ولسوالۍ مهم غرونه عبارت دي: د خواجه بلند ولي غر، سره غونډۍ، د الغتاغر چې د کامران په قول کې پروت دی، توره غونډۍ، د اخچې غر، تور غر، د توکرک غر، د دادل د پرتو غرونو لړۍ او نور.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د وردګو د ولایت والیان:

د وردګو ولایت د اداری تشکیلاتو او اداری کارونو د پر مخ بیولو له پاره د بیلابیلو واکمنیو پرمهال مختلف کسان په دندو ګمارل شوي دي. چې ځینې یې په لاندې ډول وړاندې کیږي:

د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه په دوره کې لاندې والیانو د وردګو په ولایت کې دنده تر سره کړې ده:

عبدالباقي یوسفزی

محمد ابراهیم عباسي

عبدالمالک

لعل پوروال

عبدالصمد بخشي

د سردار محمد داود خان په جمهوریت کې لاندې کسانو دنده تر سره کړې ده:

عبدالقادر قاضی

امیر محمد امیري

د نور محمد تره کي او حفیظ الله امین په دوره کې د وردګو د ولایت والیان:

غلام حسن خان ۱۳۵۷

عزیزالله وګړی ۱۳۵۷-۱۳۵۸

محمود غفوري ۱۳۵۸

د ببرک کارمل په دوره کې:

احمد جان رزم آور ۱۳۵۹– ۱۳۶۰

غلام رسول یوسفزی ۱۳۶۰-۱۳۶۴

بسم الله عمر ۱۳۶۴-۱۳۶۵

د ډاکتر نجیب الله په دوره کې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد شریف نوری ۱۳۶۵

شیرمحمد ولسیار ۱۳۷۵

حیات الله رازقي

جنرال محمد ظریف امر خیل

فضل الدین مهري

د مجاهدینو او طالبانو په دوره کې:

ډاکتر عزت الله نوري

ملا عبدالرشید

ملا عبدالصمد خنجري

ملا عبدالحکیم حقاني

ملا شمس الدین

د لنډ مهالی اداري له جوړیدو څخه وروسته:

ارواښاد حاجي سیف الله احمدزی

الحاج حمیدالله توخی

راز محمد دلیلي

الحاج عبدالجبار نعیمي(۴۹).

اوس مهال ښاغلی محمد حلیم فدایي د وردګو د ولایت د والي په توګه دنده ترسره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وردګو د ځینو سیمو د نوم اینښودلو فلسفه

**شش ګاو:**

د شش ګاو سیمه د کابل – غزني په اوږدو کې ځای لري. د شش ګاو د نوم اینښودلو په اړه دوه نظریې موجودې دي:

لومړی دا چې یوه عامیانه وجه تسمیه شته او هغه دا ده چې وایي: یو وخت څو تنه په یوه سیمه کې له یوې خوا او څو تنه له بلې خوا راغلل چې ټول شپږ تنه کیدل او پرته له دې چې یو بل ته سلام یا کلام وکړي له یو بل څخه تیر شول او د خلکو په ګمان د غویو په شان د یو بل له څنګ څخه تیر شول.

بله وینا دا ده چې دغه کلمه له دوو عنصرو یعنی شپږو(۵+۱) او بله کلمه یعنې ګاو څخه جوړه شوی ده. د ګاو کلمه اوس مهال هم په هغه شمیر هندو اروپایی ژبو کې چې له دري ژبې سره مشترکه ریښه لري د کلي په معنی استعمالیږي. د بیلګې په توګه د ګاو کلمه په آلماني ژبه کې د ګاو لیتر په بڼه د قریه دار په معنی استعمالیږي. په اردو ژبه کې دغه کلمه د (ګاون) په بڼه استعمالیږی او همدا معنی لري. نو له دې کبله ویلی شو چې د شش ګاو معنی د شپږو کلیو په معنی ده. له همدې کبله په اوس مهال کې دغه سیمه د شش قلعه په نامه هم یادیږي،(۵۰).

**جلریز:**

د جلریز سیمه د وردګ ولایت شمال ختیځ لور او د میدان شمال لورې ته موقعیت لري. له ختیځ څخه لویدیځ ته یې اوږدوالی ۹ کیلومتره او له شمال څخه جنوب ته یې سور ۳ کیلومتره اټکل شوی دی. د جلریز سیمه غرنۍ سیمه ده او د تسمیې د وجه په برخه کې یې داسې ویل کیږي، چې دا ویی له دوو کلمو څخه جوړ شوی دی. یعنی جل او ریز.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جل د جیم په کسره باندې د تنګ او باریک په معنا راغلې ده یعنې جلریز د باریکی او تنګي، تنګې یا درې په معنا راځي،(۵۱).

**چک:**

د چک ولسوالي د وردګو ولایت د شیخ آباد شمال لویدیځ لور ته موقعیت لري. د چک د کلیمې د معنی په هکله هم مختلف روایات راغلي دي چې یوه یې هم د ځک، ځک یا ځاځکو د ځځیدلو په معنی ده یعنې چک د اوبو د ځځیدلو ځای.

**دایمیرداد:**

دایمیرداد د وردګو ولایت یوه مشهوره ولسوالۍ ده، چې د چک ولسوالۍ شمال لویدیځ لور ته پرته ده. د دایمیرداد د تسمیې د وجې په هکله راغلي دي چې د دایمیرداد کلمه له دوو کلمو یعنې دای او میرداد(امیرداد) څخه جوړه شوی ده.

د دای کلمه د دهی، دایهو، دهیو په بڼه د آمو له هغه پلو څخه د میلاد په لومړیو پیړیو کې زموږ هیواد ته راغلې چې بیا د وخت په تیریدو سره په دای یا دي باندې اوښتې ده چې مفهوم یې د سرزمین، اقلیم، طایفې او ټبر په معنی دی. په اویستا کې هم دا کلمه د دهیو dahyu یعنې اقلیم په معنی راغلی ده،(۵۲).

**جغتو:**

د جغتو د تسمیې د وجې په هکله بیلابیل روایت شته دي چې په لاندې ډول وړاندې کیږي:

یو دا چې د جغتو کلمه د jaguda له کلمې سره چې د سانسکریت د ژبې کلمه ده ارتباط ورکوي چې یو مهال د زغفرانو د پیداور سیمه وه، ګڼل کیده او ویل کیږی چې جغتو د دغې کلمې متحوله بڼه ده.

د یفتلیانو د حکومت تر زماني وروسته په دې سیمه کې یوې ښځې حکومت کاوه، چې په دوبي کې به د جغتو د برغولي په دښته کې او په ژمي کې به د غزني ولایت د ګلبریو په ولسوالۍ کې د دې پایتخت و .همدارنګه د برغولي د غره لویدیځ لورې ته د نوموړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې یوه مجسمه هم اوس مهال شته، چې په مختلفو نومونو لکه دختر سنګه، کړه بي بي او داسې نورو یادیږي.

همدارنګه ویل کیږي، چې د دې ښځې پر سر یو خول وو، چې جغه یې درلوده، په فارسي ژبه کې هم د ((تو)) کلمه یوه نسبتي کلمه ده، لکه: کلاه تو، نان تو، ریش تو، شمشیر تو او داسې نور، او د لرونکي یا دارنده په معنی ده. یعنی جغتو د جغه درلودونکی. نوځکه یې جغه تو بلله.

د برغولي سیمه داسې تیرې او کمرونه لري چې سړی یې په لیدلو سره حیرانیږي او نږدې کلیو د فولکلوریکو روایاتو له مخې دوی په دې آند دي چې دا د پیریانو مینې او کورونه دي. خو که رښتیا هم سړی فکر ورته وکړي نو د کمرونو او تیږو اینښودل او وودل یې په دې ډول دي لکه د مصر اهرامونه او ته به وایې چې چا په لاس او د یوې نقشې له مخې اینښي دي.

په دې سیمه کې ډیر تاریخی آثار شته دي چې د ګلدرې یا پخواني ګنډه کول د مدرسې سیمه یې د یادولو وړ ده چې ګوربت غرونو ته څیرمه د همدې درې د کلیو د پاسه موقعیت لري او د څلورو برجونو درلودونکې یوې کلا مثال لري .

په همدې توګه د غزني ولایت کې هم یوه لویه سیمه د جغتو په نامه یادیږي چې پخوا د یوې لویې سیمې په سترګه ورته کتل کیدل، خو د نوو معلوماتو له مخې داسې ښکاري چې نوموړې سیمه هم د غزني د ولایت د حکومتي تشکیلاتو په لړ کې د ولسوالۍ درجې ته پورته شوې ده.

د غزني جغتو چې جم جغتو هم ورته وایي، یوه داسې سیمه ده، چې د غزنی ولایت لویدیځ لور ته پرته ده چې شمال ته یې د دایمیرداد سیمه، جنوب ته یې د غزني قره باغ او لویدیځ ته یې بهسود او مالستان سیمه پرته ده. دا سیمه له اوو درو څخه جوړه شوی چې عبارت دي له د قیاق دره، د جرمه تو دره، د سراب دره، د ناور دره، د علوداني دره، د یوسف دره او د ګل بوري دره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بید مشک:

په انترنیت کې مې د بید مښک یا بید مشک په اړه یو لړ معلومات په لاس راغلل (خو له بده مرغه چې پته یې راڅخه بیدرکه شوی ده)، چې دلته یې کټ مټ راوړم. وایي چې د هغو خلکو د اوسېدلو کلاګانې بیلې بیلې یا ګوښې ګوښې وې چې دلته اوسیدل، دوی په خپلو منځونو کې سخت رقابت درلود، چې وروسته په یوه جګړه واوښتل. د یوه لوري څخه یې یو تن مړ کړ، چې په دې سلسله کې قاتل لوری د بدۍ له امله کلې ته اړ شو. د شنیز په سلطانخېلو، شش قلعه(شش ګاو) او هم د خواجه عمریو د ولسوالۍ په ده درات) کلیو کې مېشت شول. وایي چې کله به چا له دوی څخه پوښتنه وکړه، چې خپل ټاټوبي او جایدادونه مو څه کړل؟ دوی به په ځواب کې ویل: (در بوګ موش رفت یعنې د موږک په پور کې لاړل. بوګ په فارسي کې پور ته وایي او د موږک څخه یې مطلب هغه مقتول کس وو. نو وروسته له هغه د دغه کلي نوم بوګ موش شو. دا تر هغه وخته په همدې نامه یادېده کله، چې امیر حبیب الله خان د افغانستان په دوره ووت او ټول ولایتونه، ولسوالۍ او کلي یې ولیدل، د همدې سفر په ترڅ کې د کلي نوم بید مشک شو، دا ځکه چې دې کلي د غازي محمد جانخان د زوکړې په کلي شهرت درلود، نو امیر حبیب الله خان وغوښتل، چې په همدې کلي کې په مرحوم بابا محمد اسلم خان شپه وکړي او له ده څخه څرګندونې ترلاسه کړي. لومړی یې د دې کلي د تسمیې وجه ځنې وپوښتېدله، نوموړي پورتنی جریان په تفصیل سره ورته بیان کړ. په دې ترڅ کې امیرحبیب الله خان دا نوم د دې کلي د موقعیت، تاریخ او سمسورتیا سره مناسب ونه باله، هغه زیاته کړه: (بر لب جوی ها درختهای بیدمشک بشانید و این قریه را من بعد به قریهٔ بید مشک مسمی کنید) نو همدا وجه وه، چې د کلي نوم له (بوګ موش څخه په بید مشک) واوښت،(۵۳).

همدارنګه د یادولو وړ ده چې بید مشک د بید له نسل څخه د یو ډول بوټي نوم دی چې په لاتین کې ورته (salix aegyptiaca) وایي. دا بوټی له بید څخه کوچنۍ دی، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ډول عطر لری چې له لاسته راوړلو څخه وروسته د (عرق بيد مشک) په نامه يادېږي او په ځينې درملنو کې ورځينې کار اخيستل کيږي.

# د وردګو ولایت ځېنې تاريخي سيمې

د وردګو ولايت د هيواد د نورو ولايتونو په څير ډيرې تاريخي سيمې او لرغوني آثار لري، خو له بده مرغه دغه سيمې يا تر اوسه په بشپړه توګه نه دي پيژندل شوي او يا که پيژندل شوی هم دي د يوشمير وطن دښمنه کسانو له خوا په خپل سر کيندنې په کې تر سره شوې او يا يې هم ارزښتناکه تاريخي شتمني چور او تالان شوې ده.

دا دي د دغه ستر ولايت ځينې هغه تاريخي سيمې چې تر دې دمه يې د کورنيو او بهرنيو لرغونپوهانو له خوا لټون شوی او لږ او ډيرې موندنې يې په هغې کې تر لاسه کړی دي در پيژنو. خو د يادولو وړ ده چې دا يوازې هغه څه نه دي چې موږ په هغې باندی قناعت وکړو، بلکې لازمه ده تر څو په دې برخه کې هر اړخيزه څيړنه ترسره شي څو د دغې لرغونې سيمې تاريخي ارزښت لا پسې راوسپړل او څرګند شي.

له دې کبله چې د خوات کتيبه د خروشتې دورې تر ټولو مهمه کتيبه شميرل کيږي او د وردګو ولايت د خوات له سيمې څخه په لاس راغلې ده نو ځکه غوره ګڼو چې لومړی دا کتيبه په لنډه توګه دلته معرفي کړو.


### د خوات کتيبه:

د خروشتي ليکنو له مهمو کتيبو څخه يوه هم د خوات مشهوره کتيبه ده، چې په يوه لوی ډبرين لوښې باندې چې د ۱۸۳۸ ميلادي کال په شاخوا کې د چارلس مسيون ch.Masson (۵۴) له خوا د وردګو د خوات له سيمې څخه د برتانيې د لندن

(c) ketabton.com: The Digital Library



موزيم ته ليږدول شوې ده. دغه کتيبه تر لوښې تاو راتاو درې کرښې لري او يوه کرښه هم ترې لاندې ده. حرفونه يې سره بيل او روښانه دي، چې د کنيشکا د زوی (۱۸۲-۱۶۹ ميلادي) مهاراجه هويشکه په نامه ليکل شوې ده،(۵۵).




د خوات د کتيبې انځور

## د جلريز ولسوالۍ ته اړوند د زيمنې کلي:

د زيمنې zemaniy کلی د ميدان ښار لويديځ لورې ته د 30 ميلو په واټن کې موقعيت لري او ډيره ښيرازه او حاصل خيزه سيمه بلل کيږي. د جلريز د ولسوالۍ د سرک په اوږدو کې د کرنيزو ځـــمکو، باغونو او د استوګنې د کورونو تر شا د کافرقلعه او تخت شاه په نومونو دوه غونډۍ پرتې دي.

د تخت شاه په غونډۍ کې د پخوانيو ساختمانونو پاتې شوني چې له خامو خښتو څخه جوړ شوي او کچه يې 12×37×37 سانتي متره ده تر ستر ګو کيږي. کيداى شي چې په کوشاني يا يفتلی عصر پورې اړه ولري. په دغې سيمه کې د لوټمارو له خوا په غيرقانوني توګه يو شمير کيندنې ترسره شوې دي له دې سره سره په سيمه کې يو شمير سمڅې او غارونه هم تر ستر ګو کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نرخ ولسوالۍ د دادل د کلي لرغونې سیمه:

په دغې سیمه کې د بوادیې پیر یو لوی معبد شته دی چې د نوموړې سیمې په لوړو برخو کې هم د یو شمیر لوښمارو له خوا په خپل سر تر سره شوې دي او اوږدې سمڅې او غارونه په کې ویستل شوي دي. د مجسمو یو شمیر خاورینې ټوټې چې له بیلابیلو برخو څخه اره کړل شوې او له هیواد څخه بهر ته وړلو ته چمتو شوې وې له نیکه مرغه د کابل ملی موزیم ته راولیږدول شوې دي.

## د جلریز ولسوالۍ د سرچشمه سیمه:

په دغې سیمه کې یو لړ خپلسرې کیندنې تر سره شوې دي یوه ډیره ښکلی ستوپه کشف شوې او د الغچک په مجله کې د هغې په اړه ځینې معلومات هم خپاره شوي دي. د سیمې د چارواکو په وینا د دې لپاره چې دغه تاریخي آبداتو ته نور زیات زیان ونه رسیږی له هغې څخه ګرد چاپیر ماینونه ښخ کړل شوي دي.

## د چک ولسوالۍ د انګور باغ سیمه:

له دغه سیمې څخه هم یوشمیر له ګچ څخه جوړ شوي آثار چې کیدای شي په څلورمې او پنځمې میلادی پیړۍ پورې اړه ولري ترلاسه شوي دي او بیا له همدې سیمې څخه د کابل موزیم ته لیږدول شوي دي. د سیمې د اوسیدونکو په وینا د دې سیمې ډیر شمیر مجسمې په بهرنیو قاچاق وړونکو او لوښمارانو باندې پلورل شوي دي.(۵۶).

د قدرمن استاد زبیر شفیقی پر وینا د چک ولسوالۍ د علیشنګ کلاګانې او د ګوډه د نهه برجه کلا چې دری متره پلن دیوالونه لري تر دری سوه کاله پخوانۍ کلا ده، هم د دغه شان تاریخي سیمو په کتار کې شمیرل کیدای شي. د دې یادونه اړینه بولم چې د وردګو په ډیر شمیر سیمو کې داسې لرغوني آثار او سیمې شته دي چې په اړه یې ماته تر دې دمه معلومات په لاس راغلي نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د وردګو ولایت مشهور زیارتونه

د وردګو په ولایت کې یو زیات شیمر زیارتونه هم شته دي چې ځینې یې ډیر مشهور دی او خلک ورته کلکه عقیده لري، خلک یې زیارت ته ورځی او دعا ګانې کوی او له بل پلوه دغه زیارتونه د تاریخې پلوه هم پوره د ارزښت وړ دي. د دغه زیارتونو له ډلې ځخه ځینې یې په لاندې ډول درپیژنو:

د شاطر بابا زیارت

د میر سید احمد ولی زیارت

د شیخ بابا زیارت

د پل سرخ بابا زیارت

د ملا صالت بابا زیارت،(۵۷)

د شاه قلندر بابا زیارت چې د چک ولسوالی د کاکاخیلو په کلی کې دی.

د آخوند بابا زیارت د چک ولسوالۍ په سپین ښاره کې

خواجه محیات بابا د چک ولسوالی د نیم پایکول په دره کې

خواجه غربان بابا د چک ولسوالی د خلیلی په کلی کې

صوفی بابا د چک ولسوالی په سییکه کې

ملا بنارس په ملا کاکا شهرت لري د وردګو ولایت په مرکز کې

د بوم زیارت د نرخ په ولسوالی کې

خرقه شریفه د وردګو ولایت په مرکز کې د کوټه عشرو په سیمه کې

د شهیدانو زیارت د ولایت په مرکز کې د کوټه عشرو په سیمه کې

د شاه قباد ولی زیارت د نرخ په ولسوالۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوجه صاحب زیارت د جلریز ولسوالۍ په زایولات کې

د لوی ملا صاحب زیارت د نرخ ولسوالۍ د شهاب الدین په دره کې

د سوبۍ زیارت د سید آباد ولسوالی د تنګی دره په امیر ښاره کې،(۵۸)

د حمید الله بابا زیارت د چک ولسوالۍ د نیک پای قول په معروف خیلو کې

د حسام الدین بابا زیارت د چک ولسوالۍ د چهارمرده په کلی کې

د خواجه زور بابا زیارت د چک ولسوالی د چهارمرده په کلی کې

د خواجه افضل بابا زیارت د چک ولسوالۍ د تخت کلی

د صوفی بابا زیارت د چک ولسوالۍ د چهار شینیی په کلی کې

د هوۍ انا زیارت د چک ولسوالۍ په پای کوتل کې

د حیات بابا زیارت د سید اباد ولسوالۍ د اونخی درې د حسن بیک په کلی کې

د خواجه اسماعیل بابا زیارت د سید اباد ولسوالۍ د تنګی د سیمې په امیر ښاره کی

د شاه قلندر بابا زیارت په امیر ښاره کې

د خواجه محمد صدیق زیارت د جغتو د باریکاو په سیمه کې

د لیګي بابا زیارت د جغتو د ګلدرې یا پخواني ګنده کول د صالح خیلو په سیمه کې موقعیت لري خو لګۍ بابا د لیګي باباخیلو د کلي بابا ګټل ګیږي چې نومووړې کلي هم د ده له نوم څخه سرچینه اخیستې ده او صالح باباخیلو څخه لږ پورته ګلدرې په ورروستۍ برخه او ګوربت د تاریخي غره په لمن کې موقعیت لري. د نومووړي زیارت د کراماتو په هکله د خلکو تر منځ ډیر فولکلوریک ورایتونه موجود دي چې ځانګړې لیکنې ته اړتیا لري.

چلګزیان د ګوربت د غره په مختلفو ځایونو کې

د قبې زیارت د ګوربت د غره د قبې په سر باندې

مزار بابا د جغتو د ګلدرې په سیمه کې چې ګوربت ته څیرمه موقعیت لري

غوزبه بابا د جغتو د غوزبې په کلي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواجه رسول زیارت د جغتو د زیارت په کلي کې
شلم بابا د جغتو په خواجګانو یا اغا خیلو کې موقعیت لري
د تیکي چلګزیان د جغتو په تیکي کلې کې
د بونګي زیارت د جغتو په بونګي کې
د مردلې زیارت د جغتو د مردلې په کلي کې

# په وردګو کې

# کرنه او مالداري

د وردګو په ولایت کې ډېر شمیر اوسیدونکي د کرکیلې او مالدارۍ په دنده بوخت دي دغه ولایت په لږه اندازه ځنګلونه یعنې د 200 جربیه په شاوخوا کې ځنګلونه لري د ځمکه والو شمیر یې 2952 کسانو او د کرنې ساحه یې 128000جریبو ته رسیږي،(۵۹).

د وردګو ولایت د کرنیزو پیداوارو له ډلې څخه کولی شو له آبي او للمي غنمو، کچالو، اوربشو، وریجو، رشقه، کلول، باقلي، مشنګ، لوبیا او نورو څخه یادونه وکړو. د میوو له ډلې څخه یې منې، زردالو، توت، شفتالو، ګیلاس، سنځلې او نور د یادولو وړ دي.

د وردګو ولایت بې میوې ونې عبارت دي له چنار، سپیدار، خروله، غیش وله، عرعر نیله، غرنی بادام، پنجه چنار، عکاسي او نورو څخه.

په دغه ولایت کې د اهلي څارویو لکه پسونو، غویانو، وزو او نورو ترڅنګ ځینې وحشي څاروي لکه لیوه، ګیدړه، سوی او په ځینو لوړو غرونو کې پړانګ هم پیداکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وردګو اقليم او سيندونه

د وردګو ولايت اقليم سوړ او د کلني ورښت کچه يې ۴۰ – ۳۰۰ ملی مترو ته رسيږي. کوم سيند چې د وردګو ولايت د دايمراد، چک او سيدآباد د ولسوالۍ شيخ آباد او تنګي له درې څخه تيريږي د لوګر په ساحه کې د کابل له سيند سره يوځای کيږي. دغه سيند د اونۍ د غره له جنوب ختيځ او سنګلاخ څخه سرچينه اخلی، ورپسی هغه سيند چې د نرخ له ولسوالی څخه راوځی او د ابراهيم خيلو د کلی په لومړۍ برخه کې ورسره ګډيږی، د للندر په سيمه کې د دغه ولايت ځمکې پريږدي او د کابل ښار د الوخيلو په سيمه کې د کابل له سيند سره يوځای کيږي.

له دغه سيند او په درو کې له کاريزونو، ژورو څاګانو او واټر پمپونو څخه د خړوبولو په موخه کار اخيستل کيږي. په دغه ولايت کې ۱۲۸۰۰۰ هکتاره آبي او ۹۰۰۰ هکتاره للمي ځمکه موجوده ده.

د چک د بريښنا بند چې د چک په ولسوالۍ کې د وردګو د سيند د پاسه د آلمانيانو له خوا د ۱۹۳۶ او ۱۹۶۱کلونو تر منځ ګټې اخيستنې ته چمتو شوی دی، دری توربينه لري او د بريښنا د توليد ظرفيت يې په منځنۍ کچه ۳۳۶۰ کيلوواټو ته رسيږي. د دغه بند له بريښنا څخه د سيمې خلک ګټه اخلي او همدا راز ډيره برخه بريښنا يې د کابل ښار ته ليږدول کيدله خو د هيواد د تيرو ديرش کلنو پيښو، جنګ او جګړو له کبله ددې فابريکې بريښنا کابل ته نه راځي او فابريکې ته ځيرمه يوازې څو کليو ته بريښنا ورکولی شي. همدارنګه په بند کې د رسوباتو له کبله اوس مهال د بريښنا د توليد ظرفيت په نوموړې فابريکه کې ډير راټيټ شوی دی. که څه هم چې د نوموړې فابريکې د بند کاسه او کانال څه نا څه پاک شوی دی، خو د توربينونو د استهلاک له امله يې د بريښنا د توليد کچه ډيره ټيټه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وردګو ولایت

# لارې

د وردګو ولایت څخه د کابل کندهار لویه لاره تیریږي او کله چې د میدان سیمې ته ننوځي نو یو ښاخ ترې بیلیږي او د شمال لویدیځ په لور د اونۍ له غاښنی څخه په اوښتلو سره د هزاره جاتو سیمې ته ننوځي. په ټولیز ډول هغه ولسوالۍ او سیمې چې له عمومي واټ څخه لرې پرتې دي ډیرې زیاتې ترانسپورتی ستونزې لري او د دغه ولایت د ننه نژدې ټول سرکونه خام دي. خو اوس مهال هڅه کیږي چې د حکومت د ملي پیوستون د پروګرام په وسیله او د سیمې د خلکو په همکارۍ د دغه ولایت سړکونه و رغول شي چې په اساسي ډول د چک او اونخي د سړکونو کار روان دی. همدارنګه د وردګو د ولایت له مرکز میدان ښار څخه د اونۍ تر غاښنې پورې د سړک د جوړولو چارې هم روانې دي.

# د وردګو ولایت د ښوونې او روزنې حالت

د هیواد د نورو سیمو په څیر په وردګو کې هم هغه مهال د رسمي ښوونې او روزنې څرک و لګیده چې د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د پاچاهۍ په لومړیو کې د ټول هیواد په کچه نوموړی بهیر پیل شو. خو مخکې له دې څخه یوازې د هیواد په پلازمینه کابل او لویو ښارونو  کې د مسلکي ښوونې او روزنې محدودې موسسې فعالې  وې، خو د وردګو او ټول هیواد په کچه ښوونه او روزنه په دودیز ډول په جوماتونو کې د روحانیو، ملا امامانو او میرزایانو په وسیله ترسره کیده. له ۱۳۳۵ څخه را وروسته  په ټول هیواد کې د ښوونیز نظام د سیستماتیک کیدو سره سم په وردګو  کې هم ځینې لیسې، منځني

(c) ketabton.com: The Digital Library


او لومړني ښوونځي جوړ شوي دي چې د سیدآباد لیسه او د چک د بومبیو لیسه، په جغتو کې د غازي محمدجانخان لیسه ( په ۱۳۵۷ کې د لیسې درجې ته لوړه شوه) او په جغتو کې د ګوربت منځنی ښوونځی (اوس مهال لیسه ده) یې غوره بیلګې دي. سربیره پر دې ارواښاد محمد ارسلان سلیمي چې هغه مهال یې د قبایلو په مستقل ریاست، د اطلاعاتو او کلتور په ریاست ( وروسته بیا وزارت شو) او عدلیې په وزارت کې دنده ترسره کوله هڅه وکړه چې په ۱۳۴۲ کال کې د ګوربت د منځنۍ ښوونځۍ د تشکیل څخه وروسته د چک، دایمیرداد او سیدآباد په ولسوالیو کې هم ورته ګامونه پورته او په لرې او نږدې سیمو کې ښوونځۍ رامنځته کړي چې په دې لړ کې یې د چک د ولسوالۍ د ګردن مسجد د پیشکارو ښوونځۍ، د آبکزار ښوونځۍ او د سیدآباد د شش قلعې ښوونځۍ په خپل نه ستړي کیدونکي زیار سره جوړې کړې او د معاصرې پوهنې د ترویج په لاره کې یې اغیزمن ګامونه پورته کړل. تر څو د نورو هیوادوالو په څیر د وردګو خلک هم د سواد له نعمت څخه برخمن شي.

لکه چې ګرانو لوستونکو ته معلومه ده چې په هیواد کې د ۱۳۵۷ د غویي له کودتا ، د پخواني شوروي یرغل او د جهاد پیل کیدو له مهاله د دې هیواد د نورو زیربناوو سره یو ځای زموږ تعلیمي نظام هم په کلیو، بانډو او ولسوالیو کې له ړنګیدو سره مخامخ کړ چې نه جبران کیدونکي زیانونه ورته و رسیدل او فعالیت یې په ټپه و دریده. دغه حالت د هیواد د نورو سیمو په څیر په وردګو کې هم ټولې روزنیزې او تعلیمي موسسې له ویجاړتیا سره مخ کړې او د دې ولایت په ډیرو ولسوالیو، کلیو او بانډو کې د لیسو، ښوونځیو او تعلیمي مرکزونو دروازې د زده کوونکو، د زده کړې د مینه والو او ښوونکو پر مخ و تړل شوې.

کله چې د جهاد دوره مخ په اوږدیدو شوه نو د وردګو له خلکو سره د خپلو اولادونو د روزنې فکر، اندیښنه او تشویش هم مخ په زیاتیدو شو. د وردګو علم پروره خلک په دې آند شول چې باید په انفرادي او خصوصي ډول دغې ستونزې ته د حل لاره و مومي. له

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې کبله د وردګو په ځینې جوماتونو کې د دیني درسونو د حلقاتو تر څنګ د عصري تعلیم زده کړې ته هم پاملرنه وشوه او د مدرسو په نامه ځینو ښوونځیو په جوماتونو کې په کار پیل وکړ. سره له دې چې دغه بهیر خطرات او تلفات هم درلودل او ځینې جوماتونه د شوروي د یرغلګرو الوتکو په وسیله تر بمبارد لاندې نیول کیدل چې زموږ یو شمیر زده کوونکو او ښوونکو د شهادت سبب هم شول(د سید آباد ولسوالۍ د حسن بیک د کلی د جومات بمباری چې شپیته تنه ماشومانو او د جومات ملا امام د هغې په ترڅ کې په شهادت ورسیدل او یا هم د ۱۳۶۶ کال د لړم په ۷ نیټه د جغتو د ګلدرې د لیګې باباخیلو په کلي، ښوونځی او جومات کې رامنځته شوه چې د ورځې په یوولسو بجو د نوموړی کلی او مسجد د شوروی د یرغلګر پوځ تر درندې بمبارۍ لاندې راغی او د دریو بې ګناه زده کوونکو په شمول یې د کلي ۱۵ نارینه، ښځینه او ماشومان په یوه ورځ کې په شهادت و رسول د هغې ښې بیلګې دي). د نوموړي کلي مدرسه نورالمدارس نومیده، چې د شهید ګل باران، معلم سیدرسول، ګل آغا احمدي وردګ، مولوي علم ګل او کلیوالو په هڅه په ۱۳۶۳ کې فعاله شوې وه چې وروسته بیا د ګوربت له لیسې سره یو ځای شوه. د دغه راز ناوړه پیښو د پیښیدو سره سره د وردګو خلکو د خپلو اولادونو د روزنې بهیر و نه دراوه او په خپل ټول قوت سره یې هغه ته دوام ورکړ.

د ۱۳۶۵ کال او له هغې څخه وروسته د ښوونې او روزنې او همدارنګه د روغتیا په برخه کې د سویدن د کمیټې مرستې د ډیرې یادونې وړ دي چې د وردګو په ولایت کې یې له ډیر شمیر ښوونځیو، مدرسو او روغتیایي مرکزونو سره مرستې کړې دي او فعالیت یې اوس هم په دغه ولایت کې مخ پر وړاندې روان دی.

په ۱۳۶۸ کال هغه مهال د وردګو ښوونیز نظام لا مسلکي شو چې د ګل آغا احمدي وردګ او عبدالملک حمیدي په هڅو وردګو ته راوستل شوې کویټي موسسې لجنه الدعوه الاسلامیه په وردګو کې د زده کړې له بهیر او تعلیمي مؤسساتو سره د مرستې کولو هوډ څرګند کړ او د لومړي ځل لپاره یې د ۱۳۶۸ د جوزا په میاشت کې په جغتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د ليسې په بڼه د ګوربت منځنی ښوونځی بيرته فعال کړه او په نوموړې ليسه باندې د ګوربت د امام ابي حنيفه (رح) د ليسې نوم کيښنود. بايد وويل شي چې نوموړې موسسه په ۱۳۶۷ کال وردګو ته راوستل شوه چې د تعليمي هڅو سره سره يې روغتيايي خدمتونه هم وړاندې کول او د دايمرداد ولسوالۍ په تنګي سيدان کې يې د وخت له غوښتنو سره سم يو مجهز روغتون هم جوړ کړ.

لجنه الدعوه الاسلاميه بيا وروسته خپل تعليمي او روغتيايي خدمتونه په وردګو کې نور هم زيات کړل او په جغتو سربيره يې په چک، سيدآباد، دايميرداد او ميدان ښار کې هم خپلو تعليمي او روغتيايي فعاليتونو ته دوام ورکړ چې ګڼې ليسې، ښوونځي او روغتيايي مرکزونه يې تر خپل کاري پوښښ لاندې راوستل او هغه مهال يې له دې ولس سره نه هيريدونکې مرستې وکړې چې سخته اړتيا يې ورته درلوده.

د کورنۍ جګړې پر مهال د وردګو د تعليمي بهير په رغولو کې د ګل آغا احمدي وردګ او عبدالملک حميدي تر څنګ دغو ښاغليو هم خپله ونډه اخيستې، فعاليت يې کړی او د د دې ولس د بچيانو په روزلو کې يې تر خپله وسه ملي او ديني وجيبه سر ته رسولې ده.

مولوي احمدجان، استاد چارګل نثار، انجنير محمد طاوس ساجد، اروابناد مدير محمد حسن، اروابناد استاد آقامير خان، اروابناد ضابط حنيف، مدير متين وردګ، قاضی محمد امين وردګ، دوکتور بهاوالدين بها، مولوي شيرين، مولوي جمال، الحاج مدير شريف، سيديعقوب، څارنوال نقيب الله (جغتو)، ډاکتر ښادي خان، ډاکتر فاروق وردګ، حاجي سربلند، ميرام جان، ګل حميد، حاجي سربلند، دوکتور عبدالولي وردګ، جمال رحمن، دوکتور زرجان بها، اروابناد استاد اسد بها، بصير احمد شيرزی، محمد عظيم ستومان، رحيم الله صراح، مدير سليمان شاه، استاد داود جان غيرت، انجنير محمدآصف، عبدالباقي کبيري، سرمعلم سيدخان، استاد فاروق، احسان الله، عبدالرحمن (شيخ آباد)، ګل جان صابر، ويس وردګ، معراج، عارف وردګ، يحيی وردګ او نورو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصیتونو نومونه چې تر دې دمه زما تر ګوتو شوي نه دي او په دې برخه کې د پام وړ خدمتونه ترسره کړي دي، د یادولو وړ دي.

د وردګو ولایت کیدای شي د ګوتو په شمار ولایتونو له ډلې څخه وي، چې آن د جنګ جګړو پرمهال هم لیک لوست او زده کړه تر ډیره بریده په منظمه توګه روانه وه. که څه هم په ډیرو ځایونو کې ښوونځي له زده کوونکو څخه لرې دي خو بیا هم د دغه ولایت خواریکښو زدکوونکو په ساعتونو لاره وهي ترڅو ځان ښوونځی او یا لیسې ته و رسوي.

لیسې په ټول ولایت کې د ګوتو په شمار وي خو د جهاد په وروستیو کلونو او د لجنه الدعوه الاسلامیه کویتي موسسې د ښوونیزو مرستو له برکته په دې ولایت کې د لیسو شمیره زیاته شوه چې په هیواد کې د مؤقتي اداري له رامنځ ته کیدو سره سم نومورې لیسې په حکومت کې رسمي بڼه خپله کړه او شمیر یې زیات شو. اوس مهال د دغه ولایت په معارف کې بنسټیز بدلونونه رامینځ ته شوي او د ملي پیوستون د پروګرام له لارې هم د دغه ولایت په ډیر شمیر سیمو کې لومړني، منځني ښوونځي او لیسې د دولت او خلکو په مرسته جوړې شوې دي.

په دغه ولایت کې د ښوونځیو او زده کوونکو کچه د وردګو ولایت د مطبوعاتي دفتر د ۱۳/۱۱/۱۳۸۶ نیټې راپور له مخې په لاندې ډول ښودل شوی ده:

د وردګو او میدان ولایت د ولایت په کچه ۲۶۷ د زده کړې موسسې په لاندې ډول موجودې دي:

- لیسې ۵۲ ، له دې ډلې څخه ۲ یې ښځینه لیسې دي.
- منځني ښوونځي ۶۹ ، له دې ډلې څخه یې۶ ښځینه دي.
- لومړني ښوونځي ۱۴۰ ، له دې ډلې څخه ۳۳ یې ښځینه دي.

د نومورو ښوونځیو د زده کوونکو شمېر۱۲۷۰۰۰ یو سل او ووه ویشت زره تنه دي، چې له دې ډلې څخه یې ۲۳۰۰۰ ښځینه زده کوونکې په زده کړو بوختې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا راز په نوموړي ولايت کې د ښوونکو شمير ۳۰۸۳ تنو ته رسيږي، چې ۱۳۷ تنه يې ښځينه ښوونکې دي،(۶۰).

د معارف مجلې د ۱۳۸۶ کال په وروستۍ ګڼه کې چې د هيواد په ټولو ولايتونو کې د دغه وزارت فعاليتونو، رپوټونو او ګزارشونو ته ځانګړې شوې ده د وردګو ولايت شميرې په لږ څه توپير په لاندې ډول ښودل شوې دي:

د وردګو ولايت په اړوندو سيمو او ولسواليو کې په ټوليزه توګه ۱۱۵۷۹۹ تنه زده کوونکي په ښوونځيو کې په زده کړو بوخت دي، چې ۸۹۶۹۰ هلکان او ۶۱۰۹ تنه يې نجونې دي. له دغه شمير څخه ۱۱۳۴۱۴ په عمومي تعليماتو، ۱۶۳ تنه د ښوونکو په روزنيز مرکز او ۲۲۲۲ تنه يې په ديني مدرسو کې زده کړې کوي چې د لوست چارې يې د ۳۰۲۴ نارينه او ۲۲۲ تنو ښځينه ښوونکو له خوا په ۲۷۷ ښوونځيو کې پرمخ وړل کيږي. دغه راز د دې ښوونځيو په شمير کې ۹ ديني مدرسې، يو د ښوونکو روزنيز مرکز، ۱۴۸ لومړنۍ ښوونځۍ، ۷۰ منځنۍ ښوونځۍ او ۴۹ ليسې شاملې دي ( ۶۱).

ځوانان يې ډير با استعداده، ذکي او له زدکړې سره ډيره زياته مينه لري. د کانکور د هر کال په آزموينه کې يې ډير ځوانان په ډيرو ښو او لوړو نومرو سره د هيواد پوهنتونونو ته بريالي کيږي.

په وردګو کې د لوړو زده کړو مؤسسات او پوهنتون تر دې مهاله نه دی جوړ شوی چې د دې ولايت د فرد فرد غوښتنه ده. همدارنګه په سيدآباد کې چې د ژورناليزم کوم انستيتيوت جوړ شوی وو هم د نامعلومو وجوهاتو له کبله له فعاليت څخه لويدلی دی.

د دې ولايت محصلين د هيواد په پلازمينه کابل او د ځينو نورو ولايتونو په پوهنتونونو کې په زده کړو بوخت دي. په کابل پوهنتون، لوړو او مسلکي زده کړو په نورو مؤسساتو کې د وردګو د محصلينو شمير ۴۰۰۰ محصلين اټکل شوی دی. د کندهار پوهنتون په سلو کې نږدې ۸۰٪ وردګ محصلين جوړوي ( نوموړی شمير د کندهار د پوهنتون د رئيس د خبرو په حواله ورکړل شوی دی«استاد احمدی»). د هرات په پوهنتون کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمير له مخې دويمه لويه شميره د وردګو د محصلينو ده. همدارنګه بل لوی شمير وردګ محصلين د ننګرهار په پوهنتون کې په لوړو زده کړو بوخت دي. د بلخ او باميان په پوهنتون کې هم د پام وړ وردګ محصلين خپلې زده کړې کوي چې زموږ د ټولنې وياړ دي.

# روغتيايي آسانتياوې

د ولايت په کچه څلور روغتونونه، يو د معتادينو روغتون، ۹ د سي ايچ سي کلينيکونـــه، ۲۵ د بي ايچ سي کلينيکونه او ۱۰ روغتيايي سب سنترونه شته دي.

د روغتيايي خدمتونو چارې په ټول ولايت کې په نورمال ډول رواني دي.

د روغتيايي خدماتو په برخه کې د دغه ولايت وګړي تر ډيره بريده له روغتيايي ستونزو سره لاس او ګريوان دي او د ډاکترانو او روغتيايي کارکوونکو کموالی احساس کيږي. سپين کلينيک يې مشهور روغتون دی، خو ډير شمير وګړي يې د درملنې له پاره کابل او يا غزني ولايتونو ته ځي. د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي قوانيونو او بررسی د رياست د ۱۳۸۱ کال د عقرب د مياشتې د راپور له مخې د وردګو په ولايت کې ۷۹ شخصي درملتونونه شته دي. (۶۲). د ۱۳۸۵ کال د مرکزی احصايي د کالنامې له مخې په ۱۳۸۴ کال کې په ټوليزه توګه د دغه ولايت د شخصی درملتونونو شمير ۸۷ ښودل شوی دی.

د روغتيايي مرکزونو او پرسونل کچه يې د دغه ولايت د ۱۳۸۴ کال د کاري راپور له مخې په لاندې ډول ښودل شوی ده:

۶۵ تنه ډاکتران

۶ تنه معالجې ښځينه ډاکترې

۷۸ تنه نارينه نرسان

۲۷ تنه قابلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲ تنه فارمسستان

۶ تنه د اکسری تکنیشنان

۱۹ تنه د لابراتوار تکنیشن

۶۶ تنه نارینه واکسیناتوران،(۶۳).

باید وویل شي چې د وردګو او میدان د تیر کال ګزارش څرګنده کړې ده چې د همدې ولایت د جغتو ولسوالي د روغتیایي خدماتو درجه صفر ده یانې دا چې دا څو کاله هلته د دولت یا موسساتو د روغتیایي خدماتو د وړاندې کولو لړۍ ډیره سسته ده پداسې حال کې چې د همدې ولایت د بهسودو او نورو ولسوالیو کې دغه شمیره ښه غوښنه ده. ( د وردګو او میدان د ولایت پنځه کلن پلان وګورئ).

د جهاد او کورنیو جګړو پر مهال یو شمیر وردګ شخصیتونو نوموړي ولایت ته د روغتیایي خدماتو په لړ کې نه هیریدونکي خدمتونه سر ته رسولي دي چې د ځینو نومونه یې په لاندې ډول دي:

ډاکټر محمد سرور (جغتو)، ډاکټره روښانکه، ډاکټر فاروق وردګ، ډاکټر محمد سرور (سیدآباد) ډاکټر شاولي، قاضي امین وردګ، ډاکټر سعادت، ډاکټر ښادي خان، کارله (د جرمني تبعه)، د لجنه الدعوه عربي خیریه موسسې روغتیایي ډله، د فرانسې روغتیایي ډلې او داسې نور د یادولو وړ دي.

# فرهنګي حالت

د وردګو میړني خلک د لوړ او اصیل افغاني فرهنګ درلودونکي دي. دلته د فرهنګي حالت تر سرلیک لاندې په دغه ولایت کې د رسنیو، خپرونو، ټولنو او مهمو دودونو بیانولو ته څو شیبې تم کیږو.

## د وردګو ولایت خپروني:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شپيتمه لسيزه کې د چک په ولسوالی کې د مجاهدينو له خوا يوه خپرونه د ګيستيتنر د ماشين په وسيله د پيام مجاهد په نامه او بيا د اوويايمی لسيزی په پيل کې دحضرت عمر فاروق ليسې له خوا د عروة الوثقی په نامه مياشتينۍ خپرونه د ګستيتنر په ماشين خپريده او په شپيتمه لسيزه کې يوه خپرونه د قاضی محمد امين وردګ له خوا هم خپريده .(۶۴).

د وردګو په ولايت کې اوس مهال لاندې آزادې نشريې خپريږي چې عبارت دي له:

**جغتو:** جغتو يوه مهالنۍ خپرونه ده چې د جغتو د مدني او کلتوري بهير او د وردګو د کلتوری يون پر مټ خپريږي. په ۱۳۸۴ کال کې يې په خپرونو پيل کړی دی او هره ګڼه يې دولس مخونه لري. په لومړيو کې يې تيراژ ۱۰۰۰ ګڼې وو، خو اوس مهال يې تيراژ لوړ شوی دی او تر دې دمه پورې يې لس ګڼې  خپرې شوې دي.

**ګودر:** په چک ولسوالۍ کې د پښتني خويندو د ټولنې له خوا خپريږي. د آغلې برښنا وردګ له خوا په ۱۳۸۲ کال په غبرګولي کې يې بنسټ ايښودل شوی دی. د هرې ګڼې د پاڼو شمير يې ۹۲-۶۴  دی.

**دريځ:** دا جريده د وردګو او ميدان په ولايت  کې د دريځ ټولنې له خوا په مياشت کې يوځل خپريږي، چې هره ګڼه يې ۱۲ مخونه لري او تيراژ يې ۱۰۰۰ ګڼې دی.

**شپيلۍ:** په وردګو کې د ميديوتيک د فرهنګي او علمي مرکز له خوا خپريږی، تيراژ يې ۱۰۰۰ ګڼې او په ۱۲ مخونو کې خپريږي. لومړۍ ګڼه يې د ۲۰۰۴ کال په مارچ کې له چاپه راووته بايد وويل شي چې ميديوتيک اوس مهال خپل مرکز په وردګو کې تړلی دی.

**وردګ:** دا جريده د يو شمير فرهنګيانو او وردګ ځوانانو  پر مټ خپريده چې شپږ ګڼې يې خپرې شوې دي خو دم ګړۍ نه چاپيږي.

**ملی هدف اونيزه:** د دې اونيزې د امتيازښتن د وردګو ولايت د اطلاعات او کلتور رياست دی. اوونيزه خپرونه ده، لومړۍ ګڼه يې د ۱۳۸۳ کال په چنګاښ کې خپره شوې ده. هره ګڼه يې ۴ مخونه لري چې هر ځل تيراژ  يې  ۲۰۰۰ ګڼې ښودل شوی دی. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملي هدف اونيزې دوه فوق العاده ګڼې هم د مجلې په بڼه خپرې شوې دي چې هره ګڼه يې 94 مخونه لري او درې ځله يې فوق العاده ګڼې د اخبار په بڼه هم خپرې شوې دي.

**ځلانده راتلونکې:** دغه خپرونه درې ځله په کتابي بڼه چاپ شوې ده چې د وردګ ولايت په اړه د شويو کارونو، لاسته راوړنو او ستونزو رپوټونه يې خپاره کړي دي. نومورې خپرونه ۱۰۳مخونه لري د هر ځل خپرويدو کتاب شمير يې ۳۰۰۰ ښودل شوی دی.

**روغتيا:** دا مجله د دې ولايت د روغتيا د رياست له لوري خپرېږي، چې د نومورې رياست اړوند رپوټونه او لاسته راوړنوته انعکاس ورکوي او په مهالني ډول خپريږي.

**آذان جريده:** دغه جريده د يوې آزادې جريدې تر نامه لاندې خپرونې کوي چې په دې ولايت کې د مهالنۍ بڼه خپرېږي خو د تمويل او لارښوونې سرچينه يې د ټولنيز اصلاح د جمعيت دی.

**د ميدان ځوانان:** دا مجله چې د ميدان ځوانانو د ټولنېزې، ادبي اوکلتوري ټولنې له خوا خپرېږي، په مياشت کې يوځل خپريدله. ډير شمير موضوعات يې په ځوانانو پورې اړه لري او همداشان د ورځې موضوعاتوته هم انعکاس ورکوي چې سيمه ايزې ستونزې يې ګڼلی شو، خو دم ګړی يې خپرونې بندې شوې دي يوازې د ګوتو په شمير ګڼې يې خپرې شوې دي.

**عهد مجله:** دا مجله په دې ولايت کې د عهد کلتوري ټولنې له خوا خپرېږي چې د ورځې مسائل خپروی خو ډيرې سيمه ييزې ستونزې بيانوي، د خپرونو لړۍ يې دوام لري.

**وړانګه مجله:** دا مجله په دې ولايت کې د لمر ټولنې له خواخپرېږي او تر دې مهاله يې يوازې يوه يا دوې ګڼې خپرې شوې دي دا چې دوی به په راتلونکي کې خپلو خپرونو ته دوام ورکوي که نه معلومه نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پرمختګ:** د ولایت د مقام د دفتر څخه خپریدل پیل کړل او د دې کال په سر کې د اونیزې په شکل څو ګڼې چاپ شوی چې دم ګړۍ یې خپرونې بندې شوې دي.

همداشان ځینې نورې خپرونې لکه منه مجله، خورشیدجریده، سنګلاخ جریده، مهرجریده او سپورت جریدې هم شته چې خپرونې یې دم ګړۍ بندې شوې دي.(۶۵).

یو محدود شمیر کتابونه لکه منې ګل، رنګینه تابلو، آتمه منې ګل د ولایت د مقام پیغامونه، ملي هدف ځانګړې ګڼه دوه ځلې، ځلانده راتلونکې ځانګړې ګڼه دوه ځلې.

د وردګو او میدان د ولایت ملي رادیو تلویزیون هم تازه په خپلو خپرونو پیل کړی دی.

# د وردګو او میدان ښار کلتوري ټولنې

په هیواد کې د مؤقتی اداري له رامنځ ته کیدو سره جوخت د وردګو او میدان په ولایت کې ګڼو فرهنګي، مدني او کلتوري ټولنو سرونه را پورته کړل او تر خپله وسه یې په دې لاره کې هلې ځلې وکړې چې نومونه یې په لاندې ډول دي:

۱. غازي محمد جان خان ټولنه
۲. د جغتو مدني او کلتوري بهیر
۳. د میدان د ځوانانو ټولنه
۴. د خواخوږی ادبي او کلتوري ټولنه
۵. د ګوربت ادبي ټولنه
۶. د وردګو د ځوانانو ټولنه
۷. د وردګو او میدان د محصلینو شبکه ( اوس مهال یې نوم د وردګو د محصلینو ټولنه دی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸. د وردګو او میدان مدني ټولنه
۹. عهد کلتوري ټولنه
۱۰. ځلاند کلتوري مرکز
۱۱. چک ادبي بهیر
۱۲. یووالي غږ ټولنه
۱۳. میدان ملي خپرندویه ټولنه
۱۴. شاه قباد ولي فرهنګي ټولنه
۱۵. دریځ ادبي او کلتوري ټولنه
۱۶. استقلال فرهنګي مرکز
۱۷. د نرخ د ځوانان ټولنه
۱۸. آیینه فرهنګي ټولنه
۱۹. سلمان فارس ادبي ټولنه
۲۰. لمر کلتوري او فرهنګي ټولنه
۲۱. د پښتني خویندو د ودې ټولنه(۶۶).
۲۲. د وردګو کلتوري یون

## د منې ګل مشاعره:

د منې ګل مشاعره چې د لومړي ځل لپاره یې په ۱۳۷۸ هجري لمریز کې د وردګو او میدان د ولایت د چک په ولسوالۍ کې د مصطفی حماس او د یو شمیر نورو هیوادپالو ځوانانو په نوښت د بنسټ ډبره ایښودل شوې ده. هر کال د دې ولایت په مختلفو سیمو کې جوړیږي. د منې ګل مشاعره چې نوم یې د منو د بڼونو او د سیمې د ښکلا سره نه بیلیدونکی تړاو لري، د دې ولایت د سمسورې سیمې او ښکلاوو څرګندوي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


شاعران، ادیبان، لیکوالان او پوهان بیا د قلم په ژبه د دې ښایستونو بڼ ته نوی رنګ ورکوي. د منې ګل مشاعره د وخت په تیریدو سره ورو ورو د ولسوالۍ له سطحې څخه د ولایت او د ولایت له سطحې څخه د هیواد او سیمې کچې ته خپل حضور لوړ کړ. چې د هیواد له ګوټ ګوټ څخه هر کال مشاعرې ته د زرګونو لیکوالانو، شاعرانو، ادیبانو، پوهانو، حکومتي چارواکو، محصیلینو، زده کوونکو، قومي مشرانو، بزګرانو او عامو وګړو ګډون د دې ادعا د ثبوت د پخلي تر ټولو ښه نښه ده. د منې ګل مشاعرې اوس مهال یوه روښانه بین الافغاني ښه خپله کړې ده چې د دغه ستر کلتوري بري له کبله د منې ګل ټولو لارویانو، د وردګو او میدان د ولایت اوسیدونکو ته د ویاړ ځای دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وردګو ځينې مشهور دودونه

## د اختر لپاره تیاری:

جوته خبره ده چې له کوچنی اختر څخه د مخه د روژې مبارکه میاشت وي، نو ځکه روژه کوچنی اختر ته ځانګړې بڼه وربښي او خلک د یوې پوره میاشتی مبارکی روژې له نیولو څخه وروسته د مسلمانانو د دغه ستر جشن د لمانځلو په لور ورځي.

د روژې د مبارکې میاشتې په اوږدو کې هره کورنۍ خپلو اولادونو او ځان ته د خپل توان تر بریده نوې جامې برابروی او کوښښ کوي څو په لومړی سر کې خپلو ماشومانو ته جامې برابری کړي. کله چې اختر ته یوه یا دوه اوونۍ پاتې شي نو میندې خپل کورونه سمبالوی او کوښښ کوي خپل کورونه د دې ویاړلي جشن د نمانځلو لپاره پاک کړي.

په ډیرو ځایونو کې میندې د خپلو کورونو د پاکولو په موخه د کور خونې د دوی په اصطلاح په سپینه خاوره او د رخت په یوه ټوټه چې څړی ورته وایي موښي یانې یو ډیر نری او باریک ګل ورکوي. البته په دې ډول چې له سپینې خاورې څخه د اوبو ګیلاو جوړ کړي او بیا له رخت څخه د یاد شوي څړي یا ټوټې په مرسته د خونو دیوالونه په هغې باندې ګلوي.

د اختر په شپه د کورنیو ښځینه او ماشومان خپل لاسونه په نکریزو سره کوي او کله چې سهار شي، نو ماشومان خپل لاسونه یو بل ته وربښیي چې ګواکې د چا ښه سره شوي دي.

ځینې کورنۍ په خپلو کورونو کې اوږه لمدوي او کورنۍ کلچې یا بوسراغې پخوي، غنم نینې کوي چې نینې ورته وایي او بیا له هغې سره د زردالو یا بادام مندتې او خستې هم ګډوي او د اختر په ورځ هغه ماشومانو ته چې کور په کور د اختر مبارکی له پاره ګرځي ور ویشي. د دې تر څنګ هګۍ ایشوی، په وردګو کې د اختر په ورځ د چارمغزو ویشل او ګټل هم رواج دي چې په همدې ورځ یې له نینو ځینې کورنۍ ماشومانو ته ور ویشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینې نورې کورنۍ بیا له ښار څخه د معمول په څیر د اختر سودا اخلي او بیا د اختر په ورځ ورځینې ګټه اخلي.

هغه کورنۍ چې کوژدنې یې کړې وي، د خپلې راتلونکې ناوې له پاره د پوښ تر نامه لاندې دوه یا درې جوړه جامې، بوټونه، نکریزې، شامپو، صابون، ګیراګان او داسې نور څیزونه برابروي او د روژې په اوه وویشتم او یا له هغه څخه د مخه یې د خپلې کوژدنې کره وروړي. دا څیزونه د اختر د پوښ په نامه یادیږي.خو دغه پوښ ته د پیغلتوب پوښ هم وایي، کله چې پوښ راوړل شی د کلی ښځې او خپلوان یې ور باندې راټول شی، ویې ګوري چې څه شی یې راوړي دي، کله کله خو سندرې ورته وایي او دریاوې هم وهي. همدارنګه هغه چاته د ډیر قدر او عزت په موخه یوه جوړه جامه یا یو پټو یا یوه چپنه ورکوي چې دغه راز پوښ یې د کوژدنې کور ته راوړی وي. له پوښ سره پر نارینه وو سربیره یوه یا دوې ښځې هم ځي او د نجلۍ د کورنۍ له خوا نه دوی ته جامې، پړوني، او د سیمې د رواج له مخې داسې نور شیان ورکول کیږي. دغه راز ښځو ته ټنګور ویل کیږي او که چیرې د ناوې په کور شپه تیروي، نو هغوی یې د ډیر زیات عزت له مخې لاسونه هم په نکریزو ورسره کوي خو دغه رواج له یوې سیمې څخه تر بلې سیمې په لږ توپیر سره لیدل کیږي او په ټولو ځایونو کې په یو ډول نه دی.

د هغو کورنیو غړې چې په مسافرۍ کې ژوند تیروي او په پردیو ملکونو کې په کار او غریبۍ بوخت وي، کوښښ کوي څو د اختر پر مهال خپلو کورونو ته راستانه شی او اختر له خپلو کورنیو سره یو ځای تیر کړي. که چیرې مسافر کسان په دې بریالی نه شی چې اختر ته ځانونه را و رسوي، نو د خپل توان تر بریده خپلو کورنیو ته د اختر له پاره سوغاتونه رالیږي او په دې توګه د ژوند په هره برخه کې د اختر د راتلو له پاره تیارۍ په درز او شور روانې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په وردګو کې د کورونو سمبالښت، ډیزاین او ښکلا:

په وردګو کې د کورونو د تزیین موضوع د دې ولس د هرې کورنۍ د سمبالښت او د استوګنې د چاپیریال په برابرولو پورې اړه لري چې بېلابېل اقتصادي، ټولنیز، کلتوري او داسې نور مسایل پکې شامل دي چې هر یو په دې برخه کې خپلې ځانګړې اغیزې لري. ځکه د کور تزیین او جوړول هم په یاد شوو مسایلو پورې نیغه اړیکه لري. له همدې کبله ویلی شو کومې سیمې چې ښار ته په نږدې واټن کې قرار لري د کلیوالو سیمو په پرتله یې ډیزایین او سمبال څه نا څه زیات وي او له کلیوالو سیمو سره ژور توپیر لري. د کلیوالو سیمو په ډیرو کورنیو کې دا دود دی چې د خونو د ننه او د باندې په یو ډول خاوره باندې موښي یا اخیړ کوي ځینې بیا له رنګ او یا هم ګچ څخه د کورونو د سپینولو په موخه کار اخلي. ځینې سیمې بیا داسې دي چې په خونو په چت یا دوورونو کې د هوا د بدلون او کوټې ته د رڼا د رالویدو په موخه وړې کړکۍ پریږدي چې دوربچې، دریڅې، آیینې او ښیښې هم ورته وایي که څه هم په دې وروستیو کلونو کې د نورو سیمو په څیر د معمولي کړکیو او ورونو ایښودل دود شوی دی خو له دې سره سره پخواني دود هم په ټولیزه توګه خپل موجودیت لا تراوسه له لاسه نه دی ورکړی. د کورونو په دروازو کې د همغه ځای د تکړه ترکاڼانو له خوا د ښکلو ګلانو او ژویو انځورونه کښل کیږي چې کورته ښکلی بڼه وربښي. یو شمیر دغه ډول دروازې چېراس نه لري، بلکې د لخکي ورونو یا دروازو په نامه یادیږي او تر ډیره بریده له همدې ډول دروازو څخه کار اخیستل کیږي.

د وردګو په کلیوالي سیمو کې د زیاتره کورونو پر دیوالونو باندې هغه پردې ځوړندیږي چې د ښځو له خوا د ګوتو په وسیله په زری کښې، خامک او تارشمار کوک باندې جوړې شوې وي چې په یوه ګوټه کې له دغه ډول پردو څخه یوه، دوه او یا هم د همغه کورنۍ تر ذوق او یا هم د کوټې تر دیوالونو پورې پردې ځوړندیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه په ډېرو سیمو کې د بالښتونو د پوښونو له پاره د یو ډول ځانګړو ټوټو د پاسه په ګوتو باندې ښکلې ګنډنې کیږي او دغه ډول بالښتونه بیا د ځانګړو میلمنو یا د میلمه خونې لپاره استعمالیږي. د دې ډول بالښت پوښونه له سپین رنګه ټوټو څخه جوړیږي چې ځینې خلک د پوښ د پاسه جالۍ هم ګنډي خو دا کار د هرې کورنۍ تر اقتصادي توان پورې اړه لري .

ځینې سیمې خو داسې هم شته دي چې د کوټې په دیوالونو باندې جای نمازونه را ځوړوندوي، چې دا جای نمازونه هم په ګوتو باندې جوړ شوې وي او د همغې سیمې د لاسي صنایعو له شهکارو څخه شمیرل کیږي. ځینې خلک کله چې په کوټ بند باندې کوم څیز ځوړندوي نو د هغوی د لا ښکلیتوب له پاره په لاس باندې جوړې شوی پردېورباندې ځوړندوي.

که چیرې په خونه کې بکسونه ایښودل شوې وي، نو د هغې له پاره هم په ګوتو باندې جوړ شوي پوښونه جوړیږي، چې د سربکسۍ په نامه یادیږي او د بکسونو په سر باندې اچول کیږي چې په خامک او یا هم ګراف کوک باندې جوړ شوی وي.

په ډېرو ځایونو کې اوس هم په دیوالونو کې ورې تاخچې چې د کوچنیو الماریو حیثیت لري پریښودل کیږي او له هغې څخه د ځینې اشیاوو د ایښودلو په موخه کار اخیستل کیږي. په ځینې ځایونو کې د کوټې په پاسنۍ برخه کې د رېک په نامه یوه اوږده تخته ایښودل شوې وي او د هغې پر سرباندې خپل لوښي او نور سامانونه ږدي. همدارنګه د قرآن عظیم الشان لپاره بیا ځانګړی رېکونه تر ټولو په ښه اطاق کې نصب کیږي.

د کوټې په مینځ کې د اچولو له پاره اوس هم ګیلمونه کارول کیږي او ځینې خلک د نرمو لمڅیو څخه هم د فرش په توګه کار اخلی چې دا لمڅی د پسه له وړیو څخه په بیلابیلو رنګونو او بڼو کې جوړیږی او زړه راښکونکی انځورونه په کې انځور شوي وي. ځینې خلک د خپلې خونې دیوالونه او چت د ښکلو ګلانو په انځورونو سره ښکلي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغو سيمو کې چې ښارونو ته نږدې پرتې وي د ژوند سطح د هغو سيمو په پرتله څه ناڅه لوړه بريښي او خلک د خپلو کورنو د تزيين له پاره تر ډيره بريده له هغه څه څخه کار اخلي چې په ښارونو کې کارول کيږي. دغه طبقه وګړي ښاری ژوندانه ته ورته او يا هم کټ مټ د هغه په څير خپل کورنه سمبالوي او په ښکلو ډيزاينونو سره خپلو کورنو او استوګنځايونو ته ښکلا وربښي. خو په ټولييزه توګه د کور د سينګار او سمبالولو په برخه کې خلک د خپلو شته امکاناتو څخه کار اخلی او د هغې په مرسته خپلو کورنو ته ښکلا ور بخښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ريباري، کوژده او د ستنې راوړلو مراسم:

په وردګو کې د ريباری‌ يا ځوان هلک ته د ځوانې نجلۍ د نکاح کولو دود په دې ډول دی کله چې کوم کس وغواړي له بل چاسره دوستي وکړی، خپل ورور، زوی خپلوان يا دوست ته کومه نجلۍ په نکاح کړی، نو د خپلې خوښې کورنۍ له موندلو څخه وروسته يو ځل يا دوه ځله هغې کورنۍ ته ښځې ورليږي او نجلۍ له نږدې څخه ګوري د دې خبرې مانا دا ده چې په دې هکله لومړۍ اړيکې د ښځو له خوا ټينګيږي. بيا نارينه يو ځل، دوه ځله او يا څو ځلې هغه کورنۍ ته ورځي څو د نجلۍ مور او پلار راضي کاندي. کله چې د نجلۍ کورنۍ راضي شي نو بيا د دعا، مالګې، نخښې يا ګل د را وړلو په موخه ورځ سره ټاکل کيږي.

کله چې په دې هکله د دعا کولو لپاره ورځ تعين شوه بيا نو يو، دوه يا ډير کسان د هلک په استازيتوب د هغه له کورنۍ څخه د نجلۍ کره ورځي او د نجلۍ کورنۍ هغه اندازه پيسې او خرڅ چې غواړي ورته معلوموي. کله چې په ټولو مسايلو سره سلا شي، نو دعا ورسره کوي او د نجلۍ کورنۍ يو يو دستمال او څه خواږه د نښې په دود ورکوي. بيا د غټې نښې يا ستنې او يا دستمال چې شريني خوري هم ورته ويل کيږي ورځ ورسره معلومه او په همغه ورځ د هلک د کورنۍ له خوا ټول خپلوان، دوستان او ګڼ شمير کسان د نجلۍ کورنۍ ته ورځې. د ټاکل شوو پيسو څخه يوه اندازه پيسې هم د نجلۍ کورنۍ ته ورکول کيږي. د دې مراسمو په ترڅ کې د هلک کورنۍ ته د نجلۍ د کورنۍ له خوا ستن ورکول کيږي چې د هلک د ورور او يا بل داسې نوي ځوان په سر کې يې ټينګوي چې ګلالۍ او دنګه قواره ولري. ستن يو داسې درې کنجه جوړښت دی چې په ګنو مريو، بوربور، غجريو او ځوندېو پوښل شوې وي او په يوه لوی وريښمين يا سونډي دستمال باندې د کلپې ستنې په زريعه ټنګه کړې وي. همدارنګه په دې درې کونجه جوړښت کې ګڼې هنداره يا آينې هم په داسې ډول ځای په ځای شوې وي چې شاوخوا ته يې د مريو او هونو ګڼ ګلان شوي وي. د هلک کورنۍ ته د ستنې له راوړلو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته د هلک کورنۍ د نجلۍ کورنۍ ته میلمستیا کوي چې پښه خلاصی ورته وايي په پښه خلاصي کې ټولو هغو نارينه او ښځينه ګډونوالو ته مروجې جامې کوي چې په دې ډول میلمستیا کې یې ګډون کړی وي. بیا د نجلۍ کورنۍ د هلک کورنۍ ته میلمسیتا کوي او خپلې راتلونکې ناوی ته پوښ اخلي چې معمولاً په هغې کې د ناوې له پاره درې جوړه کالي موجود وي او کله چې ستنې ته د هلک له خوا خلک ورځي نو پوښ هم ورسره وړي یا دا چې لومړی پوښ د ستنې څخه دوې یا درې ورځې د مخه د نجلۍ کور ته وړل کیږي. باید وویل شي چې په پوښ کې د نجلۍ د کورنۍ تقریبا ټولو غړو ته هم کالي او ډالۍ ایښودل کیږي. دواړه د هلک او نجلۍ کورنۍ خپلو راغلو میلمنو ته ډالۍ ورکوی چې معمولاً کمیسونه، پټوګان، لنګۍ او نور څه پکې شامل وي. د دې خبرې یادونه هم ضروري ده چې یاد شوي ټول مراسم په وردګو کې د دریا وهلو، ډول، اتڼ او خوړو سندرو سره ملګري وي چې هره سندره بیا خپل خپل مقام لري چې باید په مناسب ځای کې ولوستل شي. د جهاد له دور څخه د مخه په وردګو کې د واده د دعا، ستنې راوړلو او واده کې په ټوپکو باندې د نخښې ویشتل هم رواج وو چې د جهاد په دور کې یې په نخښې سربیره بیله بڼه غوره کړه هغه دا چې د اتومات وسلو او کلاشینکوفونو یا درنو وسلو ضربې به هم د ودونو پر مهال کیدلې. خو اوس مهال خلک وضعې ته ګوري که چیرې نورماله وي او امنیتي ستونزې و نه لري نو کیدای شي په ورته حالاتو کې هم د خوښۍ ډزې وکړي او ځوانان نخښه وولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نکریزو شپه او واده:

له واده څخه تر مخه لومړی ټول هغه څیزونه چې د نجلۍ کورنۍ مخکې له مخکې له خپلو خیښانو سره معلوم کړي وي د هلک د کورنۍ له خوا برابرېږي او وروسته بیا د هلک د کورنۍ له طرفه یو دوه تنه مشران د جوړښت په موخه د نجلۍ کورته ورځی او جوړښت ورسره کوي. جوړښت په دې ډول وي چې دوه درې تنه مشران د نجلۍ له کورنۍ څخه غواړي څو په ټولو هغه څیزونو کې چې مخکې د کوژدنی څخه یې معلوم کړي دي یو څه ناڅه ورته کم کړي او د پاتې څیزونو په هکله دواړه لوري یو جوړ جاړی ته سره ورسیږی، د نجلۍ کورنۍ د خپل وس په اندازه له ټاکل شوو څیزونو څخه څه ناڅه کموي او یا یې هم نه کموي. د جوړجاړي او د واده د لګښتونو په سر یوې موافقې ته رسیدل هم داسې دي، چې ځینې کورنۍ نغدې پیسې اخلي او ځینې بیا هغه ټول ټاکل شوي څیزونه په خپل طبیعي شکل غواړي چې مخکې له مخکې د دواړو لوریو تر منځ پرې موافقه شوې وي. د نجلۍ کورنۍ د خپل وس تر اندازې پورې خپلې لورته د کور وسایل اخلي چې کور یې بولي او د هلک کورنۍ هم خپل ضروري ګامونه اخلي او وړ تدابیر نیسي. په داسې توګه چې خپلې کورنۍ غړو ته (البته اوس مهال) نوې جامې اخلی او په کور کې د واده تود هرکلۍ روان وي. له واده څخه یوه یا دوه ورځې تر مخه د واده پوښ یعنې هغه کالي، ګاڼې او نور څه چې د ناوی له پاره په پام کې نیول شوي وي او د وروستي ځل لپاره یې د هغې نجلۍ کره ور وړي چې کوژدنه یې شوې خو لا هم واده شوې نه ده. البته د دې پوښ اندازه د مخکنیو پوښونو په انډول لږ څه زیاته وي. د نجلۍ کورنۍ د ناوی د پوښ راوړونکو نارینه وو ته لنګۍ، چپنې یا پټوګان او ښځو ته چې ټنګورې یې بولي پړوني، کالی او یا داسې نور مروج څیزونه ورکوي. په ځینو ځایونو کې له پوښ سره ستره ورا هم ځي البته که د ناوې کور لرې وي او ټوله ورا بیا د ناوې په کلي کې شپه کوي. د نجلۍ کورنۍ د ناوی د پوښ له پاره د کلي ښځې راټولوي او د واده پوښ ورته ښکاره کوي او راغلو ښځو ته میوه هم ورکول کیږي. د نجلۍ د کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نژدې خپلوان خپلې تحفې چې اچونه ورته ویل کیږي او معمولاً ظرفونه یا دسمالونه وي راوړې ډالۍ او د ناوې په پوښ کې ږدي. د معمول په توګه د واده شپه یعنې هغه شپه چې سبا ته یې واده وي د نکریزو د شپې په نامه یادیږي د نکریزو دود یا لاس سره کول د خورا ډیرې پخوانۍ زمانې راهسې په وردګو او نورو پښتنې ټولنو کې دود دي. رواج داسې دی چې د کلي مخورې او مشرانې ښځې چې یو ټولګی پیغلې یې هم بدرګه کوي ډیرې نکریزې په یوه لوی لو ښي کې خیشتوی او له څنګه یې د خوږو سندرو زمزمې کوي بیا په نیمه شپه کې په همدې نیکریزو لومړی د هلک یا زوم یوه ګوته سره کوي هلک یوه قیمتي ډالۍ چې غالبا د طلا ګوتې وي د ناوې په موټې کې ږدي او بیا لږ نیکریزې اخلي او د ناوې په موټې کې یې ږدي چې دغه ډول مراسمو ته د موټې خلاصولولو مراسم ویل کیږي. داسې هم پیښیږي چې ناوې ځواکمنه وي او هلک یې د موټې په خلاصولو بریالی نه شي، خو بیا د هلک د خپلوانو او سپین سرو ښځو له خوا ناوې ته زارۍ کیږي چې خیر دی نور بې مه ځوروه او موټی خلاص کړه چې بیا نوموړي مراسم سرته رسیږي.

د نکریزو په شپه نژدې دوستان د نکریزو د ایښودلو له پاره له زوم سره یوځای راځي په لومړي سر کې د ټنګورو له خوا او دریاوې چمبې وهل کیږي سندرې ویل کیږي او څه ساعت وروسته د نجلۍ په لاسونو د شاګوم نکریزې ږدي. سهار ورا راځي چې زیات کسان له اړوندو کلیو څخه پکې ګډون کړی وي او د نجلۍ له لوري هم رابلل شوي میلمانه ټول د نجلۍ کور ته راځي. ناوې د ښځینه دود له مخې را ولاړوي او د خسر د کور په لوري یې د موټر په وسیله وړي البته پخوا به د آسونو او کجاوو په وسیله ناوی د خپل خاوند کره د پلار له کوره وړل کیده. د نجلۍ دوه درې خپلوانې ښځې او نارینه هم ځي چې ښځو ته خینبانې او ټنګورې ویل کیږي او نارینه د خینبانو په نوم باندې یادیږي. کله چې د هلک کور ته ورسیدل هلته یو چرګ حلالیږي یا یې تاج غوڅیږي او په هغې باندې د موټر ټایر او د ناوې بوټ د نیکمرغۍ په موخه او عقیده باندې سور

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږي. کله چې ناوې کورته ننوځي، نو د وره په لخک یا چوکاټ باندې یوه کوکه یا وړوکی مخ د هغې له خوا ټک وهل کیږي، بیا تناره ته بیول کیږي او د هغه څنډې ښکلوي او مخکې لدې چې کورته یې د ننه کړي هغه نارینه خپلوان چې له ناوې سره راغلی د ناوې لپاره کور غواړي چې د خپلو خینښانو له مثبت ځواب سره مخامخ کیږي او بیا یې کورته بیایي. کله یې چې د ناوې بوټ پرې وباسي نو هغه له وریجو، غنمو او یا نورو غلو دانو څخه ډکوي چې پورتنی هر یو رواج خپله خپله فلسفه لري.

البته پخوا داسې رواج وو چې اوس مهال نشته چې د خسر کره یې په دوهمه یا دریمه شپه د کلي ملا او څو کسه نور راغوښتل کیدل او د شپې له دوډۍ څخه وروسته شاهدان نجلۍ ته ورتلل او د معمول په شان د نکاح دود ترسره کیده خو اوس مهال د نکاح مراسم غالبا د نجلۍ په کور کې ترسره کیږی او هلک اجازه لري چې له همدې لومړۍ شپې څخه خپله میرمنه ووینې، خو په پخوانیو رواجونو کې به چې کله ناوې د هلک کورته راغله نو هلک به دوې یا درې شپې نور هم صبر کاوه څو رواج بشپړ او په دریمه شپه د نکاح مراسم ترسره شي.

په ځینو کلیو او کورنیو کې خو داسې رواج هم شته دی چې د شیریني خورۍ پر مهال د هلک کورنۍ د نجلۍ له کورنۍ څخه د مخکیني توافق په بنسټ ګل راوړي او هغه ته ناسته ویل کیږي چې د ګل راوړلو په ورځ هلک هم د نجلۍ کورته د شیریني خورۍ له میلمنو سره ځي او د ګل راوړلو د مراسمو په ترځ کې د قبول ایجاب په نامه باندې نجلۍ هلک ته نکاح کیږي او کله چې ملیمانه ولاړ شي نو بیا هلک اجازه لري چې د خسر کره پاتې شي او نجلۍ ووینې چې دغه مرحلې ته چغل بازۍ وایي.

د ناستې او ستنې توپیر په دې کې دی چې د ناستې د مراسمو ټول لګښتونه به د واده په څیر د هلک کورنۍ کوي او زیات میلمانه پکې راغوښتل کیږي چې تقریبا د یوه واده د مصارفو په څیر وي او نامزاد شوي هلک ته اجازه وي چې د خسر کره تګ او راتګ وکړي او د خپلې میرمنې سره د پلار په کور شپې تیرې کړي. خو د ستنې د مراسمو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لګښتونه بیا د نجلۍ پلار کوي او یوه عادي میلمیستا ګڼل کیږي چې نامزاد شوي هلک د دې مراسمو په ترڅ کې د واده تر مهاله د نجلۍ کورته اجازه نه وي.

باید وویل شي چې د وردګو په زیاتو کورنیو کې له واده څخه د مخه هلک ته اجازه نه ورکول کیږي چې د خسر کره تګ او راتګ وکړي البته عوامل یې زیات دي چې ځینو ته یې په لنډه توګه اشاره وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په وردګو کې د واده د دریمې ورځې دود:

وروسته له دې څخه چې په وردګو کې د واده مراسم په بشپړه توګه پای ته ورسیږي، نو تر دریمې ورځې پورې ناوې ته د یوه ډیر نازولي میلمه په توګه قدر ورکول کیږي او د کور د مشرانو او یا خاوند له خوا د کور او کاله په هکله د هیڅ ډول خبرې یادونه ورته نه کیږي.

په دریمه ورځ هغه مراسم تر سره کیږي چې په ځینو ځایونو کې د تخت جمعی یا په نورو نومونو باندې یادیږي. خو په وردګو کې دغه ورځ د دریمې په نامه یادیږي. په دې ورځ زوم د خپل خسر کورته ځي البته څه میوه او له معمول سره سم یو څه ناځه چې د کورنۍ له خوا ورته برابر شوي وي، د خسر کورنۍ ته یې وروړي او د خپلې خسرګنۍ او نور نژدې دوستان د دریمې ورځې میلمستیا ته رابولي.

د ناوې کورنۍ او نژدې دوستان هغه کالي، جامې او نورڅه چې له ناوې څخه د پلار په کور کې پاتې شوي وي او یا هم دوستانو دغه ناوې ته څه ډالۍ او تحفې اخیستې وي له خپل ځانه سره یې د ناوې نوي کورته راوړي. د دریمې ورځې محفل ته د هلک د کورنۍ نږدې دوستان او خپلوان هم راغوښتل کیږي او د کلي پیغلې او ښځـــې هم په دې محفل کې ګډون کوي.

لومړی په ځانګړو مراسمو د هلک مور یعنې د ناوې خواښې یا کومه بله مشره ښځه ناوې پخلنځې ته بیایی او د نومورې لاس په زیړو غوړیو کې وهل کیږي وروسته نو ناوې په خپل لاس څه نا څه خواړه برابروي چې د دې ډول محفل له جوړیدو څخه موخه دا ده ترڅو ناوې د کور په سمبالولو او د کور د چارو په پرمخ بیولو باندې په رسمي توګه پیل وکړي.

پیغلې دریا وهي، ځانګړې سندرې وایي او سیل کوي څو د ډوډۍ وخت شي د ډوډۍ خوړولو پرمهال پیغلې او ښځې له ناوې سره یوځای ډوډۍ خوري او د ډوډۍ له خوړلو څخه وروسته د نجلۍ د کورنۍ مشر په دسترخوان کې یوه اندازه پیسې اچوي. کله چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجلۍ د کورنۍ غړي او دوستان بيرته خپلو کورونو ته ستنيږي، نو د هلک د کورنۍ له خوا دوی ټولو ته د دوی له شان سره مناسبې ډالۍ ورکول کيږي او په ډيره درنه توګه رخصتيږي.

خو په عمومي توګه بايد ووېل شي چې په وردګو کې هغه دود د تخت جمعې يا دريمې په نامه ياديږي په هره سيمه کې خپل ځانګړي مراسم لري چې دځينو يې مخکې په لنډه توګه يادونه و شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د وردګو د جامو او کالیو څرنګوالی:

د وردګو ولایت هم د نورو پښتنو قومونو او ټبرونو په څیر یو شمیر ځانګړې جامې او کالي لري چې په دودیزه توګه له هغه څخه کار اخلي.

د وردګو د نارینه وو لویان په عمومي ډول لونګۍ او پټکي په سر کوي چې لونګۍ او پټکی یو له بله سره ځینې توپیرونه لری او ښه لونګۍ د وریښمیني یا هم مشهدۍ په نومونو یادیږی او له نورو ډولونو څخه یې ځوانه طبقه خلک ډیرې خوښوي. په پټکیو کې هم د پاچ پټکی د نورو په پرتله زیات د خلکو د خوښې وړ دی. ځوانان او هلکان بیا خولۍ په سرکوي او په لوڅ سرګرځیدل په کلیوالو سیمو کې د چا نه خوښیږي، بلکي هغه څوک چې لوڅ سر ګرځي زیاتره اطرافي وګڼي او دیني کړۍ ورته د کرکې په نظر ګوري، له همدې کبله څوک د دې جوګه نه وي چې د ښارونو په څیر دې د وردګو په کلیوالي ساحو کې لوڅ سر و ګرځي. ځینو هلکانو او ځوانانو ته یې میندې په کورونو کې د مریو او سونډو په وسیله په لاس باندې بیلابیل ډول خولۍ جوړوی او بیا یې هغوی په سر کوي. ځینې ځوانان بیا د خپلې خوښې خولۍ په بازارونو کې پیدا کوي او په خپلو سرونو یې ږدي چې اوس مهال له افغانستان څخه نیولې آن د هند، بنګلدیش او پاکستان خولۍ هم په ځوانه طبقه کې رواج موندلی دی. البته باید وویل شي چې د جامو په اړه هر وخت نوي نوي بدلونونه رامنځته کیږي او هیڅ وخت یو ځانګړي ډول جامو په دې ټولنه کې تر ډیره وخته دوام نه دی کړی، خو د وردګو په زیاتره کلیوالي سیمو کې څوک لا اوس هم په لوڅ سر باندې د ګرځیدو اجازه ځان ته نه ورکوي.

پخوا به د نورو پښتني ټولنو په څیر نارینه وو هم ګرد کالي او په چرمو باندې جوړ شوي واسکټونه اغوستل چې د کالیو لمنې به یې ګردې وې او ملاوې یې په یو ډول دستمالونو تړلې چې د نهه ګله دستمالونو په نامه یادیدل خو اوس مهال هغه دود خپل ځای د نوې زمانې سره سم نووو رواجونو ته پریښی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وردګو نارینه وګړي په خپلو سیمو کې په عمومي توګه پټو او یا څادر هم استعمالوي چې د دوه نیمو مترو په اندازه له پنځه متره رخت څخه جوړیږي او یا هم تیار جوړ شوي پټوګان د دې موخې لپاره له بازارونو څخه رانیسي.

کله کله میندې د خپلو کورنیو غړو ته داسې کالي هم جوړوي چې ګریوانونه، غاړې او یخنونه یې په خامک کوک باندې جوړ شوي او پیغلې یې په خپلو ګوتو ګنډلي چې د یوه ګریوان د جوړولو لپاره میاشتې میاشتې خواري و باسي. په میندو کې په عمومي ډول همدغه افغاني جامې دود دي او په چرمو او یا زر تارو باندې جوړ شوي کالي د خلکو ډیر د خوښې وړ دي او په تن کوي یې. پخوا به یو ډول خولۍ چې ریخچینې یا عرقچین یې بللې، ښځو جوړولی او په سرونو باندې به یې له پوړنې څخه د لاندې ایښودې، خو اوس مهال دغه رواج په لرې پرتو کلیو کې ډیر کم کم پاتې دی.

همدا رنګه به ښځو یو ډول لستوڼخولې جوړولې یعنې د کالیو او جامو د لوستوڼو خولې به یې په مریو، زر تارو او داسې نورو زینتي شیزونو جوړولې چې یو ځانګړی څرنګوالی به یې درلود او اوس هم په هغو کالیو کې استعمالیږي چې افغاني یې بولي او ښځې ورسره ځانګړې مینه لري.

د جامو بله ځانګړنه داده چې ښځینه یې یو ډول ډیر لوی پرتوګونه چې له پنځه یا شپږو مترو ټوکر څخه جوړیږي او د ګونځه وال یا ګونځې دار په نامه به یادیدل او پخوا زیات دود وو چې اوسمهال یې خپل پخوانی ماهیت له لاسه ورکړی او په ټیټه کچه اوس هم استعمالیږي. د دغه ډول پرتوګونو رنګ به هغو ښځو لپاره سپین وو چې واده شوې به وې او د واده کړیو ښځو د پرتړونو رنګ به سور یا شین او له کتان څخه به جوړیدل.

له دې سره سره په وردګو کې ښځې داسې ټکري یا پوړني په سر کوي چې سر تر پایه پکې پټه وي او کله چې پردي سړي مخ ته ورشي، نو خپل مخ هم په د هغه ټکري په وسیله پټوي چې په سر یې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه اړینه خبره دا ده چې که څه هم د انساني ژوند پرمختګ او د انساني ټولنې فرهنګ دواړه یو له بل سره نه شلیدونکې اړیکې لري نو له همدې کبله کلتور او فرهنګ د ټولنې له وګړو څخه رامنځ ته کیږي، نو دودونه او عنعنات چې د فرهنګ یوه برخه ده د ټولنې په پرمختګ کې جوت رول لري. له همدې کبله شاید چې په ځینو ځایونو کې به د جامو ځرنګوالی څه ناڅه خپله څیره بدله کړې وي او ښارې لورته به راکاږل شوې وي خو په عمومي توګه د وردګو د خلکو جامه او لباس په بشپړه توګه یوه ملي او افغاني بڼه لري چې د زیاتې پاملرنې وړ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په وردګو کې د میلمه پالنې دود:

نه یوازې د وردګو د ولایت بلکې زموږ د ګران هیواد افغانستان اوسیدونکي او بیا په ځانګړي ډول پښتانه د میلمه پالنې د دود په هکله د تل لپاره په ملي او نړیواله کچه خپل ویاړلي ملي افتخارات لري. میلمه پالنه زموږ د ګران هیواد په هره برخه کې دود ده او څرګنده ده چې زموږ خلک په میلمه پالنه کې د ښه نوم او شهرت خاوندان دي.

د وردګو ولایت خلک په حقیقي توګه د نورو پښتنو ټبرونو په څیر په میلمه پالنه کې ډیر غښتلي او مخکښ رول لري او تل یې په خپله سیمه او کور باندې د خپلو میلمنو عزت کړی دی. او دا خبره خو معموله ده هغه څوک چې ډیر میلمه پال وي او د نورو په پرتله د خپل میلمه ډیر قدر کوي، په کلي او کور کې له نورو څخه ډیر مشهور وي.

میلمانه په عمومي ډول په دوه ډوله دي یو هغه میلمانه دي چې څوک یې یې په خپله راغواړي او د نوموړي میلمه یا له هغه سره د نورو راغلو ملګرو میلمه پالنه کوي. بل هغه میلمانه دي چې د مساپر تر نامه لاندې په یوه کلي یا بانډه راپیښیږي، په سیمه کې څوک نه پیژني او نابلده وي.

که چیرې په وردګو کې نابلده مساپر کوم کلي ته راشي نو له معمول سره سم د کلي جومات ته رهنمایي کیږي. په همدې وخت کې د کلی سپین ږیري او یا هغه کسان چې جومات کې موجود وي نابلده مساپر او یا مساپرو ته سمدلاسه چای او که د ډوډۍ وخت وي نو ډوډۍ ورته راوړي حتی که چیرې یې په نوموړي کلي کې شپه راځي د شپې بستره هم ورته برابروي. چې دغه ډول یو معمول له نابلد مساپر سره د میلمه پالنې یو لوی مثال دی چې د دې سیمې وګړي یې د عمل په ډګر کې وړاندې کوي او په پرمختللې نړۍ کې د دې ډول یوې میلمه پالنې بیلګه نه تر سترګو کیږي.

لکه چې مخکې وویل شول کله چې شپه شي نو میلمه ته په پوره میلمه پالنه همدلته جومات ته د ویده کیدو لپاره بستره راوړي او سبا سهار بیا همدغه بهیر تکراریږي. کله کله داسې هم پیښیږي چې یو میلمه ته د کلي د څو تنو اوسیدونکو له خوا هرکلی ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library


کیږي او څو کسان له خپلو کورونو څخه میلمه ته ډوډوۍ او چای راوړي او کوربانه له میلمه سره یوځای په جومات کې ډوډۍ او چای خوري څو میلمه د یواځېتوب او خفګان احساس ونه کړي.
بل ډول میلمه پالنه داسې ده چې راغلي مساپر او میمله د کلي یو یا څو تنه خپلو کورونو ته د بیولو ست کوي نو هر څوک چې په خپل ټینګار کې بریالی شو نو مساپر خپل کورته بیايي او د خپل توان په اندازه نوموړي ته چای او ډوډۍ په برابرولو سره تود هرکلی وایي.
د میلمه په هکله رواج داسې دی چې که هغه د خپل راتګ موخه و نه وایي چې ولې راغلی دی نو په عمومي ډول له میلمه څخه پوښتنه نه کیږي چې ګواکي د څه له پاره راغلی دی ځکه دا یو ډول عیب ګڼل کیږي بلکي تود هرکلی او خدمت یې کوي څو زړه ته یې څه ور و نه ګرځي.
په ځینو سیمو کې داسې دود هم دی چې که په کلی کې د جومات ملا د هر چا په وار وي نو مسافر کس هم د همغه کس میلمه کیږي.
لکه څنګه چې وایي (څه چې تیار دي هغه د یار دي) هر کس د خپل توان تربریده خپل میلمه ته خواړه برابروي او د میلمه هرکلی کوي. د میلمه پالنې څخه مقصد دا نه دی چې میلمه ته دې هرو مرو ډېر خوند ور خواړه تیار شي، بلکې له میلمه پالنې څخه موخه دا وي ترڅو خپله مینه او محبت له میلمه کس سره شریک کړي او هغه په کوربه کلي کې د بیګانه توب احساس ونه کړي. همدارنګه یو بل مشهور متل هم په پښتو کې شته دی چې وایي:(چې زړه تنګ نه وي کور نه تنګیږي) نو له میلمه سره تر بل هر څه د زړه اخلاص ډېر مهم وي چې د وردګو دمیلمه پالنې پر مهال یې بهترین مثالونه وړاندې کیږي.
د وردګو په سیمه کې داسې رواج هم شته دی که چیرې کوم څوک له لارې څخه تیریږي او په تصادفي توګه د چا دروازه وټکوي یا غږ وکړي چې ګواکي تیریدونکی کس میلمه یا مساپر دی نو په دې صورت کې نوموړی د کور د نارینه وو له خوا میلمستون ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیول کیږي د میلمه پالنې په دود سره ورته چای او ډوډۍ تیاروي. داسې هم پیښې شوي دي چې که کور کې نارینه په کور نه وي نو د کور ماشومان او یا زړې میرمنې نوموړي کس ته چای او ډوډۍ راوړي، د میلمه هرکلی کوي، خپل افغانی دود پالي او پیاوړی کوي یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په وردګو کې د مړي دود:

په دې خبره خو ټول باور لرو چې انسان د پناه لپاره پیدا دی او یوه ورځ به د مرګ پرښته د هغه د کور په دروازه کې ګام ږدي او روح به يې ترې قبض کوي. همدارنګه د دې خبرې یادونه اړینه ده چې که د ژوند په چارو خبرې کوو نو ضروري ده چې د مړینې د چارو یادونه هم وشي. کله چې په وردګو کې کوم کس ته مړی پیښیږي خپل دوستان راغواړي او مړی له معمول سره سم ښخوي او په مړي باندې د سکوات یا سخات ویشل هم دود دي. کله چې په کوم کور کې داسې پیښه وشي، نو د خپلو دوستانو او خپلوانو له خوا د مړي کورنۍ نه پریږدي چې خواړه پاخه کړي بلکي خپلوان او دوستان تر دریو شپو او ورځو پورې ډوډۍ ورته تیاروي چې دغه ډول ډوډۍ یا خواړه ویروسی بولي. د ډوډوی راوړل داسې دي چې د هر چا د لوښې شریک معلوم دی یانې دا چې په کلي کې هغه کورونه معلوم وي چې غمجنې کورنۍ ته ډوډۍ ور وړي او د مړي کورنۍ ته د ډوډۍ وروړل پیل کیږي. له دریو ورځو څخه وروسته د مړي خاوند خپل دوستان راغواړي او په متوفا پسې ختم او لوی خیرات کوي خو د قرآن کریم له ختم سره یو ځای په وړه پیمانه باندې خیراتونه څو نورې جمعې هم ادامه پیدا کوي چې د مړي د کورنۍ له خوا د هغه روح ته د تسکین او ثواب په خاطر کیږي. داسې هم شته دي چې د مړي په څلویښتمه ورځ وروستی ختم او خیرات او د دعا مراسم تر سره شي خو بیا هم دغه یاد شوي رواجونه د وردګو په ټولو سیمو کې په یو ډول نه دي بلکي په کم توپیر سره له یوې سیمې څخه تر بلې سیمې پورې تدویر مومي.

د فاتحې اخیستل د دعا اخیستلو په نامه هم یادیږي او د مړي د کورنۍ مشر یا مشران په جومات کې ناست وي، د چای ترموزونه او د خوږو ډک پشقابونه يې ایښي وي هغه څوک چې دعا ته راځی نو جومات تشریف وړي متوفا ته دعا کوي، چای چښي او که د ډوډۍ وخت وي نو د کلیوالو له خوا په اتفاق سره ډوډۍ هم ورته راوړله کیږي. کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسان چې د متوفا نږدې خپلوان وي نو یو ځل په جومات سربیره د هغه کورته هم ورځي او د تسلیت مراتب د متوفا کورنۍ او دوستانو ته وړاندې کوي.

له بده مرغه د وردګو په منځ کې ځینې ناوړه دودونه هم شته دي چې د لورانو پر سر د ډیر ولولور په نامه د پیسو اخیستل، د بې ځایه خیراتونو او په بدو کې د نجونو ورکول او دې ته ورته ځینې نور خراب دودونه هم شته دي چې احمدی صاحب په خپله لیکنه کې هغې ته اشاره کړې ده نو ځکه یې له بیا راوړلو او تکرار څخه دلته ډډه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړۍ ضمیمه:**



# په وردګو کې د پرمختګ لارې چارې

**ګل آغا احمدي وردګ**

د انسانانو په ټولنو کې پرمختګ داسې یو بنسټ دی، چې د هر انسان خوښیږي او غوارې چې د دې بنسټ په سمسمورو څانګو کې د خپلو هیلو ګلونه ووینې. پرمختګ داسې یو بهیر دی چې د بختورو ټولنو به په برخه کیږي او خپل ژوند د هغه په روښانه تګلاره برابروي.

پرمختګ د انساني ټولنې هغه ښکلی بنسټ دی، چې د هغه په وسیله انسان د خپل ژوند د سطحې د لوړو پوړیو او د خپلو هیلو هسکو منارونو ته رسیدای شي. پرمختګ په ټولنه کې د هر راز شاته تګ مقابله کوي او غوارې چې د خپل روښانه څرک پلوشې د انساني نړۍ د آرمانونو تر غرونو او رغونو را تاو کاندې. پرمختګ په هره ټولنه کې خپلې خپلې ځانګړتیاوې او مشخصې لارې چارې لري چې د ټولنې له ملي او ټولنیزو آرونو سره سم وګړي د رڼاوو د وړانګو له کاروان سره یو ځای کوي.

په دې مقاله کې د پرمختګ ځینو هغو لارو چارو ته ګوته نیول کیږي چې د وردګو په سیمه کې یې شونتیا لیدل کیږي او د هیواد نورې سیمې هم د خپلو هر اړخیزو چارو د پراختیا لپاره ترې الهام اخیستلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې کې شک نشته چې ښوونه او روزنه د انساني ژوند د پرمختګونو لومړی پړاو او د دې ښکلي بنسټ لومړۍ خښته ګڼل کیږي. ښوونه او روزنه د انساني نړۍ د بڼ ښکلا، د وړانګو د بهیر پلوشې، د روښانه سباوون د افق کرښه او د ښایستونو د ناوې په زلفو باندې هغه غوړیدلی زرغون شال ګڼل کیږي، چې هر ډول نیکمرغۍ یې د پیڅکو په شملو کې را ځوړندې وي.

د لوی خدای ج په ستر او عظیم فضل، د وردګو د عامو وګړو په بشپړه همکارۍ، علاقې، ځانګړې مینې او د ځینو خواخوږو اړخونو او شخصیتونو د هلو ځلو په پایله کې په وردګو کې د ښوونې او روزنې بهیر د زمانې په دې حساس پړاو کې د هیواد د ډیر شمیر سیمو په پرتله غښتلی او ځواکمن دی، خو د لا ښه کیدو لپاره یې زیاتو هڅو ته اړتیا لیدل کیږي. د دې خبرې یادونه اړینه ده چې که څه هم ویل کیږي چې په وردګو کې د ښوونې او روزنې بهیر په نسبي ډول ښه دی، باید ووایو چې کافي نه دی، بلکي د وردګو خلک له خپلو خواخوږو مشرانو، اړوندو دولتي ارګانونو، مرستندویو ټولنو او زړه سواندو نړیوالو اړخونو څخه هیله لري، چې د وردګو زدکړې له چارو سره د خپلې ځانګړې مینې، علاقې او په دې هکله د هر اړخیزو همکاریو په بنسټ زموږ له خلکو، ښوونیزو بنسټونو د بشپړې رغونې په موخه سیمې ته لا زیاته پاملرنه وکړي. تر څو د خلکو په منځ کې ښوونه او روزنه عمومي شکل غوره او د هیواد د قانوني ادارې لپاره یو ریښتینی ځواک و روزل شي.

د وردګو د سیمې د ښوونې او روزنې د ښوونځیو، لیسو او لوړو زده کړو د موسساتو په هکله باید وویل شي چې زیاتره یې په اوسني وخت کې د لویو لویو ستونزو سره ډغرې وهي چې ډیرې مهمې یې د امنیت ګواښ، د مسلکي استادانو لږوالی، د درسي موادو او قرطاسیې ستونزه او د زیاتره تعلیمي مؤسساتو لپاره د لازمو تعمیراتو او ودانیو نشتوالی ګڼل کیږي. پر دې سربیره په وردګو کې د ښځو ښوونې او روزنې ته لکه څومره چې مناسبه ده، پاملرنه نه کیږي. بلکي د وردګو په ځینو سیمو کې که د ښځو ځانګړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونځۍ تر شپږم پورې رسیږي، نورې ټولې له دویم او دریم ټولګي څخه لوړ صنفونه نه لري چې دا ستونزه هم یو لوی ګواښ دی. باید وویل شي چې ښوونه او روزنه په هر نارینه او ښځینه مسلمان فرض ده، خو په سیمه کې روانې ستونزې او د ښځو د تعلیم په وړاندې ځینې منفي حساسیتونه زموږ په ټولنه کې د ښځو د تعلیم موضوع له یوه ژړوونکي رکود سره مخ کړې ده. همدارنګه اوس مهال خو د ورګو په هغو ساحو کې هم د نجونو ښوونځي تر ګواښ لاندې دي چې دوه درې کلونه مخکې هلته تعلیم په ښیرازه توګه پر مخ روان وو.

## دویم: په سیمه کې د لوړو زده کړو د موسساتو رامنځته کول

د وردګو په سیمه کې د لوړو زده کړو د موسساتو رامنځته کول ځکه اړین دي چې د اټکل له مخې د هیواد د وګړو د نفوس په انډول په وردګو کې د باسواده نارینه وګړو او محصیلینو شمیر د ټول هیواد په سطح په لومړي کتار کې ځای نیولی دی. باید وویل شي چې په هیواد کې د سترې غمیزې په ترڅ کې له ډیرو سختو شرایطو، ستونزو، بمباریو، جګړه ایز حالت، ورانیو او ډول ډول ناخوالو سره سره د وردګو خلکو په خپلو سیمو کې د ښوونې او روزنې بنسټ ته ځانګړې پاملرنه کړې او د زده کړې د ځانګړې طبیعي مینې او علاقې په بنسټ یې د ښوونې او روزنې په چارو کې د ځینو اړوندو خیریه موسساتو پاملرنه خپلې خوا ته را جلب کړې وه. په دې لړ کې ګڼ شمیر لومړنۍ او منځنۍ ښوونځۍ او لیسې تشکیل شوې، په زرګونو زده کوونکیو له لیسو څخه د فراغت وړیاړ تر لاسه کړ چې د هیواد زیاتره پوهنتونونه، دولتي او د مرستندویه ادارو دفترونه پرې ښکلي دي او نوموړې لړۍ د لوی خدای (ج) په مرسته پر مخ روانه ده.

نو له همدې کبله ضروري خبره ده چې د وردګو سیمه د خپل جغرافیایي او علمي اهمیت له مخې د یوه ښکلي پوهنتون درلودونکې وي. په دې اړوند لومړۍ د هیواد په دننه او بهر کې له هغو ټولو وردګو استادانو، پوهانو، روڼ آندو، روحانیونو، ملي سوداګرو، او ټولنیزو شخصیتونو څخه هیله کیږي چې د دې روښانه سیالۍ ډګر ته له بل هر چا څخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخه را وړاندې او د خپلو هر اړخيزو مرستو، اغيزو او نفوس له مخې د خپلو بچيانو او راتلونکو نسلونو د خدمت لپاره په سيمه کې د دې ښکلي او روښانه نوښت بنسټ کيږدي. د دې کار شونتيا له بل هر وخت څخه اوس په سيمه کې زياته شوې او په لومړي سر کې داسې هم کيدای شي چې د اړوندو دولتي او نړيوالو مرستندويو اړخونو سره د تفاهم له مخې د سيدآباد د ژوناليزم انستيتوت ته د لومړي ګام په توګه پراختيا ورکړل شي (داسې ويل کيږي چې له بده مرغه دغه انستيتيوت اوس مهال له فعاليت څخه لويدلی دی) که چيرې نوموړی انستيتيوت فعاليت نه کوي)، نو کيدای شي د هغه معادل يوه بله تعليمي موسسه جوړه شي. په دې توګه چې تر څنګ يې يوه يا دوې نورې پوهنځۍ تشکيل او کرار کرار په يوه ستر پوهنتون بدل شي. البته بايد و ويل شي چې د پوهنتون لپاره د داسې يوې مرکزي سيمې غوره کول ضروري دي چې پراخه، ارته او هواره ځمکه و لري او په شاوخوا کې يې د داسې يوه پرمختللي او پراخ ښار شونتيا وي چې د زمانې د نويو نقشو، سرکونو او هر اړخيزو اړتياوو بنسټونه په نظر کې نيولي وي.

د دې خبرې يادونه هم اړينه ده، چې که د وردګو د سيمې مشران، پوهان، عالمان، حکومتي چارواکي، ملي سوداګر، د مرستندويه مؤسسو مخور مشران او ټولنيز وګړي د دې سپيڅلي ګام او سيالۍ په پورته کولو کې ځنډ کوي، نو دا کار به نور خلک کوي البته په داسې توګه چې د ډير وخت لپاره به د وردګو د سيمې خلکو ته د دې روښانه هيلو د خپلولو چانس په لاس نه ورځي. د دې خبرې څرګندونه اړينه ده چې د لوی خدای ج په توفيق، د خپلو مشرانو، پوهانو، مخلصو اړخونو او خلکو د هر اړخيزې همکارۍ په ترڅ کې د دې شونتيا شته ده. لکه څنګه چې د وردګو سيمه د زده کوونکيو او محصيلينو له اړخه بډايه ده په همدې توګه هلته د يوه ستر او علمي پوهنتون د جوړيدو امکانات هم له بلې هرې سيمې څخه زيات دي. له بلې خوا د وردګو سيمه هغه سيمه بلل کيږي چې له خپلې غريبې غيږې څخه يې لسګونه داسې استادان ټولنې ته وړاندې کړي دي چې د نړيوالو پوهنتونونو په کچه يې دوکتوراوې او ماسترۍ ترلاسه کړې او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لویدیځو پرمختللو هیوادونو کې د تدریس چارې پر مخ وړي او د لویو لویو ویاړونو د لاسته راوړلو جوګه دي چې په دې برخه کې د دوکتور زرجان بها، دوکتور بهاوالدين بها، دوکتور عبدالعلي وردګ، دوکتور عبدالولي وردګ، دوکتور عبدالله جان وردګ، دوکتور سورګل وردګ او داسې نورو ویاړمنو نومونه د یادولو وړ دي. نو په دې وسیله د دې کار امکان شته دی چې د دې استادانو په هراړخیزه همکارۍ د وردګو د پوهنتون کار نور هم چټک شي او زما په آند هغوی حاضر دي چې په وقفه یي ډول د خپلو بچیانو د روزنې لپاره راشي او دغه مبارک کار ته پراختیا ورکړي.

**دریم: په وردګو کې د یوه مرکزي ښار رامنځته کول**

دا خبره جوته ده چې ښارونه د انسانانو د پرمختګ په لاره کې اغیزمن رول تر سره کولی شي او ښارونه له هغو محلاتو څخه عبارت دي چې د انسانانو سیاسي، کلتوري، پوهنیزې او هر اړخیزې ودې ته لاره پرانیزي او زیات وګړي په ښارونو کې په ډول ډول کارونو ګمارل کیږي. په همدې توګه د یوې ښکلې نقشې په پلي کولو سره ښارونه انسانانو ته د خپل جوړښت داسې منظم شکل په لاس ورکوي چې د ژوند د هستوګنځای زیاتې آسانتیاوې په پام کې نیولې وي. ښارونه په ټولنه کې د ښایستونو زانګو او د هراړخیزو پرمختګونو مېندې ګڼل کیدای شي.

د وردګو سیمه د یوه اساسي او نوي ښار د رامنځته کیدو لپاره یوه غوره او مناسبه سیمه ده، چې د خپلې طبیعي ښکلا، جغرافیایي موقعیت، زړه وړونکې هوا، سمسورو باغونو، زیارکښو خلکو او د اوبو د سیندونو او زیرمو له کبله په ډېره آسانۍ سره د یوه ښیرازه ښار موجودیت ته ښکلا ور ببنلی شي. باید وویل شي چې د سیمې وګړي به تر هغه مهال پورې د یوه پرمختللي ژوند څخه برخمن نه شي ترڅو په سیمه کې د یوه پرمختللي ښار شونتیا او جوړښت نه وي رامنځته کړی. په دې هکله د وردګو خلک له بل هر چا څخه زیات مستحق او د دې وړتیا لري چې د خپل هر اړخیز یووالي په پایله کې په سیمه کې داسې یو ښار رامنځته کړي چې ګوته ورته په غاښ و نیول شي. البته باید وویل شي چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وردګو کې د ښار رامنځته کیدل په دې ډول ممکن دي چې د هیواد په دننه او بهر کې د وردګو پانګوال او شته من وګړي د لومړي ګام په توګه او د مخکیني توافق او نقشې له مخې په ټاکلې شوې سیمه کې یوازې د خپل ځان لپاره یو یو کور په پاخه او اساسي ډول جوړ کړي او د امکان په صورت کې د ښار په صنعتي برخه یوه یوه داسې فابریکه جوړه کړي چې زیاتره خام مواد یې په سیمه او نږدې بازارونو کې موجود وي او نوموړی کار د خپل ملي احساس او زړه سوي له مخې تر سره کړي. د دې کار په نتیجه کې به له یوې خوا د هیواد په دننه او بهر کې شتمن وردګ اوسیدونکي په خپله سیمه کې د کورونو او صنعتي فابریکو خاوندان شي، له بلې خوا به یې په خپله سیمه کې اقتصادي ګټو ته لاره هواره کړي وي او د هغه متل مصداق به ریښتینی شي چې (د کور ګټه د لاهور ګټه). همدارنګه لدې سره سره به یې د سیمې نادارو او غریبو خلکو ته د کار د زمینې په برابرولو سره د خپلو خلکو په وړاندې خپل اسلامي او ملي رسالت ادا کړی وي. باید وویل شي چې که نوموړی ښار د هغه پوهنتون په شاو خوا کې را تاو شي چې مخکې یې یادونه و شوه، نو سیمه به نوره هم د ښکلاوو غیږې ته ور منډې کړي.

د وردګو د جغتو په ولسوالۍ کې له بونګي څخه رانیولې تر خوجاوو پورې د سړک ختیځې خواته ارته او لویه دښته، د سیدآباد په ولسوالۍ کې د توپ، منګلیو او شش کلا دښتې، د چک او جلګې په ولسوالیو کې هم ډیرې داسې هوارې ځمکې او دښتې شته دي چې د ښار بریالی نقشه پکې پلې شي.

**د ګوربت غر په توریستي سیمه بدلول او د اوبو بندونه**

د ګوربت غر د وردګو د سیمې په زړه کې موقعیت لري ختیځ لور ته یې د سیدآباد د ولسوالۍ د شنیز او ونخي درې موقعیت لري لودیځ لور ته یې د جغتو د ولسوالۍ اړوند د ګلدرې سیمه، د چک د ولسوالۍ د ګردن مسجد دره پرته ده، چې لمنه یې د خوات تر درې پورې غزیدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګوربت د غره شمالي خوا د امبوخاک په سیمه کې د چک او خوات د درې سیند پرې کوي او جنوبي خوا ته يې د غره په يوه څنګ کې د مهرو او په بل څنګ کې د لوی او واړه ايرباب کلي موقعيت لري. نوموړې سلسله د وړو وړو غونډيو په شکل کې د وردګو له عزيز کلا څخه تيريږي او د غزني د ولايت سرحد له وردګو سره بيلوي. د نوموړي غره منځنۍ برخه بيا هم هغه ساحه ده چې ختيځ لور ته يې د شنيز د درې د باغک او ځنيې نور لوی او واړه کلي او لويديز لور ته يې د ګلدرې ښکلې او ښيرازه سيمه پرته ده. په دې منځنۍ برخه کې د اوبو لويې لويې زيرمې او ستر ستر چمنونه موقعيت لري چې د ځينو ګلورينو غونډيو سربيره پراخه او ارته ځمکه لري چې د لوی خدای ج په ستر حکمت د خپلې ځانګړې ښکلا او سمسورتيا څخه برخمنه ده چې د سيمې د خلکو ملکيت ګڼل کيږي. بايد وويل شي چې نوموړې غرنۍ سيمې دګلدرې، باغک، مهرو، ستر ايرياب، ګردن مسجد، غاښي، اونخي او داسې نورو کليو او درو تر منځ ويشل شوې او د هرې سيمې د خلکو ونډه معلومه ده، چې خلک يې يوازې د بوټو، چمنونو، وښو، بيدې او داسې نورو طبيعي سرچينو څخه ګټه اخلي او خپل څاروي د دوبي په موسم کې د ځړ لپاره ورليږي. همدارنګه اوبه يې هم د يادو شوو سيمو د خلکو ځمکې خړوبوي چې په پسرلي کې ډيرې مستې وي، خو په دوبي اومنې کې د هغه بهير ډير سست وي.

د ګوربت د غره مرکزي سيمه د کابل ــ کندهار د لويې لارې لوديځ پلو ته په ډير نږدې واټن کې موقعيت لري او د سړک د درلودلو په صورت کې شايد موټر د يو ساعت مزل په وهلو سره له عمومي پاخه سړک څخه د غره سر ته ورسيږي. نو په توريستي سيمه باندې د ګوربت د غره بدلول يو غوره کار او نيک کار ګڼل کيږي چې د خپلو خلکو، حکومتي ادارو او اړوندو اړخونو پاملرنه ورته را اړوم.

په دې اړه بايد وويل شي چې په لومړي سر کې د سيمې خلکو ته وړانديز کيږي، چې د ګوربت له اوسنيو طبيعي او کرنيزو محدودو ګټو پر ځای بنايي لويو او هميشنيو ګټو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس و غزول شي په لومړي سر کې د ګوربت په هواره ځمکه او غونډيو کې په زيات شمير ميوه دارې او بې ميوې ونې و کري، د سيمې پانګوال پکې ښکلي ښکلي هوټلونه جوړ او د سترو غرونو په منځ کې د بريښنايي موټرونو يا کيبل کار سستم منځته راوړي، پارکونه پکې جوړ کړي، د لوبو ډګرونه را منځته او کرار کرار د يوې توريستې سيمې ټول اړوند بنسټونه پکې پلي کړي.

البته د دې خبرې يادونه اړينه ده، چې نوموړی کار په يوه لنډه وخت کې شونی نه دی، خو د خلکو د اقتصادي وضعيت په ښه کيدو، د وخت په تيريدو، د سيمه ايزو خلکو، مشرانو او دولتي چارواکو په ګډې همکارۍ سره د يوه بريالي پلان له مخې نوموړی کار شونی دی.

په همدې توګه د ګوربت د منځنۍ برخې دواړو خواوو يعنې د ګلدرې او شنيز د درې خواوو ته د اوبو د بندونو د جوړولو ډير امکانات شته چې د لازمې پانګې، پخې ارادې او کلکو منډو ترڅو په وسيله د ګوربت اوبو ته بندونه جوړيدای شي او د سيمې په ښکلا، د کرنيزو ځمکو په خړوبولو او د سيمې په آبادۍ کې زرغون انقلاب رامنځته کولی شي. د ګوربت د ګلدرې خوا ته د اوبو زياتې سرچينې موجودې دي چې د کال په اوږدو کې تقريبا شپږ مياشتې اوبه بيکاره ځي او ضايع کيږي. د ګلدرې( پخواني کندکول) خوا ته دګوربت دوه ستر ناوونه غزيدلي چې يوه ته يې ميانه کوه او بل ته ستر تنګی ويل کيږي نوموړي دواړه ناوونه د ښايسته او سترو کاسو په درلودلو سره د دې وړتيا لري چې هلته په آسانه شرايطو سره د اوبو بندونه رامنځته شي خو په ميانکو کې نوموړې شونتيا نظر ستر تنګي ته ډيره زياته ليدل کيږي. په دې لړ کې د ملي پيوستون د پروګرام له پانګې څخه هم ګټه اخيستل کيدای شي.

په همدې توګه د وردګو د جغتو د ولسوالۍ د باريکاو او د هنې سيمو ته څيرمه غرونو کې هم د اوبو د بندونو جووړولو ښه شونتيا ليدل کيږي، چې د نوميالي انجنير صاحب محمد عارف رسولي د ډاکار د موسسې په مرسته دغه کار په دهنه کې کړی دی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ځای ځمکو ته یې یو بند جوړ کړی چې د وردګو خلک له ښاغلي انجنیر صاحب رسولي څخه د زړه له کومې مننه کوي. په یادوو شوو سیمو کې تر ژورې څیړنې او مطالعې وروسته هلته هم د کرنې د ځمکو د خړوبولو لپاره د اوبو بندونه رامنځته شي. همدارنګه د سید آباد د ولسوالۍ د آبدرې، تنګي او دایمرداد ولسوالۍ د تنګي سیدان په سیمو کې هم د بندونو د جوړولو پروسه پلې کیدای شي. د دې بندونو په رامنځته کیدو سره د سیمې د کرنې زیاتو ځمکو ته اوبه پیدا کیږي، د کاریزونو په اوبو مثبت اثر غورزوي او د سیمې په ښکلا کې زیاتوالی راولي. په همدې توګه د توریستي چارو لپاره هم سیمه د ځانګړې اهمیت وړ ګرزي چې د حکومت، چارواکو، موسسو او ټولو اړونده اړخونو پام ورته را اړوم.

## د جغتو د سلطان د بند سره څیرمه د تفریحي پارکونو جوړول

د جغتو د سلطان د بند ختیځ لوري ته د بند په خوا کې ښې ډیرې هوارې ځمکې او دښتې موجودې دي، چې د پراخو تفریحي پارکونو، بڼونو، میوه لرونکیو او زینتي ونو د ځنګلو د رامنځته کولو وړتیا لري. کیدای شي نوموړې سیمه د ښکلي بند او په دوبي کې د معتدلې هوا په درلودلو سره په یوه پراخه تفریحي او توریستي سیمه بدله او د سیل کوونکو پاملرنه ورته راجلب شي. البته د نوموړې سیمې لپاره د اوبو رسول که څه هم چې د بند له کاسې څخه لوړه ده او د دې شونتیا نه لیدل کیږي چې له بند څخه د ویالې د کیندلو په وسیله اوبه ورته برابرې شي، خو کیدای شي په داسې یوه نقطه کې څو لوی لوی حوضونه جوړ شي چې په هواره ځمکه حاکم وي او دښتې ته د اوبو د رسولو وړتیا ولري. یاد شوو حوضونو ته د یوه او څو ځواکمنو واټرپمپونو په وسیله اوبه د بند له کاسې څخه پمپ او بیا د حوضونو له اوبو څخه د پارکونو د چمنونو او بڼونو په خړوبولو کې کار واخیستل شي. په همدې توګه کیدای شي چې په دوبي کې د سیلانیانو لپاره په همدې ځای کې د لامبو حوضونه هم رامنځته شي. له نوموړو پارکونو او حوضونو څخه د ګټه اخیستونکو څخه د حکومتي چارواکو او اړوندو ادارو سره د تفاهم له لارې او د یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شفاف نظام له لارې کېدای شی چې د ټکټ په وسیله معین مقدار پیسې واخیستل شي، چې په هر کال کې به سیمې ته یو زیات مقدار پیسې د ګټې په توګه راځي. که چیرې نومورې ځمکې حکومتي وي او هغه څوک چې دا کار سر ته رسوي کیدای شي چې د حکومتي اړوندو ادارو سره د تفاهم له لارې یاد شوی سیستم جوړ کړي او بیا له دیرشو څخه تر څلویښتو کلونو پورې د نومړو پارکونو او تفریحي ځایونو ګټه تر لاسه کړي او له هغه وروسته پارکونه د حکومت په واک کې ورکړل شي. په همدې توګه که نومړې ځمکې د خلکو ملکیت وي، نو هغوی کولی شي چې له خپلو ځمکو څخه په یاد شوي ډول په خپله د یاد شوي سیستم له مخې استفاده وکړي. همدارنګه د دې کار شونتیا هم لیدل کیږي چې د پارکونو سره څیرمه د سیمې د شتمنو خلکو له خوا په ډیر عصري او پاک ډول مختلف دوکانونه، سوداګریزې هټۍ او هوټلونه رامنځته شي او د بند د اوبو د پاسه د سیلانیانود چکر وهلو لپاره د وړو بې خطره تفریحي کښتیو رامنځته کول هم په نظر کې ونیول شي، چې سیمه ایزو خلکو ته به هر کال په هغه موسم کې د زیاتې ګټې درلودونکې وي، چې په بند کې د اوبو سطحه لوړه وي. همدارنګه کیدای شي چې د پارک په یوه څنډه کې په سالمه توګه د کبانو د روزلو حوضونه او له بند څخه په سالمه او روا توګه د کبانو د ښکار کولو او د ځینو ځانګړو هوټلونو له لارې د کبانو د کباب کولو آسانتیاوې هم په نظر کې ونیول شي. په سیمه کې د دې او ورته کارونو تر سره کیدل به نومړې سیمه په هیواد کې ډیره مشهوره او د کورنیو او بهرنیو سیلانیانو بهیر به ورته را مات شي چې په مشهورتیا سر بیره به یې د سیمې خلک زیاتې اقتصادي ګټې په لاس راوړي، د کار کولو زیات فرصتونه به پیدا او د سیمې زیاتره ځوانان به اړ نه وي چې نورو ځایونو ته د کار کولو لپاره ولاړ شي. په همدې توګه د دې ګامونو په پورته کولو سره د دې شونتیا هم لیدل کیږي چې د سیمې کرنیز توکي او میوې لکه منې، زردالو او داسې نور د خرڅلاو مارکیټ ته د سیلانیانو د لیدلو په وسیله غوره لاره و مومي. چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول ځیزونه د سیمې د کلتور د پیاوړتیا، ټولنیزو ارزښتونو د پېژندلو او اقتصادي ودې د پراختیا په لاره کې لوی لاس درلودلی شي.

## د کلتوري هڅو پراخوالی

ادب او کلتور له هغه بنسټ څخه عبارت دی، چې د یوې ټولنې نوم ژوندی ساتلی شي او پخپلو اصیلو آرونو سره یې د پرمختګ له کاروان سره ګام په ګام مخ پر وړاندې بیایي. په دې هکله ما مخکې هم یوه لیکنه کړې چې د ځینو پښتو بریښنایي پاڼو له لارې خپره شوې هم ده او د دې خبره یادونه بیا هم اړینه ګڼم هغه ټولنه او یا هیواد چې خپل کلتوري او فرهنګي آرونه فعال و نه ساتي د تلپاتې او فعالو ټولنو په ډله کې نه حسابیږي، بلکې غوره خبره دا ده چې د یوې ټولنې فرهنګي ستې د خپل کلتور، ادب، تاریخ او ټولنیزو ارزښتونو په اړه پراخې څېړنې او مطالعه وکړي. یاد شوي بنسټونه غښتلي او د لا ځواکمنتیا لپاره یې جوت ګامونه پورته کړي.

په دې هکله په ټولنه کې تر ټولو لوی رسالت او مسئوولیت د نوموړې ټولنې د پوهانو، روحانیونو، لیکوالانو، شاعرانو، ادیبانو او ټولنیزو شخصیتونو ته متوجه دی، چې په خپلو لیکنو، ښه نیت او هراړخیزو هڅو سره د پوهې، کلتور، او ادب ډګرونه تاوده و ساتي. له نیکمرغه چې په دې وروستیو کې د وردګو فرهنګپالو خلکو د ژوند دې اساسي بنسټ ته په ځانګړې پاملرنې سره یو لړ فرهنګي فعالیتونو ته لاس اچولی دی چې د لا ځواکمنتیا او غښتلي توب تمه یې کیږي. په دې لړ کې د ادبي بهیرونو، علمي سمینارونو او غونډو جوړول، د کتاب د لړۍ د چاپ او ژباړې ته ځانګړې پاملرنه، د سیمې د تاریخي ارزښتونو لیکنه، د سیمې د نوماندو او نومیالیو شخصیتونو تقدیرول، د سیمه ایزو خپرونو نشرول او داسې نور کارونه که څه هم چې تر دې مهاله په ابتدایي شکل کې دي خو د زیات ارزښت او تقدیر وړ دي.

د وردګو په سیمه کې د ځوانانو او فرهنګپالو له خوا ورته کارونه د ادبي کاروان په سمسور بڼ کې د غوړیدلیو ګلونو په څیر ښکاري، چې ښې پالنې او روزنې ته یې د ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړوندو اړخونو او د وردګو د نوماندو شخصيتونو او علمي ستږو ځانګړې پاملرنه را اړوم.
باید وويل شي چې تر اوسه پورې د وردګو د سيمې د علمي کړيو له خوا تر سره شوي دي چې حليمي صاحب يې د فرهنګی برخې په ترڅ کې يو شمېر ته اشاره کړې ده نو ځکه يې له تکرار څخه دلته ډډه کوم.

بايد وويل شي سره لدې چې ذکر شوي کارونه په دې لاره کې د قدر او اهميت وړ دي، خو د سيمې د پوهنيزو او کلتوري تندې لپاره ناکافي او يوازې د کار پيل ګڼل کيدای شي، چې لا پراخوالي او غوړيدو ته اړتيا لري.

**د چک د بريښنا د فابريکې اساسي بيا رغونه**

لکه څنګه چې ګران لوستونکي او د انساني ټولنې زياته برخه پدې ښه پوهيږي، چې بريښنا د نوي ژوند او نوي پرمختګ د ماشين د چلولو دنده پر غاړه لري او تر ټولو ښه ځواک ګڼل کيږي. په همدې توګه بريښنا د ژوند ښکلاوو ته سمون او داسې پرمختګ وربښي چې د پرمختللو او عصري ټولنو له کاروان سره يې يو ځای کوي. بايد وويل شي چې د نړۍ د پرمختلليو هيوادونو د ژوند پرمختګ زياتره د بريښنايي ځواک پر متږ ولاړ دی. د افغانستان وګړي هم د بريښنا د نعمت له توليد او رامنځته کيدو سره زياته مينه لري او غواړي چې د بريښنايي ځواک په وسيله د خپل ژوند د پرمختګ چارو ته سمون ورکړي.
د وردګو ولايت د چک فابريکه په ۱۹۴۰ ميلادي کال د جرمني د زيمينس د کمپنۍ په تخنيکي مرسته د نوموړي ولايت د چک په ولسوالۍ کې جوړه شوه توليدي ظرفيت يې ۱۱ ميګاواټه بريښنا دی چې د هيواد د لومړي کتار بريښنايي فابريکو څخه ګڼل کيږي. د کورنۍ جګړې د پيل څخه د مخه د نوموړې فابريکې بريښنا کابل ته ليږدول کيده او د وردګو يوازې څو هغو محدودو کليو ته له نوموړې فابريکې څخه بريښنا ورکړل شوې وه چې فابريکې ته څيرمه او په نږدې واټن کې واقع وو.
د کورنيو جګړو په کلونو کې د هيواد د نورو زيربنايي بنسټونو په څير نوموړې فابريکې ته هم تخنيکي او هراړخيز زيانونه هرو مرو رسيدلي او له سالمې پالنې څخه بې برخې وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په عمومي توګه روغه پاتې شوې چې د هغه یو علت د فابریکې په اړه د سیمې د خلکو او مشرانو ځانګړې پاملرنه ګڼلی شو چې د چور او تالان له لاسونو یې و ژغورله.

نوموړې فابریکه درې توربینه لري چې په اوسنې وخت کې ددې فابریکې له دریو توربینونو څخه یوازې یو توربین روغ او د کار کولو جوګه دی دوهم توربین یې زیاتې ستونزې لري او کله کله خو د کار کولو وړتیا له لاسه ورکړي، خو دریم توربین یې بیخي له کاره لویدلی او د جرمني ماهرانو د څرګندولو سره سم یې باید پر ځای بل توربین نصب شي.

د نوموړې فابریکې کانال له خړو ډک او پاکولو ته سخته اړتیا لري. سره لدې د ۱۳۸۴ هجري لمریز کال د چنګاښ په میاشت کې د جرمني د هیواد د GTZ او THW مرستندویو مؤسسو د هغه د کانال د پاکولو په کار پیل وکړ او پروګرام یې درلود چې د هغه د کانال د پاکولو څخه به وروسته د نوموړې فابریکې په تخنیکي او فزیکي بیارغونه پیل کوي، خو د نا څرګندو دلایلو او ځینو سیمه ایزو خلکو د بیځایه شکایت له کبله د انرژۍ او بریښنا د وزارت له خوا یې د بیا رغونې کارونه و تړل شول او نوموړې مؤسسې یې له سیمې څخه وتلو ته اړ کړې.

ضرروي ده چې نوموړې فابریکه په سم او اساسي ډول بیا ورغول شي او د هغه بریښنا د وردګو ټولې سیمې ته ورکړل شي، چې نوموړی کار د خلکو په ژوند کې لوی مثبت بدلون رامنځته کولی شي. په همدې توګه د نوموړې فابریکې له تولیدي بریښنا څخه د وردګو ښار، د وردګو پوهنتون، صنعتي ښارګوټي او تفریحي ځایونو ته باید بریښنا و لیږدول شي او د یوه عصري انقلاب په کرښه سم شي.

## صنعتي او سوداګریزو چارو ته وده ورکول

سوداګریزو او صنعتي چارو ته مخه کول د انسانانو د ژوند لوری په مثبته لاره سموي او د نړۍ په زیاتو هیوادونو کې تجربه شوي ده چې د بل هر کسب په انډول د سوداګریز او صنعتي چارو خاوندان د ښه ژوند او غوره راتلونکي څخه برخمن وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو په دې توګه وړانديز کيږي چې د وردګو اوسيدونکي د بل هر چاپه پرتله او له بل هر کسب څخه سوداګريزو او صنعتي چارو ته مخه کړي او په هغه کې فعاله ونډه واخلي. له يوې خوا به يې د خپل ژوند بهير ته د ښکلا او بډايني رنګ ورکړی وي او له بلې خوا به يې د هيواد د اقتصاد د بيا رغونې په چارو کې لويه ونډه درلودلې وي. د وردګو سيمه د سوداګريزو او صنعتي چارو لپاره يوه غوره سيمه ده چې د هيواد د دوو لويو ښارونو غزني او کابل په منځ کې واقع ده، د لوګر د پل علم او ګرديز ښارونه هم په نږدې واټن کې ورته پراته دي چې په ډير کم وخت کې له نوموړو ښارونو څخه د اړتيا وړ خام مواد نوموړې سيمې ته ليږديدی شي. په همدې توګه صنعتي او سوداګريزې چارې د سيمې خلکو ته د دې وړتيا ور په برخه کولی شي چې د نړۍ له بيلابيلو پرمختللو کمپنيو سره اړيکې ټينګې، د خپل فکر دايره پراخه او د نوې تکنالوجۍ په وسيله سيمې ته په ملي او نړيواله کچه د پانګې اچولو زمينه برابره کړي. په همدې توګه بايد وويل شي چې د وردګو خلک له دې کبله بايد د سوداګريزو او صنعتي چارو ته مخه کړي چې د خپل ژوند د سمون لپاره بله داسې مناسبه چاره نه لري چې زموږ خلک خپل ژوند ته پرې هر اړخيز سمون ورکړي. ځکه چې په سيمه کې د کرنې ځمکې ډيرې کمې او په زياتره ځايونو کې بيا د کرنې او حتی د څښاک د اوبو کمی محسوس کيږي. په دې اړه ما د خپلې ليکنې په لومړيو برخو کې هم يادونه کړې ده چې بيا تکرار ته يې اړتيا نه شته خو د يوې خبرې يادونه اړينه ده هغه دا چې د سوداګريزو او صنعتي چارو په منځته راوستلو او غوړيدو کې د لومړي ګام په توګه د هيواد د ننه او بهر د سيمې پانګوال غوره رول ترسره کولای شي.

**د ناوړه سيمه ايزو رواجونو اصلاح او سمون**

رواجونه د يوې ټولنې د وګړو د ژوند سره سم څنګ په څنګ پر مخ درومي چې د نوموړې ټولنې د کلتور يوه بنسټيزه برخه يې ګڼلی شو. ځينې يې په طبيعي توګه د ملت د وګړو په منځ کې موجود وي، خو ځينې نور بيا د وخت د اړتياوو او غوښتنو سره سم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنې د وګړو ژوند ته د ورتګ لاره مومي. رواجونه، دودونه او عنعنات په دوه ډوله ویشل کیدای شي چې ښه او بد رواجونه یې ګڼلی شو.
ښه دودونه له هغو رواجونو څخه عبارت دي چې د یوې ټولنې د ژوندون له دیني، ملي، اخلاقي او ټولنیزو ارزښتونو سره اړخ لګوي او د نوموړې ټولنې د پرمختګ سبب کیږي.
خو ناوړه رواجونه او د سیمه ایزو خلکو له خوا د هغه پالنه د ټولنې د وګړو له دیني، ملي، اخلاقي او ټولنیزو ارزښتونو سره اړخ نه لګوي، بلکي په ټولنه کې د هغه موجودیت، پالنه او پراختیا د ټولنې د پرمختګ لارې تړي او خلک یې له یو زیات شمیر ستونزو سره مخ کوي. په همدې توګه پالنه یې ښه کار نه بلکي یو عار او ننګ ګڼل کیږي.
د وردګو په سیمه کې هم د یو لړ ښکلیو او مثبتو رواجونو تر څنګ یو لړ منفي او ناوړه رواجونو په اوسني وخت کې د خلکو په ژوند پنجې خښې کړې دي، چې د سیمې د خلکو د پرمختګ د لارې لوی خنډ او د هغوی ژوند یې له سترو سترو ګواښونو سره مخ کړی دی. د دې منفي رواجونو په منځ کې یو د خپلو لورانو پلورل او په نجلۍ باندې له مقابل طرف څخه د حد نه زیات ولور اخیستل ګڼل کیږي چې د وردګو د ځوانو هلکانو او ځوانو نجونو ژوند یې له یوه ستر ګواښ او لویو ستونزو سره مخ کړی دی. نوموړی رواج په داسې وخت کې زور مومي چې له بل هر وخت څخه خلک زیات د اسلام د مبارک دین په اړه معلومات او داسې عقیده لري چې د خپلې خور او لور ولور اخیستل د هغه د پلار، ورور. کاکا او کورنۍ لپاره ناروا دی، بلکي د اسلام د مبارک دین د بنسټیزو اساساتو له مخې مناسب او معقول مهر د نجلۍ شرعي حق دی چې په باید په بشپړه توګه د هغه په واک کې ورکړ شي. باید وویل شي چې نوموړی رواج د ورځې په تیریدو سره لا پراخوالی مومي او د پلرونو او د کورنۍ د سرپرست مشرانو سره دا روحیه نوره هم غښتلي کیږي چې خپل اولادونه په لوړه بیه خرڅ کړي. په نجلۍ باندې د لوی ولور اخیستلو رواج په ټولنه کې د کورنیو تر منځ د یو زیات شمیر بدیو، شخړو او ناوړه تربګنیو پیدا کیدو ته لاره هواره کړې ده او د هغو کورنیو تر منځ پرې همیشنی زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدوالی رامنځته کیږي چې پخپل منځ کې په اصطلاح دوستي سره کوي. یو بل تاوان یې دا دی چې په ولور باندې خرڅه شوې نجلۍ د خپلې کوژدې وروسته مجبوره وي چې تر هغه مهال پورې څو کلونه د خپل پلار په کور کښېنې چې خاوند یې له ایران، عربي هیوادونو او یا له بل ځای څخه د سختې مزدورۍ په وسیله د ولور پیسې را پیدا او یا یې له چا څخه قرض کړي چې بیا وروسته نه له خاوند او نه له میرمنې سره د یوه خواره او نیکمرغه ژوند د سر ته رسولو شونتیا پاتې کیږي.

یو بل بد رواج په بدل سره د نجونو ودول دي چې په وردګو کې یې په لویه پیمانه ځای نیولی چې نوموړی کار د اسلام د مبارک دین او بشري حقوقو له مخې یو ناوړه دود ګڼل شوی ځکه چې په دې صورت کې نجلی د هر راز حقوقو څخه محرومه پاتې کیږي بلکې عاجزه، بې ژبې او کمزورې نجلۍ یوازې د خپل ورور د هوس او خوشحالۍ قرباني کیږي. بل لوی تاوان یې دا دی چې که د دې ډول یوې واده شوې نجلۍ ته د هغه د ګناه او تیروتنې په مقابل کې د خپل خاوند، لیوره، خاښې، خسر او یا د کورنۍ د نورو غړو له خوا څه ویل کیږي نو مقابل طرف هم په خپل کور کې پرته له کومې تیروتنې بالمثل تاوان په خپل کور کې هغه نجلۍ ته رسوي چې د دوی د خور او یا لور په مقابل کې ور واده شوې او هیڅ راز ګناه یې نه ده کړې. په همدې توګه د بدل د واده نجلۍ له هغه مناسب رواجي پوښ، کالیو او د کور له فرش اوظرف د لاسته راړولو څخه هم زیاتره وخت محرومه پاتې کیږي، چې نجلۍ یې د خپل ژوند په اوږدو کې یوازې د ناوې کیدو پر مهال لاس ته راوړي. ځکه د بدل د واده ځینې کورنۍ دا توافق سره کوي چې هر څه ځان پر ځان چې په دې صورت کې یوه کورنۍ هم د خپلې خور او یا لور لپاره هغسې شیزونه نه رانیسي چې په د ولور په وسیله یې د واده کولو په صورت کې لاسته راوړلای شي. نوموړی کار په خپلو د خپلو اولادونو په وړاندې د یوه ټولنیز ظلم په وسیله سر راپورته کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې توګه یو لړ نور منفي رواجونه هم زموږ د خلکو په منځ کې وجود لري لکه په سیالۍ سره د خیراتونو کول، د مړي د کور له خوا په لومړۍ ورځ خیرات کول په داسې حال کې چې د اسلام مبارک دین د دریو ورځو لپاره د مړي د کور خواړه حرام ګڼلي دي، بلکې باید نور مسلمانان هغه کورنۍ ته چې مړی پکې شوی د خپلې اسلامي ورورګلوۍ له مخې او د خپل وس سره سم درې شپې او ورځې خواړه ورکړي.

باید وویل شي چې اوس مهال د وردګو سیمه او خلک د نسبي زده کړو څخه برخمن دي او د هیواد په کچه یې شاید د زده کړو ګراف په لومړۍ کرښه کې واقع وي، نو د دې ټولو سره سره چې زموږ د سیمې د خلکو ښوونیزه کچه په نسبي توګه لوړه او د یوزیات شمیر دیني علماوو، ماسترانو او ډاکترانو ټاټوبی ګڼل کیږي بیا نو څه دي چې په دې سیمه کې داسې لویو لویو او ناوړه ستونزو ځای نیولی دی؟ آیا د دې کار شونتیا شته ده چې نوموړو ستونزو ته د حل لاره پیدا او د خپل خلکو ژوند له دغه راز تهدیدونو څخه و ژغورو؟

د نوموړې پوښتنې ځواب دا دی چې هو.د دې ستونزو او ناوړه رواجونو د له منځه وړلو لپاره یوه عملي پلان او تګلارې ته اړتیا شته چې د خپلو دیني بنسټونو له مخې د علماوو، پوهانو او قومي مشرانو د شورى له لارې ورته د حل لاره پیدا او په غوره رواجونو یې بدل کاندي. نوموړو ستونزو ته د حل لاره یوازې له همدې لارې ممکنه ده. که مو د لوی خدای ج په مرسته او د خپلو پتمنو وګړو د هراړخیزې همکارۍ په ترڅ کې نوموړو ستونزو ته د حل لاره پیدا کړه نو هله به په دې توانیدلي وو چې د رینښتني پرمختګ اساسي پړاوونه په بریالیتوب سره ووهو او د خپلو راتلونکو نسلونو لپاره د روښانه ژوند لاره په نښه کړو.

**د وردګو تلویزیون جوړول:**

خبري رسنۍ او بیا په ځانګړي توګه تلویزیون د خلکو په ژوند کې زیات بدلون راوستلای شي چې خپل رغنده او روزنیز پروګرامونه په موثره توګه د خلکو اذهانو ته ورسوي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطبوعاتو د آزادۍ د اوسني بهير څخه په استفادې سره وردګ هم کولای شي چې يوه تلويزيوني شبکه رامنځته کړي او په دې لړ کې د خصوصي سکتور څخه غوښتنه وکړي چې دغه کار وکړي. که چيرې په سيمه کې ستونزې وي نو د لومړي ګام په توګه کيدای شي دغه کار د هيواد په پلازمينه کابل کې صورت و مومي او د حالاتو له سميدو سره سيمې ته وليږدول شي. د تلويزيوني شبکې جوړيدل هيڅ ضرر نه لري بلکي ډير زر د خپل فعاليت په سبب هغه پانګه ګټلای شي چې د تلويزيون په جوړولو لګيدلې ده. له بلې خوا تلويزيوني شبکه زمونږ د ژبې د ځواکمنتيا او کلتوري آرونو د پيژندلو او د خلکو د رزولو لپاره ډيره مهمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اخځلیکونه:


1. حبيبي، عبدالحی، نظری بر ادبيات پشتو، مترجم سمندر، مهتمم عبدالکريم پتنګ، پوهنځي ادبيات و علوم بشری. ۱۳۵۷ کال، ۳ مخ.
2. پټه خزانه، محمد هوتک بن داود په کال ۱۱۴۱ – ۱۱۴۲ هجري قمري کال په کندهار کې تاليف شوې ده، دوهم چاپ ۱۳۳۹ هجري شمسي، د پوهنې وزارت د دارالتاليف رياست، ۴ مخ.
3. ياد طالبي، محقق ډاکتر عبدالطيف، پښتني قبيلې. دانش خپرندويه خپرونه، کال ۱۳۸۵، د ليکوال سريزه د ش پاڼه.
4. تاريخ مرصع، تاليف د افضل خان خټک. مقابله، تصحيح او نوټونه له دوست محمد خان کامل مومند، يونيورستي بک ايجنسي – پيښور. ۱۳۷۲ مخ.
5. محمد حيات خان، حيات افغاني، ژباړونکی محقق فرهاد ظريفي او محقق عبدالطيف ياد طالبي، سريزه، تحشيه او تعليقات د اکاډميسين عبدالشکور رشاد. د دانش خپرندويه ټولنه، دويم چاپ، ۱۳۸۶ کال. ۳۲۱ مخ.
6. ياد طالبي، محقق ډاکتر عبدالطيف، پښتني قبيلې. دانش خپرندويه خپرونه، کال ۱۳۸۵، ۲۱۱ مخ.
7. روند مياخيل ،پوهنوال محمد عمر ،دپښتنو قبيلو شجرې او مېنې .۲۴۶ مخ .
8. پښتني قبيلې، ۲۱۲ مخ.
9. تواريخ خورشيد جهان ،مصنف شير محمد خان مرحوم ګنداپور ابراهيم زی، با اهتمام عبدلقيوم و حاجي سيد الرحمن. سنه ۱۳۱۸ هجری.۲۳۷ مخ.
10. حيات افغاني ۳۲۳ مخ.
11. ظفر کاکا خيل، سيد بهادر شاه، پښتانه د تاريخ په رڼا کې، يونيورستي بک ايجنسي خيبر بازار پيښور. د افغانستان د علومو اکاډمۍ د کتابتون نسخه. ۱۳۷۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



12. پښتني قبیلې ۲۱۳.
13. پښتني قبیلې ۸۹.
14. یمین، پوهاند محمد حسین، افغانستان تاریخي، انتشارات کتاب، سال ۱۳۸۶ هجري لمریز کال، ۲۵۸ مخ.
15. باوري، پوهنوال رسول، د سلام فرهنګي ټولنې انټرنټي بریښناپاڼه.
16. کهزاد ،احمد علي، تاریخ افغانستان، لومړی ټوک، 254 مخ.
17. د هیواد لرغوني ښارونه او د تاریخ پاڼې دوهم ټوک لیکوال پوهاند رازقي نړیوال، میوند خپرندویه ټولنه کابل. ۲۳۹ مخ.
18. پورتنی اثر ۲۴۰.
19. د آریانا موقعیت او د آریاییانو ځینې جغرافیایي سیمې، څیړونکی ګل جان ورور وردګ د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ختیځ بیارغونې یا کور د خپرونو ځانګه، 1381 کال، 39 مخ .
20. پورتنی اثر 45 مخ.
21. کهزاد احمد علي ، آریانا، دوهم چاپ، انتشارات امیری، ۱۳۸۶ کال. ۹۹ مخ.
22. سلام انټرنیټي ویپ پاڼه د استاد رسول باوری لیکنه.
23. پورتنۍ اخځلیک.
24. پورتنۍ اخځلیک.
25. سلام فرهنګي ویب پاڼه http://www.salaamtolana.org/.
26. غبار، میر غلام محمد، جغرافیای تاریخي افغانستان، 1378 کال، 59 مخ.
27. د افغانستان جغرافیایي قاموس، د آریانا دایرة المعارف ټولنه، د افغانستان د علومو اکاډمۍ، شپږم ټوک، 159 مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



28. روند ،مياخيل ،پوهنوال محمد عمر ،دپښتنو قبيلو شجرې او مېنې .146 مخ .

29. مرحوم قاضی عطا الله خان ، دپښتنو تاريخ لومړی ټوک ،خپرونکی، حربي پوهنتون، کابل، افغانستان ، د 1356 کال د زمری 15 نيټه ، 15 مخ .

30. تواريخ خورشيد جهان ،مرحوم ګنداپورابراهيم زی با اهتمام عبدلقيوم و حاجي سيد الرحمن، 276 مخ .

31. تاريخ مرصع، تاليف د افضل خان خټک. مقابله، تصحيح او نوټونه له دوست محمد خان کامل مومند، يونيورستي بک ايجنسي – پيښور. ۶۲۳ مخ.

32. مخزن افغاني، تاليف آخوند درويزه سال تاليف ۱۰۷۳.

33. مخزن افغاني در باب نسب نامه افغانان در سال ۱۱۱۳ هجري نوشته شد.

34. محمد حيات خان، حيات افغاني، ژباړونکی محقق فرهاد ظريفي او محقق عبدالطيف ياد طلبي، سريزه، تحشيه او تعليقات د اکاډميسين عبدالشکور رشاد. دانش خپرندويه ټولنه، دويم چاپ، ۱۳۸۶ کال ص ۴۳۷ مخ.

35. غبار، ميرغلام محمد، افغانستان در مسير تاريخ جلد اول و دوم، مرکز نشراتي ميوند تاريخ چاپ ۱۳۸۰ هجري شمسي، ص ۱۰۵.

36. تواريخ خورشيد جهان ،مرحوم ګنداپورابراهيم زی با اهتمام عبدلقيوم و حاجي سيد الرحمن، مخ.

37. ترې، پوهاند ډاکتر حبيب الله، پښتانه،د دانش خپرندويه ټولنه، دويم چاپ د ۱۳۸۲ کال د وري مياشت. ۲۸ مخ.

38. د کابل سلطنت بيان دويم ټوک ليکونکی مونټ سټوارټ الفنسټن، ژباړونکی پوهنوال ډاکتر محمد حسن کاکړ، د پښتو څيړنو بين المللی مرکز د افغانستان د علومو اکاډيمي. ۱۳۶۱ هجري لمريز کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



39. د کابل مجله، د پښتو ټولنې میاشتینۍ خپرونه. پرله پسې 476 ګڼه د 1338 کال د کابل مجلې کلکسیون. د ښاغلي وجدي صاحب مقاله.
40. د ښاغلی ګل آغا احمدي وردګ په مټ د غازي محمد جان خان د ټولنې د ۱۳۸۶ هجري لمريز کال د کوچني اختر د د دوهمې ورځې د غونډې برابر شوی راپور. د محترم انجینر عبدالرحیم وینا.
41. پښتني قبیلې ۲۷۹ مخ.
42. د ښاغلی عبدالودد پښتونځار انټرنیټي ویبلوګ http://www.pashtoonzar.blogfa.com
43. ملی هدف فوق العاده ګڼه د وردګ ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست خپرونې ارګان د ۱۳۸۴ هجري لمریز کال دوړي میاشت د ۲۰۰۵ میلادي کال سپتمبر، ۳۲ مخ.
44. عارض، پوهاند غلام جیلاني، ژباړونکی اورنګ زیب، د افغانستان د ولایتونو جغرافیه، د اریک ګرځنده کتابتونونو اداره، 1379 کال.
45. اتلس قریه های افغانستان، پروژه مطالعات دیموګرافي اداره مرکزي احصاییه صدارت اعظمی حوت، ۱۳۵۳ کابل ص ۲۲.
46. د ۱۳۸۴ کال احصاییوي کالنامه.
47. عارض ،پوهاند غلام جیلاني ،ژباړونکی اورنګ زیب ،دافغانستان د ولایتونو جغرافیه ،داریک ګرځنده کتابتونونو اداره ،1379 کال ،21 مخ .
48. پورتنی اثر څلویښتم مخ.
49. ځلانده راتلونکی، د وردګو ولایت د بیارغونې د بهیر څو اړخونه، د وردګو ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست. ۶۵-۶۴مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



50. یمین، پوهاند محمد حسین، افغانستان تاریخي، انتشارات کتاب، سال ۱۳۸۶ هجري لمریز کال ۱۷۴ – ۱۷۵ مخونه.
51. پورتنی اثر ۲۵۹ مخ.
52. پورتنی اثر ۲۶۰ مخ.
53. انترنیت(پته یې راڅخه لادرکه شوی ده).
54. عزیزي، سرمحقق نظر محمد عزیزي، باز شناخت از کتیبه های مکشوفه افغانستان،بنګاه انتشارات میوند، کابل ۱۳۸۵ خورشیدي، ص ۱۶۵.
55. تاریخ خط و نوشته های کهن افغانستان تالیف پوهاند علامه حبیبي ،نشر انجمن تاریخ و ادب افغانستان ، اکادمي علوم افغانستان کابل ، 1350 ، 26 مخ .
56. کوشانیان (مجموعه مقالات هشتمین سمینار بین المللی )،اداره کتابخانه اریک طبع اول ،1383 مقاله محقق نادر رسولي.
57. د افغانستان جغرافیایي قاموس ، 69 مخ.
58. ملی هدف فوق العاده ګنه ، د وردګ ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست خپرونیز ارګان د 1385 هجري شمسي د وري میاشت د 2006 کال اپریل د ښاغلي پښتونځار لیکنه .
59. ملي هدف فوق العاده ګڼه د وردګ ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ زیاست خپرونیز ارګان د ۱۳۸۴ هجري لمریز کال دوری میاشت د ۲۰۰۵ میلادي کال سپتمبر ، 56 مخ د وردګو ولایت کاري ګزارش 1384.
60. د وردګو ولایت د مطبوعاتي دفتر د ۱۳/۱۱/۱۳۸۶ نیټې راپور.
61. د معارف مجلې د ۱۳۸۶ کال په وروستۍ ګڼه کې چې د هیواد په ټولو ولایتونو کې د دغه وزارت کارکړنو او ګزارش ته ځانګړې شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



62. مومنی، پوهاند عبدالحی تاریخچه طبابت و فارمسي و سیرتکاملي آن در افغانستان اکادمي علوم افغانستان 1384 کال 217 مخ .

63. ملی هدف فوق العاده ګڼه د وردګ ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ زیاست خپرونیز ارګان د ۱۳۸۴ هجري لمریز کال دوږي میاشت د ۲۰۰۵ میلادي کال سپتمبر ، 56 مخ د وردګو ولایت کاري ګزارش 1384

64. Afghanistan media landscape 2004

65. د همت الله امین زي انترنیتي ویبلوګ.

66. د وردګو د ولایت کلتوري یون په هکله لیکل شوی راپور، د ګل آغا احمدي وردګ ترتیب او لیکنه.

67. د وردګو ولایت د حسن بیک، تنګي، نیم پایکول، شنیز د سیمو له سپین ږیرو او مشرانو څخه د پوښتنو ګرویږونو څخه راټول شوی معلومات.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وردګو ته ډالۍ

د وردګو له کوهسار شم صـــــدقه – ګل یې څه چې له هر خار شم صدقه
له هر ګل یې د منو لوګی لوګی شم – لـــــه کاریز د یخ سالار شم صدقه
چې مې مینه د زړګي پرې تازه کیږي – لـــــه ګوربته په څو وار شم صدقه
سپینه واوره یې د ژمي ننداره کـــړي – د غـــــــاټولو له بهار شم صدقه
ښـــکلی کړی یې ګلونو پسرلی دی – د رنګـــــــونو له مالیار شم صدقه
چې د مښکو الهامونه ورته ناځـــــي – د شین شوبو لـــــه ګلزار شم صدقه
پرګنې د میړنو دلته اوسیـــــــږي – لـــــــه پړونو له دستار شم صدقه
همتـــــــونو یې زرین تاریخ لیکلي – له دې خوی او له کردار شم صدقه
د غازي بابا مصری توره مو ویاړ ده – لـــــه کاروان یې د ایثار شم صدقه
چې هیواد ته یې غازیان دي ډالۍ کړي – لـــــه وردګـــو سل هزار شم صدقه
چې د پوهې پـــــه زرینه لاره درومي – اې وردګـــه! ستا له لار شم صدقه
زما د پلار نیکه مسکن دی پرې نازیږم – زه د ښکلو له دې ښار شـــم صدقه
خپل هیواد ته چې خدمت کاندی ریښتنی– پر ما ګران له داسې یار شم صدقه
حلیمي راځه چې خپل کلي ته ولاړ شو
حسن بیک غونــــدې دیار شم صدقه

محمد حامد حلیمي
۲۸/۷/۱۳۸۷ نوی ښار – کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



څېړنيار محمد حامد حليمي د مبارک شاه خان حليمي زوی د ۱۳۶۰ هجری لمريز کال د سلواغې په مياشت کې د کابل په ښار کې زيږيدلی دی. پلارنی ټاټوبی یې د وردګو ولايت د سيد آباد د حسن بيک کلی دی. لومړنی او ثانوی زدکړې يې د حضرت ابراهيم خليل الله په عالي ليسه کې بشپړې کړې او په ۱۳۷۷ کال کې له نوموړی لېسې څخه په اعلی درجه فارغ شوی، چې د همدغه کال د کانکور د آزموينې له لارې د کابل پوهنتون د فارمسی پوهنځي ته بريالی شوی دی. په ۱۳۸۱ هجري لمريز کال کې يې له نوموړی پوهنځی څخه د لسانس سند ترلاس کړ. د ۱۳۸۳ هجري لمريز کال د لړم د مياشتې په دولسمه نيټه يې د کادری آزموينې له بشپړولو څخه وروسته د افغانستان د علومو اکاډمی د علمي غړيتوب وياړ ترلاسه کړ. د ۱۳۸۷ لمريز کال د ليندی په اتمه نيټه يې د ځينې ستونزو له امله په علومو اکاډمی کې له دندې څخه استعفأ ورکړه او اوسمهال په يو نادولتي دفتر کې کار کوی. نوموړی په پښتو، دری او انګريزی ژبو پوهيږي. تر دې مهاله يې په لس ګونو علمي، څېړنيزې مقالې، هراړخيزمطالب، شعرونه او مرکې د هيواد د مطبوعاتو او بيلابيلو انترنيتی ويب پاڼو له لارې خپاره شوي دي. نوموړي همدارنګه په ګڼو څېړنيزو کنفرانسونو او سيمينارونو او يوه نړيوال سيمينار کې برخه اخيستي او خپلې مقالې يې اوروليې دي.

حليمي د وردګو د کلتوری يون د ۱۳۸۷ کال د غوره ليکوال او څېړونکی جايزه هم ګټلې ده.

**آثار**

۱ – د بنستيزو درملو څېړنه ۱۳۸۵ کال چاپ

۲ – د نسخې ليکنې لارې چارې ۱۳۸۷ کال چاپ

۳ – غلام صديق مخترع د مطبوعاتو په هنداره کې ۱۳۸۷ کال چاپ

۴ – وردګ(قوم، سيمه او کلتور) همدا اثر

۵ – فارمسيوتيک(پوډرونه، تابليت جوړول او کوتينګ) ترچاپ لاندې

۶ – له اغزو څخه غاټول د شعرونه ټولګه

۷ – د ګناه پيژندنه (ژباړه)

۸ – په ساده ژبه د روغتيا ساتنې زده کړه

۹ – د درملو ترل او ترونی

او په لس ګونو نورې علمي څېړنيزې مقالې ليکلې دي چې موږ له لوی خدايه په دې لاره کې نوموړي ته نور برې غواړو.

ګل آغا احمدی وردګ

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**